جمعية خدمة المحتوى
الإسلامي باللغات

پښتو بشتو

منهج الصف الخامس الأبتدائي التوحيد والفقه

# درس نصاب الحديث

## پنځمه سویه



ح جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات ، ١٤٤٧ هـ

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات

منهج الصف الخامس ابتدائي التوحيد والفقه - بشتو. / جمعية

خدمة المحتوى الإسلامي باللغات - ط ١. - الرياض ، ١٤٤٧ هـ

٢١٦ ص ؛ ..سم

رقم الإيداع: ١٤٤٧/ ١٧٩٧٤

ردمك: ٨ - ٢٣١-٥١٧-٦٠٣-٩٧٨

## لنـډه کتنـه

دا علمي مضمون په سعودي عربستان کې د زده کوونکو لپاره مختصر شوی تعلیمي نصاب دی چې په بېلابېلو سویو ویشل شوی، سربېره پر دې دا یو مضمون دی چې د توحید زده کړې تدریس ته ځانګړی شوی او په دولسو مرحلو (سویو) ویشل کیږي.
له خورا اړینو موضوعاتو څخه چې په پنځمه سویه کې راغلي ځینې موضوعات په لاندې ډول

## د کامیابۍ د اسبابو تشریح چې په العصر سورت کې یوځای ذکر شوي دي چې عبارت دي له

علم، په علم عمل کول، علم ته بلنه ورکول او پدې (لارکې) په ضرر صبر کول

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیروۍ وجوب او له شرک څخه لرې والی

## د هغو درې ګونو اصولو بیانول چې پیژندل او عمل کول پرې واجب دي، او هغه دا دی

بنده لره خپل رب په نښانو او مخلوقاتو سره پیژندل او دا چې هغه یوازې د عبادت مستحق دی. او اسلام له درې ګونو مرتبو سره پیژندل چې هغه (اسلام، ایمان او احسان دي) او دا چې هره مرتبه ځانته ارکان او دلایل لري. او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیژندنه او د هغه د رسالت بشپړوالی او عمومیت.

# پنځمه سویه

## سریزه

الحمدُلله الذي عَلَّم بِالقَلَم، علَّم الإنسانَ ما لم يَعْلَم، والصَّلاةُ والسَّلام على النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الكَرِيمِ الذي بَعَثَه اللهُ لِيُخرِجَ النّاسَ مِن الظُّلمات إلى النُّور، أمّا بعد:

د الله تعالی توحید تر ټولو ستر واجب او پرې پوهه تر ټولو عزتمند او غوره علم دی، او دا هغه بنسټ دی چې د عملونو صحت او قبلیدل پرې بنا کیږي، او بندګان ورته تر هر څه ډیره اړتیا لري؛ ځکه زړونو ته ژوند، نعمتونه او ډاډ نشته پرته له دې چې خپل رب، معبود او خالق د هغه په نومونو، صفتونو او افعالو سره وپېژني، همدا رنګه په دین کې پوهه، د عبادتونو د ادا کولو طریقه لکه: طهارت، لمونځ او داسې نور د نیکمرغۍ نښې او د دې علامه ده چې الله جل جلاله خپل بنده ته د خیر اراده کړې ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

« مَن يُرِدِ اللهُ بِه خيراً يُفَقِّهه في الدِّينِ » ([۲])

«چا ته چې الله تعالی د خیر اراده وکړي، هغه ته په دین کې پوهه ورکوي».

نو له همدې کبله د لړکیو ټولنو د پوهاوي بنسټ د توحید د مضمون په تدریس ټینګار کوي، تر څو زده کوونکي په سمه عقیده وروزل شي، فقهي احکام زده کړي او په مشروع ډول عبادتونه ادا کړي او په دیني چارو کې روښنایي او بصیرت ولري.

بخاري په کتاب العلم؛ باب من یرد الله به خیرا یفقه فی الدین کې په ۷ شمیره راوړی دی.

په دې سویه کې د توحید په نصاب کې درې کوني اصول له دلایلو سره په یو څه تفصیل سره ذکر شوي دي؛ تر څو زده کوونکي په تدریجي توګه او لوړ همت ورپسې مرتبې ته ورپورته شي، د الله تعالی رضایت تر لاسه کړي او جنتونه یې وګټي.

او د مضمون ماهیت ته په کتلو د هر لوست لپاره په لنډه او واضحه توګه ځانګړې موخې ټاکل شوي دي، په موضوعاتو کې یې تدریج په پام کې نیول شوی او د هر لوست لپاره پوښتنې او د ښوونکي لپاره لارښوونې شتون لري چې په رڼا کې یې ټاکل شوې موخې تر لاسه کیږي.

# ښوونکي ته سپارښتنې

۱ - الله تعالی ته اخلاص د عمل د قبلیدو شرط دی، نو عمل دې خاص د پاک الله لپاره وکړئ چې د دنیا او آخرت ګټه دې په برخه شي.

۲- امانت ساتل د خلاصون لاره ده او ته - ښوونکی وروره - د اسلام له سنګرونو څخه پر یو سنګر ولاړ یې او د مسلمانانو د اولادونو په ذهنونو او فطرت امانتدار یې، نو د امانت ساتنه وکړه چې په دنیا او اخرت کې کامیاب شې.

۳- د الله تعالی د وحدانیت او د هغه د قدرت د بیانولو لپاره له حالاتو ګټه پورته کړه، (د بیلګې په توګه) کله چې وریځې د اسمان په زړه راخپرې شي، بریښناګانې وپړقیږي غړاری شي، بارانونه واوریږي او داسې نورې پیښې په مسلمانانو کې د ایماني خوځښت لپاره غنیمت وګڼه.

۴- د بیلګو په وړاندې کولو سره د موضوع اسانه کول او لوست ته له واقعیت سره تړاو ورکول له مضمون سره د زده کوونکو د مینې په پیدا کولو کې ستر رول لري، چې بیا یې زده کوي او عمل پرې کوي، او په پای کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې وینا سره زیری درکوو چې فرمایي:

«د مؤمنانو له عملونو او نیکیو څخه چې کوم شی له مرګ نه وروسته هغه ته رسیږي؛ هغه علم دی چې زده کړی او خپور کړی یې دی».[۳]

ابن ماجه په ۲۴۲ شمیره روایت کړی.

وصلَّى الله على نَبِيِّنا محمَّد وعلى آله وصَحْبِه وسلَّم.

لومړی لوست

# د بریا اسباب

پوه شه الله دې پرتا ورحمېږي، چې د څلورو مسایلو پېژندل پر موږ لازم دي.

**١ لومړی مساله** علم دی چې په دلایلو سره د الله تعالی، د هغه د نبي او د اسلامي دين پېژندل دي

**٢ دويمه مساله** (په علم) عمل کول دي

**٣ دريمه مساله** علم ته بلنه ورکول دي

**۴ او څلورمه مساله** (د دعوت په لارکې) په ضرر ليدلو صبر کول دي.

دليل يې د الله تعالی دا قول دی

﴿وَالْعَصْرِ ۝١﴾
﴿إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ۝٢﴾
﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۝٣﴾
[العصر: آيه ١ - ٣]

(قسم دی په عصر (مازيګر، يا زمانه)
چې انسان خامخا په تاوان کې دی (٢)
پرته له هغو کسانو چې ايمان يې راوړی، ښه کارونه يې کړي او يو بل ته يې د حق نصيحت او د صبر سپارښتنه کړې وي



**امام شافعي رحمه الله فرمايلي [٤]:**

که الله تعالی خپلو بندګانو ته له دې سورت پرته نور دلايل نه وی رالېږلي نو همدې ورته بسنه کوله.

## د لوست لارښووني:

هغه محمد بن ادريس القريشی الشافعي دی چې په ۱۵۰ هـ کال کې زېږېدلی، په فقهې او حديث پوه و، ډېری تاليفونه لري چې نامتو يې : «الأم» او «الرسالة» کتابونه دي، نوموړی په ۲۰۴ هـ کې وفات شوی دی.

الله سوګند کړی چې ټول خلک زيانمن دي پرته له هغو چې د نجات او برياليتوب اسباب يې کارولي دي.

پر مسلمان واجب دي چې له تاوان څخه د ژغورل کېدو اسباب وپېژني، او هغه څلور شيان دي:

١ - د الله تعالی، د هغه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم او د هغه د دين په اړه ګټوره پوهه ترلاسه کړي او عمل پرې وکړي.

٢ - د هغه دين په اړه پوهه چې ايمان يې پرې راوړی د طاعتونو په کولو او د محرماتو په پرېښودلو سره کيږي.

٣ - اسلامي دين ته بلنه او په خلکو کې يې خپرول.

۴- په نيکو کارونو او هغه مصيبت صبر چې د خلکو د رابلنې له امله ورته رسيږي.

دا څلور لاملونه يو پر بل مرتب دي؛ ځکه عمل پر علم ولاړ دی، او د خلکو له رابلنې مخکې ديني تعليماتو ته ژمن پاتې کېدل په کار دي.

مسلمان بايد دا څلور مسايل زده کړي او نورو ته يې وښيي؛ ځکه دا د علم له خپرولو او د خبر لور ته د خلکو له رابلنې څخه دي.

# پوښتنې

س۱ هغه مسایل وښییه چې پرتا یې زده کول واجب دي؟

..............................................................................................................................................

س۲ په العصر سورت کې الله تعالی په څه شي سوګند یاد کړی دی؟

..............................................................................................................................................

س۳ په العصر سورت کې د بریا کوم اسباب یاد شوي دي؟

..............................................................................................................................................

س۴ لاندې چارې د اولویت له مخې ترتیب کړئ

صبر | علم | د الله تعالی لورې ته بلنه | عمل

س۵ امام شافعي رحمه الله د العصر سورت په اړه څه ویلي؟ او دا په څه دلالت کوي؟

..............................................................................................................................................

# زده کړه له عمل څخه مخکې ده.

او بخاري [٥] رحمه الله فرمایلي

## باب دی په باره د علم کې مخکې له وینا او عمل څخه

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ﴾

[محمد: آیه ١٩]

(نو پوی شه چې یقینا له الله پرته بل د عبادت وړ نه شته)

## نو له وینا او عمل څخه وړاندې یې په پوهه پیل وکړ.

### د لوست لارښوونې:

ریښتینی علم هغه دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له قرآن او سنت څخه راوړی دی.
د مسلمان عملونه او عبادتونه باید پر صحیح شرعي علم بنا وي، تر څو یې عبادت صحیح او مقبول وګرځي. ډېری خطاګانې او بدعتونه چې خلک یې کوي د حقیقي دین څخه د ناپوهۍ او د اسلامي پوهې د نشتوالي له امله کېږي.

---

[٤] أبو عبد الله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم البخاري، په (١٩٤هـ)، کې زیږیدلی، نوموړی په أحادیثو پوه و، ډېری تالیفات لري چې مشهور یې: صحیح البخاري دی، د نوموړي کتاب نوم:  الجامع المسند الصحيح المختصر مِن أمور رسول الله صل الله عليه وسلم وسُنَنه وأيّامِه ».دی، نوموړی په (٢٥٦هـ) کې وفات شوی دی.

# پوښتنې

س۱ ریښتینی علم څه شی دی؟

................................................................................................................................

س۲ په بدعتونو او غلطیو کې د خلکو د لوېدلو سبب څه شی دی؟

................................................................................................................................

س۳ الله تعالی په آیت کریمه کې په څه شي امر کړی دی؟

................................................................................................................................

س۴ ولې علم له عمل څخه وړاندې دی؟

................................................................................................................................



# د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت اوله شرک څخه ځان ساتل واجب دي.

دریم لوست

(پوه شه) الله دې پرتا ورحمېږي چې په هر نارینه مسلمان او مسلمانې ښځې د درې ګونو مسئلو زده کړه او پرې عمل کول واجب دي:



**لومړی** دا چې موږ الله پیدا کړي یو، موږ ته یې روزي راکړې او همداسې یې نه یو پرېښي، نو چا یې چې اطاعت وکړ جنت ته داخلېږي او چا یې چې نافرماني وکړه اور ته داخلېږي

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿ إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَا أَرْسَلْنَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴿١٥﴾ فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ الرَّسُولَ فَأَخَذْنَاهُ أَخْذًا وَبِيلًا ﴾

[المزمل: آیه ١٥ - ١٦].

(بې شکه موږ تاسې ته هماغسې یو رسول پر تاسې د شاهد په توګه لېږلی لکه چې فرعون ته مو یو رسول لېږلی و.
نو فرعون د دغه رسول نافرماني وکړه، نو مونږ دغه (فرعون) ونیولو په سخت نیولو سره)

دویم

## الله تعالی نه خوښوي چې په عبادت کې له هغه سره څوک شریک شي، نه نږدې ملائک او نه کوم لیږل شوی پیغمبر

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا﴾

[الجن: آیه ۱۸]

**اوداچې یقیناً جوماتونه خاص د الله لپاره دي، نو تاسو له الله سره بل هیڅوک مه بلئ**

### د لوست لارښوونې:

پر موږ د الله تعالی له لورینو څخه یوه دا ده چې موږ یې د خپل عبادت لپاره پیدا کړي یو وروسته له دې چې موږ هیڅ نه وو، او موږ ته یې نعمتونه راکړي ترڅو ترې د هغه څه لپاره کټه واخلو چې د هغه لپاره پیدا شوي یو.

پر انسان د الله تعالی له نعمتونو څخه یو دا دی چې عبث یې نه دی پرېښی چې د څارویو په څېر ژوند وکړي؛ بلکې په حقه یې ورته پیغمبران ورلیږلي دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو ته د جنت لارښودلې او ورته یې رابللي، او د دوزخ لارې یې ورپېژندلې او ترې یې ویرولي دي، لدې امله یې پیروي واجب ده لکه څرنګه چې یې فرمایلي دي:

ژباړه: «زما ټول امتیان به جنت ته داخلیږي مګر هغه څوک چې انکار وکړي، هغوی وویل: اې د الله رسوله! هغه څوک دی چې انکار به کوي؟ وې فرمایيل: چا چې زما اطاعت وکړ هغه به جنت ته داخل شي او چا چې زما نافرماني وکړه نو بېشکه چې هغه انکار کړی دی».

بخاري په کتاب الاعتصام والسنة کې په : باب : الاقتداء بسنن رسول الله صلی الله علیه وسلم کې په (۷۲۸۰) روایت کړی دی.

الله تعالی په پاچاهې کې هیڅ شریک نه لري، حتی ملائکې او پیغمبران هم د الله تعالی محتاج بندګان دي، نو د الله تعالی سره د دوی عبادت کول د هیچا لپاره روا نه دي.

# پوښتنې

س۱ خلکو ته د رسولانو د لیږلو حکمت څه دی؟

....................................................................................................

س۲ له الله جل جلاله پرته د نورو خلکو لکه د انبیاوو او صالحینو د رابللو حکم څه شی دی ؟ له دلیل سره؟

....................................................................................................

س۳ د هغه چا بدله څه ده چې د الله تعالی او د رسول محمد صلی الله علیه وسلم پیروي یې کړې ده؟

....................................................................................................

س۴ د هغه چا سزا څه ده چې د الله تعالی او د هغه د رسول محمد صلی الله علیه وسلم نافرماني یې کړې ده؟

....................................................................................................

س۵ کله چې فرعون د موسی علیه السلام نافرماني وکړه نو پایله یې څه شوه؟

....................................................................................................

# د هغه چا سره دوستي کول روا نه دي چې د الله او د هغه له رسول سره دښمني کوي

ځلورم لوست

**دریم**

**چا چې د رسول اطاعت کړی وي او الله یې یوګڼلی وي، هغه ته روا نه دي د هغه چا سره دوستي وکړي چې د الله او د هغه له رسول سره یې دښمني وي، که څه هم ډېر نږدې وي.**

**دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:**

﴿لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ ۚ أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ۖ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ۚ أُولَٰئِكَ حِزْبُ اللَّهِ ۚ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾

[المجادلة: آیه ٢٢]

ته به داسې قوم ونه مومې چې په الله او په ورځ د اخرت ایمان لري، چې دوی به له هغو کسانو سره دوستي کوي چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي اګر چې دغه خلق د دوی پلرونه وي، یا د دوی زامن، یا د دوی ورونه، یا د دوی قبیله وي، دغه کسان دي چې هغه (الله) د دوی په زړونو کې ایمان لیکلی او دوی یې په هغه روح سره قوي کړي دي چې د ده له جانبه دی او هغه به دوی داسې جنتونو ته داخل کړي چې د هغو لاندې ویالې بهېږي، چې دوی به په هغه کې تل ترتله وي، الله له دوی نه راضي شو او دوی له هغه نه راضي شول، دغه کسان د الله لښکر دی؛ خبر اوسئ! بېشکه د الله لښکر، همدوی کامیاب دي

## د لوست لارښووني:

المولاة: د الله، د هغه د رسول او له مؤمنانو سره په قول او عمل کې مینه او مرسته ده او دا د دین له سترو ځانګړنو څخه ده.

المولاة: د الله، د هغه د رسول او له مؤمنانو سره په قول او عمل کې مینه او مرسته ده او دا د دین له سترو ځانګړنو څخه ده.

د یو مسلمان لپاره د هغه چا سره محبت کول حرام دي چې د الله جل جلاله او د هغه په رسول ایمان نه لري او یا د اسلام په وړاندې جنګیږي.

مسلمان که څه هم درځخه (په استوګن ځای کې)لرې وي، هغه دې په دین کې ورور دی، او څوک چې د الله مخالف وي، که څه هم په نسب کې دې ورور وي، هغه دې په دین کې دښمن دی.

صحابه کرامو - رضي الله عنهم - د الله او د هغه دین ته د اخلاص وفادارۍ په لارکې غوره مثالونه وړاندې کړي دي، کله چې دوی د خپلو خپلوانو په وړاندې وجنګېدل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې جګړه کوله،

او الله د دوی ستاینه وکړه[٦]

# پوښتنې

س۱ آیا د یهودو او نصاراوو سره محبت کول روا دي، له دلیل سره؟

..............................................................................................................................................

س۲ د هغه چا بدله څه ده چې د الله له دښمنانو کرکه لري؟

..............................................................................................................................................

س۳ د (الولاء) معنی ووایه؟

..............................................................................................................................................

س۴ هغه درې ګونې مسائل وښیه چې زده کړه یې پر هر مسلمان واجب ده ؟

..............................................................................................................................................

وګوره: کتاب: « الوَلاء والبَراء في الإسلام »، د شیخ محمَّد بن سعید القحطاني - حفظه الله

پنځم لوست

# حنیفیت (ابراهیمي ملت)

پوه شه - الله دې تاسو ته د خپل طاعت لارښوونه وکړي - چې دا حنیفیت؛ د ابراهیم دین دی، چې تاسو یوازې د الله عبادت کوئ او د هغه لپاره دین خالص کړئ او په دې سره الله ټولو خلکو ته امر کړی او د همدې لپاره یې پیدا کړي دي لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾

[الذاریات: آیه ٥٦].

اوما نه دي پیداکړي انسانان اوپیریان مګر دې لپاره چې زما بندګي وکړي



د ﴿يَعْبُدُونِ﴾ معنا: يوحدون ده، او تر ټولو ستر شی چې الله پرې امر کړی؛ توحید دی، چې معنا يې په عبادت سره د الله تعالی يو ګڼل دي، او تر ټولو ستر څيز چې منع يې ترې فرمايلې شرک دی، معنا يې له هغه سره د بل (معبود) رابلل دي

او د الله تعالی دا وينا:

﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا﴾

[النساء: آيه ٣٦].

## د الله عبادت وکړئ او هيڅ شی ورسره مه شريکوئ

**او له الله پرته چې هر څه دي هغه عالم دی اوزه هم له دې عالم څخه يويم.**

### د لوست لارښووني:

*حنيف: هغه څوک دی چې په توحيد (ثابت) ولاړوي، شرک او ګمراهی يې پرېښي وي، او يقينا چې الله تعالی خپل پيغمبر؛ ابراهيم عليه السلام د خپل مشرک قوم سره د مخالفت له امله او الله تعالی په يووالي منلو سره ستايلی دی.

* الله تعالی خپل پيغمبر محمد -صلی الله عليه وسلم- او د هغه اصحابو ته امر کړی چې کله يې د نورو اديانو پيروان رابلل نو ورته دې ووايي چې: موږ پر حق دين يو؛ د ابراهيم پر دين، او هغه (حنيفيت) دی، پاک الله فرمايلي:

(وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ تَهْتَدُوا ۗ قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ)

(او دوی ويل چې تاسو يهوديان شئ، يا نصرانيان، نو نېغه لاربه ومومئ، ته (دوی ته) ووايه: (داسې نه ده) بلکې (مونږ) د ابراهيم د ملت (تابع کېږو) چې حنيف (توحيد والا) و او دی له مشرکانو څخه نه و). [سورت البقرة: ايت ١٣٥]

*زمونږ دين اسلام دی چې محمد صلی الله عليه وسلم راوړی او هغه حنيفيت دی چې له موحدو مسلمانانو پرته له بل چا سره نشته، نو موږ ته په کار دي چې ځان پرې پابند کړو، او ټول امتونه ورته راوبلو

# پوښتنې

س۱ له لاندې ځوابونو څخه سم ځواب وټاکه:

ترټولو سترځيز چې الله پرې امرکړی:

أ-رېښتيا | ب-امانت | ج-توحيد (يووالی)

ترټولو سترځيز چې الله تعالی ترې منع فرمايلې ده:

أ-دروغ | ب-شرک | ج-دوکه

س۲ الله تعالی خپل پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم او ملګرو ته په څه امرکړی دی چې کله يې يهود او نصارا خپلو ديانو ته بلې؟

.................................................................................................

س۳ د ابراهيم عليه السلام ملت څه شی دی؟

.................................................................................................



شپږم لوست

# درې ګوني اصول

کله چې تاته وويل شو: هغه درې ګوني اصول کوم دي چې پر انسان يې پېژندل واجب دي

نو ته وواېه چې: بنده لره خپل رب، خپل دين او خپل پيغمبر محمد -صلی الله عليه وسلم- پېژندل دي.

لومړی اصل: بنده لره خپل رب پېژندل

نو که چېرته درته وويل شو: رب دې څوک دی

نو ته وواېه: رب مې الله دی، هغه ذات چې زه يې روزلی يم، او په خپلو نعمتونو سره يې د ټولو مخلوقاتو روزنه کړې ده، هغه زما معبود دی، له هغه پرته بل معبود نه لرم.

دليل يې د الله تعالی قول دی: ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ [الفاتحة:آيه ٢].

ټول (د کمال) صفتونه خاص الله لپاره دي چې د ټولو عالَمونو ښه پالونکی دی

د رسول الله صلی الله عليه وسلم اطاعت او له شرک څخه ځان ساتل واجب دي

# پوښتنې

س۱ هغه درې ګوني اصول کوم دي چې پر هر انسان يې پېژندل واجب دي؟

..............................................................................................................................................

س۲ پدې دليل وړاندې کړه چې الله د ټولو عالميانو رب دی؟

..............................................................................................................................................

س۳ رب څه معنا؟

..............................................................................................................................................



اووم لوست

# د الله تعالی نښاني (معجزې) او مخلوقات

نوکه چېرته درته ووېل شو: په څه شي دې خپل رب پېژندلی ؟؟

نوورته ووایه

## د هغه په نښانو (معجزو) او مخلوقاتو

**د هغه له نښانو (معجزو) څخه؛**

شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ دي

**او د هغه له مخلوقاتو څخه:**

اووه اسمانونه، اووه ځمکې ، او څوک چې پکې دي او څوک چې د دواړو تر منځه دي

دلیل يې د الله تعالی قول دی:

﴿وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ﴾ [فصلت: ایه ۳۷].

او د هغه له نښانو څخه شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ ده، مه لمر ته سجده کوئ او مه سپوږمۍ ته، او (یوازې) هغه الله ته سجده وکړئ چې هغه (ټول) يې پیدا کړي دي، که چېرې تاسو یوازې د هغه عبادت کوئ

**او د الله تعالی دا وينا:**

﴿إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِى خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِى اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ ۗ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ﴾ [الأعراف: آيه ٥٤].

بیشکه ستاسو رب هغه الله دی چې آسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو کې پيدا کړي، بيا د عرش له پاسه شو، هغه په شپې سره ورځ پټوي، پداسې حال کې چې دا (شپه) هغې (ورځ) لره په تلوار سره طلب کوي او (پيدا کړې يې ده) لمر سترګه، او سپوږمۍ او ستوري، چې د هغه په حکم سره مسخر کړی شوي دي، خبر شئ! خاص هغه لره دي پيدا کول او حکم کول، ډېر برکت والا دی الله؛ چې رب العالمين دی.

## د لوست لارښووني:

عقلمند انسان کائناتو ته په داسې حال کې نه ګوري چې مخ اړوونکی او بې پروا وي، بلکې پدې لويو مخلوقاتو او هغه څه کې فکر کوي چې د الله تعالی په لوی والي او ځواک دلالت کوي، نو د دې کايناتو پيدا کوونکي ته د درناوي له امله عاجزي ښکاره کوي، يو شاعر په شاوخوا چاپيريال کې د فکر کولو پر مهال وايي:

د حيرانتيا خبره ده چې څنګه د الله نافرماني کيږي او څنګه ترې انکار کوونکی انکار کوي حال دا چې هر حرکت او هره ارمتيا ګواه تل ګواه دي.

او په هر شي کې د هغه (د قدرت ) نښه ده چې پدې دلالت کوي چې (هغه ذات) يو دی.

الله پاک په خپل کتاب کې؛ د بندګانو پاملرنه خپلو نښانو او مخلوقاتو ته راړولې ده، او امر يې کړی چې په اړه يې فکر وشي، نو مسلمان بايد د قرآن لوستلو او چارچاپېره کائناتو کې د ليدلو پر مهال لدې څخه بې پروا نه شي.

# پوښتنې

س۱ موږ خپل رب په څه پېژنو؟

...............................................................................................................................................

س۲ د الله تعالی ځينې معجزې او مخلوقات وښيه.

...............................................................................................................................................

س۳ له آيتونو څخه داسې څه راوباسه چې د الله تعالی په قدرت دلالت کوي.

...............................................................................................................................................

س۴ په لاندې مخلوقاتو کې فکروکړه، بيا د هريو مخلوق مخې ته يې د عظمت په اړه يو څه وليکه چې ته پرې پوهېږې او دا چې پر څه دلالت کوي:

| لمر | ځمکه | شپه | او سپوږمی |
|---|---|---|---|
| | | | |

س۵ په لاندې مخلوقاتو او معجزو کې فکروکړه، بيا په هريو کې بېلابېل نعمتونه وشمېره:

| د انسان بدن | ورځ | باران | ستورې |
|---|---|---|---|
| | | | |

اتم لوست

# پيدا کوونکی او د لورينو خاوند ذات يوازې د عبادت مستحق دی

**اورب:** معبود ته ويل کيږي؛ هغه ذات چې عبادت يې کيږي.

**او د الله تعالی دا وينا:**

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٢١﴾ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَندَادًا وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ [البقرة:۲۱- ۲۲]

(ې خلکو! د هغه پالوونکي بندګي وکړئ چې تاسي يې پيداکړي ياست او هغه خلک يې پيداکړي چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسې پرهيزګاره شئ. هغه (رب) چې ستاسې لپاره يې زمکه فرش (هواره) کرځولې ده او هسک (آسمان) يې چت او د آسمان له لوري يې اوبه نازل کړې دي، نو راويستې يې دي په دې اوبو سره هر ډول ميوې ستاسې لپاره روزي (رزق). نو له الله سره شريکان مه نيسئ، په داسې حال کې چې تاسې پوهيږئ چې الله شريک نه لري)

## د لوست لارښووني:

رب؛ الله تعالی دی، ځکه چې هغه د موجوداتو پيدا کوونکی او د ټول عالم چارسازی دی، لدې امله هغه پاک ذات يوازې د عبادت وړ دی، هغه حق معبود دی، او له هغه پرته بل هر معبود باطل دی.

[ دا حديث د ابن عباس د هغه حديث برخه ده چې ترمذي روايت کړی او ويلي يې دي چې :» حديث حسن صحيح «، کتاب: صفة القيامة، ۵۹ باب، د حديث شميره ده: (۲۵۱٦)، او امام احمد ج۱ ۲۹۳، ۳۰۳، ۳۰۷، مخونو کې روايت کړی، او معنا يې ده: کله دې چې په دنيوي او يا اخروي کارونو کې د يو سخت کار لپاره مرسته غوښتله نو له الله يې وغواړه؛ ځکه له هغه پرته بل مرسته کوونکی او مددګار نشته، او نه له هغه پرته بل دروازه پرانيستونکی، او ورکوونکی شته، نو بايد هغه ته د نږدې کېدو په مقام کې نورې ټولې وسيلې پرې کړو، لکه څنګه چې دې خبرې ته د الله تعالی دا قول اشاره کوي: (إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ) (يعني عبادت نه کوو مګر ستا، او ملا نه تړو مګر يوازې پر تا).]

# فعاليتونه

**أ** د پورته دوو آيتونو ژباړه ولوله او وله مخې يې د الله تعالى درې نعمتونه وښيه:

١ - ..........................................................................

٢ - ..........................................................................

٣ - ..........................................................................

**ب** په پورته آيتونو کې الله تعالى مونږ ته په دوو واجبو عملونو آمر کړی دی چې عبارت له:

١ - ..........................................................................

٢ - ..........................................................................

**ج** همدا رنګه يې له دوو سترو حرامو کارونو څخه منع کړې يو چې عبارت دي له:

١ - ..........................................................................

٢ - ..........................................................................

د الوهيت توحيد: يوازې د الله تعالى عبادت ته وايي، هغه ذات چې شريک نه لري او د ربوبيت توحيد دې ته وايي چې يوازې الله پيدا کوونکی او روزي ورکوونکی دی

د لاندې آيت ژباړه ولوله او ووايه چې کومه برخه يې د الوهيت او کومه يې د ربوبيت د توحيد لپاره دليل دی الله تعالى فرمايلي

او د الله تعالی دا وینا:

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِى خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٢١﴾﴾

د لاندې آیت ژباړه ولوله او ووایه چې کومه برخه یې د الوهیت او کومه یې د ربوبیت د توحید لپاره دلیل دی الله تعالی فرمایلي

هغه څه چې د ربوبیت په توحید دلیل دی عبارت دی له :

..............................................................................................

هغه څه چې د الوهیت پر توحید دلیل دی عبارت دی له:

..............................................................................................

نهم لوست

# د عبادت د ځینو ډولونو دلایل

## د خوف (ویرې) دلیل:

د الله تعالی دا قول دی:

﴿فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾

[آل عمران :آیه ۱۷۵].

نو تاسو له هغوی نه مه ویرېږئ، او له ما نه ویرېږئ کـــه چېرې تاسو مومنان یئ

## د هیله مندی دلیل:

د الله تعالی دا قول دی:

﴿فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا﴾

[الکهف : آیه۱۱۰].

نو هغه څوک چې د خپل رب د ملاقات هیله لري، نو هغـه دې نیک عمل وکړي او د خپل رب په عبادت کې دې هیڅـــوک نه شریکوي

## د توکل دلیل:

د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَعَلَى اللَّهِ فَتَوَكَّلُوا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾

[الکهف: آیه۱۱۰].

او تاسو خـــاص په الله توکـــل وکـــړئ کـــه چېرې تاسو مومنان یئ

او د الله تعالی دا قول:

﴿وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ﴾

[الطلاق: آیه ۳].

او هغه څوك چې په الله توكل وكړي، نو همدی د ده لپـاره بس (او کافی) دی

### او د ليوالتيا، ويرې او عاجزۍ دليل:

د الله تعالى دا قول دی:

﴿إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا ۖ وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ﴾ [الكهف: آيه۱۱۰].

**بېشکه دوی (نبيان داسې) وو چې په نېکيو کې به يې بيړه کوله او مونږ به يې بللو، په داسې حال کې چې رغبت کوونکي او وېرېدونکي وو او دوی خاص زمونږ لپاره عاجزي کوونکي وو**

### او د خشيت دليل:
### (د الله وېره د هغه د پېژندلو سره)

د الله تعالى دا قول دی:

﴿فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِي﴾ [البقرة: آيه۱۵۰]

**نو له هغوئ نه مه وېرېږئ، او له ما نه وېرېږئ**

### د استعانت (د الله تعالى څخه د مرستې غوښتلو) دليل:

د الله تعالى دا قول دی:

﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ [الفاتحة:آيه۵].

**مونږ خاص ستا عبادت کوو او خاص له تا نه مرسته غواړو**

### د لوست لارښووني:

وېره، عاجزي او ليوالتيا؛ د معنا له اړخه له يوبل سره نږدې عبادتونه دي چې يوازې بايد الله تعالى ته وشي، څکه همدا وېره او د الله له عذاب نه ځان ژغورل دي چې يو مسلمان له هغه څه نه ځان بندوي چې الله تعالى پرې حرام کړې دی. هيله مندي او ليوالتيا دوه عبادتونه دي او هغه مهال ادا کېږي چې بنده د الله تعالى د فضل او خوښۍ پسې شي، د عبادت په کولو او د منهياتو په پرېښودلو سره هڅه کوي او زيار باسي چې تر لاسه يې کړي؛

توکل: په الله تعالى د زړه باور او نېک ګمان دی، نو چا چې وکړ، الله تعالى به ورته د ټولو غمونو په لرې کولو سره بسنه وکړي، چارې به يې په غاړه واخلي، او له هغه ځايه به رزق ورکړي چې دی به يې ګمان هم نه کوي.

د انابت معنا: په توبې او عاجزۍ سره الله تعالى ته د هغه د رحمت په هيله رجوع کول دي.

واجب دي چې دا عبادتونه د خپلو لويو معناوو سره يوازې يو الله تعالى ته ترسره شي؛ پرته له ټولو مخلوقاتو څخه.

# پوښتنې

س۱ هغه څه چې د الوهیت پر توحید دلیل دی عبارت دی له ؟

..............................................................................................................

س۲ د لوست په آیتونو کې په دوو سترو کارونو امر شوی او له دوو کارونو څخه منع شوې ده، کوم دي ؟

..............................................................................................................



# پوښتنې

س۱

## لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

د عبادت له ډولونو څخه: ویره، ..............................، ........................،........، ............................... دي

س۲

## د (أ) د ستون جملې د (ب) د ستون له مناسبو جملو سره ونښلوئ:

| د (أ)ستون | د (ب) ستون |
| --- | --- |
| توکل | انابت (رجوع) |
| خوف او رهبت (ویره او لیوالتیا) | په الله تعالی د زړه باور |
| | الله تعالی ته رجوع کول |

د الله تعالی له عذاب څخه ویره دا ده چې مؤمن له هغه څه نه ځان بند کړي چې الله تعالی پرې حرام کړی وي،

س۳

## د لاندې (عبادتونو) لپاره له قرآن کریم څخه دلایل وړاندې کړه:

أ الرَّجاء(هیله مندي)

ب التَّوكُّل (توکل)

ج الخشْيَة (ویره)

د الإنابَة (رجوع کول)

هـ الرَّغبة (لیوالتیا)

لسم لوست

# د عبادت د ځینو ډولونو دلایل

**استعانت**
**(مرستې غوښتلو) دلیل:**

د الله تعالی دا قول دی:

﴿إِيَّاكَ نَعْبُـــــدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ [الفاتحة:آیه۵]

**مونږ خاص ستا عبادت کوو او خاص له تا نه مرسته غواړو**

او په حدیث کې راځي:

**کله دې چې مرسته غوښته نو یوازې له الله نه یې غواړه**

**د استعاذې**
**(پناه غوښتنې) دلیل:**

د الله تعالی دا قول دی:

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ [الفلق: آیه ۱]،

**وو ایه (اې پیغمبره): زه پناه نیسم په رب د سبــــا پورې**

﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاس﴾ [الناس: آیه ۱]

**(ای نبي) ته وو ایه: زه د خلقــــو په رب پورې پناه نیسم).**

**او د استغاثې**
**(مدد غوښتلو) دلیل:**

د الله تعالی دا قول دی:

﴿إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ﴾ [الأنفال: ایه ۹]

**کله چې تاسو له خپل رب نه مدد غوښتلو، نو هغـــــه ستاسو دعا قبوله کړه چې بېشکه زه ستاسو مدد کوونکی یم په زرو ملایکو سره، چې په یو بل پسې به راتلونکي وي**

---

دا حدیث د ابن عباس د هغه حدیث برخه ده چې ترمذي روایت کړی او ویلي یې دي چې :» حدیث حسن صحیح «، کتاب: صفة القیامة، ۵۹ باب، د حدیث شمیره ده: (۲۵۱٦)، او امام احمد ج۱ ۲۹۳، ۳۰۳، ۳۰۷، مخونو کې روایت کړی، او معنا یې ده: کله دې چې په دنیوي او یا اخروي کارونو کې د یو سخت کارلپاره مرسته غوښتله نو له الله یې وغواړه؛ ځکه له هغه پرته بل مرسته کوونکی او مددګار نشته، او نه له هغه پرته بل دروازه پرانیستونکی، او ورکوونکی شته، نو باید هغه ته د نږدې کېدو په مقام کې نورې ټولې وسیلې پرې کړو، لکه څنګه چې دې خبرې ته د الله تعالی دا قول اشاره کوي: (إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ) (یعنې عبادت نه کوو مګر ستا، او ملا نه تړو مګر یوازې پر تا).

## اوډ نذر دليل:

د الله تعالی دا قول دی:

﴿يُوفُونَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا﴾ [الإنسان: آيه ۷]

**دوی نذرونه پوره کوي او له هغې ورځې نه ويرېږي چې د هغې شر خپور شوی دی**

## د ذبحې دليل:

د الله تعالی دا قول دی:

﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ۝١٦٢ لَا شَرِيكَ لَهُ ۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ﴾

[الأنعام: آيه ١٦٢ - ١٦٣].

**(ته ووايه: بېشکه زما لمونځ اوزما قرباني اوزما ژوند اوزما مرګ خاص د الله رب العالمين لپاره دي. د هغه هيڅ شريك نشته او ما ته د همدې (توحيد) حکم شوی اوزه ترټولو مسلمانانو اول يم).**

اوله سنت څخه يې دليل دا دی:

**« لَعَنَ اللهُ مَن ذَبَحَ لِغَيْرِ اللهِ » «پرهغه چا دې د الله لعنت وي چې د الله نه غير د بل چا لپاره څه شي حلالوي»**

## د لوست لارښووني:

استعانت: مرسته غوښتل: له الله جل جلاله څخه مرسته غوښتل، چې په دې کې د بنده بشپړ تسليمېدل او خپل رب ته د چارو سپارل شامل دي. مسلم په اوږد حديث کې روايت کړی، کتاب الأضاحي، باب تحريم الذبح لغيرالله ولعن فاعله :(١٥٦٧/٣) برقم (١٦٧٨)، اولعنت: د الله تعالی له رحمت څخه لرې کېدل دي، اولعين او ملعون هغه چاته وايي چې لعنت پرې شوی وي.

استعاذه؛ پناه غوښتلو او پر الله تعالی ملا تړلو ته وايي، په داسې حال کې چې بشپړه اړتيا ورسره مل وي.

استغاثة؛ له الله تعالی څخه د خبر په لاسته راوړلو يا د بدی په مخنيوي کې مرسته غوښتل.

مُسْتَطِيراً:خبور شوی، يعني عام او په ټولو خلکو کې خپور.

که د يو ژوندي حاضر شخص څخه په داسې يو کار کې مرسته وغواړې چې هغه يې کولی شي، لکه په موټر کې ستاسو سامان وړل، يا تاسو له ډوبېدو څخه ژغورل؛ نو دا کار روا دی او شرک نه دی.

پر يو مسلمان واجب دي چې خپله حلاله يوازې الله تعالی ته د عبادت په موخه وکړځوي او د هغه په نوم يې وکړي لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي:

ژباړه: (نو ته د خپل رب لپاره لمونځ کوه او قرباني کوه)

[سورت الكوثر: ايت ٢].

نذر: يو کس په خپل ځان داسې څه ومني چې واجب پرې نه وي لکه (چې ووايي): که په امتحان کې کامياب شوم نو پر ما دې درې ورځې روژې نيول دي.

نذر هغه عبادت دی چې له الله جل جلاله پرته بل چا ته نذر کول روا نه دي، نو داسې دې نه وايي چې: ما د فلاني قبر ته دا او دا شی نذر کړی دی.

.[ مسلم په كتاب الإيمان، باب وجوب الإيمان برسالة نبينا محمد صلى الله عليه وسلم إلى جميع الناس ونسخ الملل بملته کې په (١٣٤/١)، او شميره (١٥٣).روايت کړی دی.]

# پوښتنې

س۱ الله تعالی په خپله دې وینا کې موږ ته په څه امرکړی دی؟

(ووایه (اې پېغمبره): زه پناه نیسم په رب د سبا پورې). ..............................................................

س۲ رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته په حدیث کې په څه امرکړی دی؟

«که تاسو مرسته غواړئ، نو له الله تعالی څخه مرسته وغواړه.......................................................................

س۳ د لاندې کلماتو معنا ذکر کړئ: الاسْتِعانَة، والاستِغاثَة، والاستِعاذَة؟

.....................................................................................................................................

س۴ د لاندې کړنو لپاره له قرآن کریم څخه دلایل ووایه:

الاستِعانَة
په پیروی او نورو چارو کې مرسته غوښتـــــل

الاستِغاثَة
په سختیو کې له الله تعالی څخه مرسته غوښتــــل

الذبح ( ذبح کول)

النذر. منښته

# د اسلام دين

## يووولسم لوست

## دويم اصل: په دلايلو سره د اسلام د دين پيژندل

**او هغه الله ته په يوالي، او اطاعت سره تسليمېدل، او له شرک او د هغه له پلويانو څخه بېزاري ده.**

**او دري مرتبې لري:** اسلام، ايمان او احسان دی، او هره مرتبه ارکان لـــــري

### د لوست لارښووني:

د ځمکي پر مخ هغه دينونه چې خلک يې پيروي او تابعداري کوي ډېر دي، خو حقيقي دين يو دی چې هغه اسلام دی او نور ټول دينونه باطل دي، الله تعالی فرمايلي:
(وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ)
(او څوک چې له اسلام نه غېر (بل) دين غواړي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په اخرت کې له تاوانيانو څخه دی). [آل عمران سورت: ۸۵ آيت].
موږ د اسلام دين له قرآن کريم او د رسول الله صلی الله عليه وسلم له احاديثو څخه پېژنو.
د پېريانو او انسانانو په شمول يې ټول عالم بايد اسلام قبول کړي او خپل باطل دينونه پرېږدي، که نه نو ځای يې دوزخ دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: « والذي نَفْسُ محمَّدٍ بِيَدِهِ لا يَسْمَعُ بي أحَدٌ مِن هذه الأُمَّةِ يَهُودِيٌّ ولا نَصْرانِيٌّ ثم يموتُ ولم يُؤْمِن بِالذي أُرْسِلْتُ بِه إلّا كان مِن أصحابِ النّار». «په هغه ذات مې قسم دی چې د محمد روح د هغه په لاس کې دی، زما د بلنې په اړه که د دې امت يهودي او يا نصراني خبر شو او بيا په داسې حال کې مړ شو چې زما په رسالت يې ايمان نه و راوړی، مګر دا چې له دوزخيانو څخه به وي»[ فطرني: زه يې له هيڅ څخه وروسته پيدا کړی او شته کړی يم،].
* پر مسلمان واجب دي چې خلکو ته د اسلام بلنه ورکړي، الله تعالی فرمايلي:
(ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ ۖ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ)
ژباړه: (د خپل رب لارې ته په حکمت او ښکلي نصيحت سره بلنه کوه او له دوی سره په هغې طرېقې مجادله (مباحثه) کوه چې هغه تر ټولو ښه وي) [سورت النحل: ايت ۱۲۵].

چې هغه خو ستاسو څخه دی او د ستاسو د لارښوونې لپاره رالېږل شوی دی. ﴿حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ﴾ يعنې ستاسو په ايمان راوړلو او هدايت حريص دی

# پوښتنې

س۱ حق دین څه شی دی؟ او دلیل پرې څه دی؟

..........................................................................................................................................

س۲ د دین مرتبې وشمیره.

..........................................................................................................................................

س۳ د لاندې کلماتو معنا ذکر کړئ: الاسْتِعانَة، والاستِغاثَة، والاستِعاذَة؟

..........................................................................................................................................

س۴ په (هو) او (نه) سره ځواب ورکړئ:

| | | |
|---|---|---|
| - د اسلام دین جنت ته رسوونکي لاره | - نور ادیان یې خاوندانو لره بربادوي | - د اسلام دین له قرآن او سنت څخه پېژنو |
| | | |

مسلم په كتاب الإيمان، باب وجوب الإيمان برسالة نبينا محمد صلى الله عليه وسلم إلى جميع الناس ونسخ الملل بملته کې په (۱۳٤/۱)، او شمیره (۱۵۳).روایت کړی دی.

# شَهادَةُ أن لا إلَهَ إلّا اللهُ.

## ګواهي ورکول چې له الله پرته بل حق معبود نشته.

دولسم لوست

**لومړی مرتبه:** د اسلام ارکان پنځه دي: ګواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود نشته، او پر دې چې محمد د الله رسول دی، د لمانځه ادا کول، زکات ورکول، د رمضان روژه  او د بیت الله الحرام حج.

د ګواهۍ دلیل: د الله تعالی دا قول دی:

﴿شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُو الْعِلْمِ قَائِمًا بِالْقِسْطِ ۚ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾

[آل عمران: آیه۱۸].

الله ګواهي ورکړې د دې خبرې چې یقینًا نشته هېڅ حقدارد عبادت په حقه سره مګرهم دی دی او ملایکو او د علم خاوندانو، (هم) په داسې حال کې چې دی په انصاف سره قایم دی، نشته هېڅ لایق د عبادت مګرهم دی دی چې ډېرغالب، ښه حکمت والا دی

**او معنا** يې دا ده چې له الله پرته بل هيڅ حق معبـــــــــود نشته

**(لا اله)** يعني (هېڅ حق معبود نشته): د ټولو هغو معبودانو نفي ده چې لـه الله پرتـه يې عبـــادت کيږي.

**(إلا الله)** يو الله ته د عبادت اثبات: هغه ذات چې په عبادت کې هيڅ شريک نه لـري، لکه څرنګه يې چې په ملکيت کې نه لري، او تعبيرېي د الله تعالی له دې قوله څرګند دی (چې فرمايي):

﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ إِنَّنِي بَرَاءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ﴿٢٦﴾ إِلَّا الَّذِى فَطَرَنِى فَإِنَّهُ سَيَهْدِينِ ﴿٢٧﴾ وَجَعَلَهَا كَلِمَةً بَاقِيَةً فِى عَقِبِهِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾ [الزخرف:آيه ٢٦- ٢٨].

(او کله چې ابراهيم عليه السلام خپل پلار او قوم ته وويل: پرته له شکه زه له هغه څه بېزاره يم چې تاسو يې ۱-**عبادت کوئ**. (۲۶) مګر هغه ذات چې زه يې پيداکړی يم؛ نو هغه مې لارښوونه کوي.[٢٧] او هغه يې په خپل راتلونکي نسل کې يوه پاتېدونکې خبره وګرځوله څو چې هغوی (توحيد ته) بېرته راوګرځي)

او د الله تعالی دا وينا:

﴿قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ فَإِن تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ﴾ [آل عمران: آيه ٦٤].

ورته وايه اې اهل کتابو هغه څه ته راشئ چې زموږ او ستاسو ترمنځ يو برابر دی، دا چې ۲-**دالله نه پرته به د بل څه** عبادت نه کوو، نه به څه شی ورسره شريکوو او نه به څوک له الله نه پرته يو بل د معبودانو په توګه نيسي، نو که وګرځېدل بيا ورته ووايئ تاسو شاهدان اوسئ چې موږ مسلمانان يو

## د لوست لارښوونې:

ګواهي ورکول چې (له الله پرته بل حق معبود نشته) ترټولو لوی حقيقت دی چې زموږ پروردګار؛ ترټولو عادل ذات پرې ګواهي ورکړې، او ملايکو پرې هم ګواهي ورکړې او د حق علم خاوندانو پرې هم ګواهي ورکړې ده.

(لا إله إلّا الله) دوه وو شيانو ته شامليږي:

فطرني: زه يې له هيڅ څخه وروسته پيدا کړی او شته کړی يم،

لومړی: د هر هغه څه نفي کول چې له الله تعالی پرته يې عبادت کېږي.

دويم: دا ثابتول چې حقيقي معبود يوازې يو الله دی.

لکه څنګه چې يوازې الله جل جلاله خالق او اداره کوونکی دی او هيڅ شريک نه لري، نو هغه يوازينی معبود دی چې هيڅ شريک نلري.

( لا إله إلّا الله ) دا د اسلام هغه بلنه ده چې يو مسلمان يې ټولو خلکو ته ورکوي.

شَهادَة أن لا إله إلّا الله (په دې ګواهي ورکول چې له الله پرته بل حق معبود نشته) دا ګواهي له شرک او مشرکانو څخه د بې زارۍ غوښتنه کوي، لکه څنګه چې ابراهيم عليه السلام د خپل قوم سره کړې و.

اهل کتاب: يهود او نصارا دي.

دا چې خلک په اسلام کې له داخليدو څخه مخ اړوي، نو دا کار بايد د دې لامل ونه ګرځي چې يو مسلمان خپل اسلام ښکاره نه کړي او خلک ورته راونه بلي (بلکې بايد ښکاره يې کړي او خلک ورته راوبلي).

﴿فَإِن تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ﴾ (نو که دوی وګرځېدل، نو تاسو (ورته) ووايئ چې تاسو پر دې ګواه شئ چې يقينًا موږ مسلمانان يو).

# پوښتنې

س۱ په (لا اله الا الله) ګواهۍ ورکول نفي او اثبات دواړو ته شامليږي؟ نو څه شی نفي کوي او څه شي ثابتوي؟

.......................................................................................................................................

س۲ لاندې تش ځايونه ډک کړئ:

الله تعالی د دې کائناتو پيدا کوونکی او چارسنبالی دی او شريک نه لري، لدې امله واجب دي چې يوازې د هغه ................................ وشي.

س۳ په لا اله الا الله د ګواهۍ ورکولو لپاره دليل وړاندې کړه؟

.......................................................................................................................................

س۴ پر مسلمانانو د خپل دين په اړه څه کول واجب دي؟

.......................................................................................................................................

## س۵ په لاندې آيتونوکې د نفی لاندې يوه کرښه او د اثبات لاندې دوه کرښې کش کړئ

**أ**

د الله تعالی قول (چې فرمايي):

﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ
إِنَّنِي بَرَاءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ﴿٢٦﴾ إِلَّا
الَّذِى فَطَرَنِى فَإِنَّهُ سَيَهْدِينِ﴾

[الزخرف: آيه ٢٦- ٢٧].

او کله چې ابراهيم خپل پلار او قوم ته وويل: پرته له شکه زه له هغه څه بېزاره يم چې تاسو يې عبادت کوئ(٢٦)

مګر هغه ذات چې زه يې پيداکړی يم؛ نو هغه مې لارښوونه کوي.(٢٧)

**ب**

د الله تعالی قول (چې فرمايي):

﴿وَإِلَى عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا قَالَ يَا
قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ
إِلَٰهٍ غَيْرُهُ أَفَلَا تَتَّقُونَ﴾

[الأعراف: آيه ٦٥].

او (مونږ لېږلی و) عاد (قوم) ته د هغوی ورور هود، هغه وويل: ای زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، تاسو لپاره له هغه پرته په حقه (بل) هيڅ معبود نشته، ايا نو تاسو نه وېرېږئ!



# په محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ګواهي ورکول

## او په محمد رسول الله د ګواهی ورکولو دلیل:

د الله تعالی دا قول دی:

﴿ لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾

[التوبة: آیه ۱۲۸].

(دا دی) تاسو ته یو داسې رسول راغی چې خپله له همدا تاسو څخه دی، څه چې تاسو کړوي هغه په ده ډېر ګران (او درانه) تمامیږي، ستاسې پر ښېګڼې حریص دی، پر مؤمنانو مهربان خواخوږی دی)

.[ د الله تعالی قول ﴿مِنْ أَنْفُسِكُمْ﴾ یعني: ستاسو له جنس څخه چې تاسو يې نسب، حسب او ژبه پېژنئ، او دا قول يې ﴿عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ﴾ یعني هغه څه پرې سخت تماميږي چې تاسې ستړي ستومانه کوي، ځکه چې هغه خو ستاسو څخه دی او د ستاسو د لارښووني لپاره رالیږل شوی دی. ﴿حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ﴾ یعني ستاسو په ایمان راوړلو او هدایت حریص دی.]



## او د دې ګواهۍ ورکولو معنا چې محمد د الله رسول دی دا ده:

**په کومو شیانو هغه امر کړی په هغو کې یې طاعت وشي، د کومو شیانو په اړه چې هغه خبر ورکړی په هغو کې ریښتینی وګڼل شي. له کومو شیانو یې چې منع کړې او زجرېې پرې ورکړی له هغو ډډه وشي او دا چې د الله عبادت یوازې په هغو شیانو وشي چې د هغه په شریعت کې دي.**

### د لوست لارښوونې:

په محمد رسول الله ګواهي ورکول لاندې کارونو ته شاملېږي:

أ- دا ایمان درلودل چې الله تعالی محمد صلی الله علیه وسلم خلکو ته د رسول په توګه رالیږلی او خپل حق دین یې ورته وحي کړی دی.

د الله تعالی قول ﴿مِنْ أَنْفُسِكُمْ﴾ یعني: ستاسو له جنس څخه چې تاسو یې نسب، حسب او ژبه پېژنئ، او دا قول یې ﴿عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ﴾ یعني هغه څه پرې سخت تمامېږي چې تاسې ستړي ستومانه کوي، ځکه چې هغه خو ستاسو څخه دی او د ستاسو د لارښوونې لپاره رالیږل شوی دی. ﴿حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ﴾ یعني ستاسو په ایمان راوړلو او هدایت حریص دی.

ب- په محمد صلی الله علیه وسلم ایمان راوړل، په هر هغه څه کې چې هغه  ترې خبر ورکړی د : الله تعالی، ملایکو، پیغمبرانو، د آخرت ورځ او داسې نورو په اړه، ځکه چې هغه له خپل ځانه خبرې نه کوي.

ج- د شریعت په ټولو چارو کې یې پیروي کول چې هغه راوړي دي.

د- په زیاتوالي او یا کموالي سره په دین کې له نوښت راوستلو  ډډه کول.

# پوښتني

س۱ د محمد صلی الله علیه وسلم په پیغمبری ګواهي ورکول کوموکارونو ته شامليږي

..........................................................................................................

س۲ خالي ځایونه په لاندي کلمو سره ډک کړئ

ليږلی | باور | خلک | الله | پيغمبران | هجرت

په محمدٌ رسول الله ګواهي ورکول دي ته شامليږي چې الله تعالی محمد صلی الله علیه وسلم ......................... ته ....................ليږلی، او هغه ته يې د حق دين وحي کړې ده، او دا ايمان په هر هغه څه د .........................کولو غوښتنه کوي چې هغه يې په اړه .................... ته د ملايکو او ............................ په اړه خبرورکړی دی.

س۳ شَهادَةَ أنَّ محمَّداً رَسولُ الله صلی الله علیه وسلم؟ څه معنا؟

..........................................................................................................

س۴ په دي ګواهی دليل وړاندي کړه چې محمد د الله رسول دی.

..........................................................................................................



## د لمانځه او زكات دليل او د توحيد تفسير:

د الله تعالى دا قول دى:

﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ ۚ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ﴾

[البينة: آيه ٥].

او هغوى ته (هم) د بل څه امر نه و شوى، پرته له دې چې د الله عبادت وكړي، په داسې حال كې چې هغه لره د خپل دين سوچه كوونكي حق پلوي اوسي، لمونځ دې ترسره كوي، زكات دې وركوي او همدا سم روغ دين دى

## او د روژې دليل:

د الله تعالى دا قول دى:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾

(البقرة: آيه ١٨٣)

اې هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! پر تاسو باندې روژه فرض كړى شوې ده لكه چې فرض كړى شوې وه پر هغو كسانو چې له تاسو نه مخكې وو، د دې لپاره چې تاسو متقيان شئ

# او د حج دليل:

د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ﴾ [آل عمران: آيه ۹۷]

او خاص د الله لپاره په خلکو د هغه د کور حج کول فرض دي، په هغه چا باندي چې هغه ته د لاري وسه او طاقت ولري او څوک چې کافر شو، نو بېشکه الله له مخلوقاتو نه بېخي بې پروا دی







## د لوست لارښووني:

لمونځ د اسلام هغه ستن ده چې په هغه سره د ايمان دوه ګواهيانې په بشپړه توګه ثابتيږي، نو څوک چې لمونځ پرېږدي هغه کافر دی، الله تعالی په المدثر سورت کې فرمايلي:

﴿مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ ﴿٤٢﴾ قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ﴾

ژباړه: (مومنان به مجرمانو ته وايي:) تاسو په دوزخ کې څه شي داخل کړي يئ؟

دوی به ووايي: مونږ له لمونځ کوونکو څخيني نه وو). [سورت المدثر: ايت ٤].

---

کتب: يعني: فرض کړی شوی دی.

د ا د ابن حبان روايت دی، او د مسلم روايت داسې دی: (فأفضلها قول: لا إله إلّا الله)، او بخاري په خپل صحيح کې دا الفاظ راوړي: (الإيمان بِضْعٌ وسِتُّون شُعْبَةً، والحياء شُعْبَةٌ مِن الإيمان).

# پوښتنې

س۱ د اسلام ارکان وشمیره ؟

............................................................................................................................

س۲ لمونځ ولې د اسلام ستن ده؟

............................................................................................................................

س۳ د الله تعالی پدې وینا سره څوک مخاطـــــــب دی: ژباړه: (فرض کړی شوې ده پر تاسې روژه)؟

............................................................................................................................

س۴ لاندې جملو ته (✓) او یا (×) علامه وکاروئ:

- زکات الله تعالی په خپلو بندګانو فرض کړی دی ( )
- لمونځ د دین ستن ده ( )
- حج په هر مسلمان فرض دی، کــه وس یې وي او که نه وي ( )
- روژه نفس په زغم سره عـــادت کوي ( )

س۵ د زکات، روژې او حج د فرضیت دلایل بیان کړه؟

............................................................................................................................

# ایمـــــان

**دویمه مرتبه:**

او ایمان څه له پاسه اویا څانګې لري چې لوړه یې د (لا إله إلا الله) ویل او ټیټه یې د لارې څخه ضرري شی لرې کول دي، او حیاء د ایمان یوه څانګه ده[۲۰].

**چې پر الله جل جلاله، د هغه په ملایکو، په کتابونو، په رسولانو، د اخرت په ورځ او د خیر او شر د تقدیر په اندازه ایمان ولرې.**

ارکان يې شپږ دي: د الله تعالی دا قول دی:

﴿لَّيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ﴾

البقرة: آیه ۱۷۷

نیکي دا نه ده چې خپل مخونه د مشرق او مغرب لور ته وګرځوئ، لیکن نیکي (د هغه چا) ده چې په الله او په ورځ د اخرت او په ملایکو او په کتابونو او په نبیانو یې ایمان راوړی وي

## د قَدَردليل:

د ا د ابن حبان روايت دی، او د مسلم روايت داسې دی: (فأفضلها قول: لا إله إلّا الله)، او بخاري په خپل صحيح کې دا الفاظ راوړي: (الإيمان بِضْعٌ وسِتُّون شُعْبَةً، والحياء شُعْبَةٌ مِن الإيمان).

د قَدَر دليل : د الله تعالی دا قول دی:

﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ﴾

[القمر: آيه ۴۹].

بيشکه مونږ هر شی په (ازلي) اندازې سره پيدا کړی دی



## د لوست لارښوونې:

په ايمان کې د زړه باور، د ژبې اقرار او د غړو عمل ته شامليږي.

ايمان د عملونو د اعتبار لپاره شرط دی، نو له ايمان پرته عملونه بې ارزښته دي او دا د الله تعالی د دې وينا معنی ده چې فرمايي: ﴿لَّيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَـٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ﴾.

ژباړه: (نېکي دا نه ده چې خپل مخونه د مشرق او مغرب لورې ته وګرځوئ. لېکن نېکي (د هغه چا) ده چې په الله او په ورځ د اخرت يې ايمان راوړی وي).

* يو مسلمان تل بايد د نيکيو په کولو او د حرامو په پرېښودلو سره خپل ايمان پياوړی کړي تر څو يې په زړه کې ځای ونيسي.

---

دا د هغه حديث برخه ده چې بخاري او مسلم په خپلو صحيحنو کې روايت کړی، او هغه د جبريل عليه السلام مشهور حديث دی.

# پوښتنې

**س۱** د ايمان لويه شعبه کومه يوه ده؟ او د ټولو نه ټيټه شعبه يې کومه ده؟

.........................................................................................................................

**س۲** لاندې تش ځايونه ډک کړئ:

ايمان د زړه ......................، د ...............اقرار او د ........................عمل ته شامليږي.

**س۳** د لاندې درکړل شوو ځوابونه څخه سم ځواب غوره کړئ:

ايمان لاندې شيانو ته شامليږي:

| أ | ب | ج | د |
|---|---|---|---|
| د زړه باور او د اندامونو عمل | په ژبه اقرار | يوازې عمل ته | (أ+ب) دواړه |



**س۴** د ایمان درې رکنونه له دلایلو سره ووایه؟

................................................................................................................................................................

**س۵** په تقدیر د ایمان دلیل ووایه؟

................................................................................................................................................................



# احسان/نیکي

شپاړسم لوست

**دریمه مرتبه:** احسان: یو رکن دی؛ هغه دا چې د الله عبادت داسې وکړې لکه ته چې هغه وینې، او که ته هغه نه وینې، هغه تا وینې.[۲۱]

د ګواهۍ دلیل: د الله تعالی دا قول دی:

﴿إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ﴾

النحل: آیه ۱۲۸

بېشکه الله د هغو کسانو ملګری دی چې پرهېزګاري کوي او د هغو کسانو چې هغوی نېکي کوونکي دي

او د الله تعالی دا وینا

﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ ۝٢١٧﴾

[الشعراء : آیه ۱۱۷-۱۲۰]

او په ډېر مهربان برلاسي (الله) بروسه وکړه (۲۱۷)

او د الله تعالی دا وینا

﴿وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُو مِنْهُ مِن قُرْآنٍ وَلَا تَعْمَلُونَ
مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ﴾
[یونس : آیه٦١]

او ته چې په هر حالت کې اوسې او له قرانه چې هر څه لولې او (ای خلکو) تاسو چې هر څه عمل کوئ (په هر حال) موږ پر تاسو شاهد یو کله چې تاسو په کې بوخت (لګیا) یاست



## د لوست لارښوونې:

دا د هغه حدیث برخه ده چې بخاري او مسلم په خپلو صحیحنو کې روایت کړی، او هغه د جبریل علیه السلام مشهور حدیث دی.
احسان تر هغه پورې نه تر لاسه کیږي تر څو مسلمان د خپل رب عبادت په داسې بڼه وکړي چې هغه یقیني وي چې الله یې ګوري، کړنې یې ګوري او عملونه یې حسابوي.
احسان په دوو شیانو کې وي: - په نیت کې چې انسان یې له ریا او نفاق څخه پاک کړي.
تفیضون: یعنې چې تاسو یې کوئ.
- او په عمل کې چې د شریعت تابع وي، او په هوډ او قوت سره یې تر سره کړي.

---

تفیضون: یعنې چې تاسو یې کوئ.
دا حدیث مسلم په کتاب الإیمان، باب: بیان الإیمان والإسلام والإحسان، کې راوړی دی، د حدیث شمیره (١).



# پوښتنې

س۱ د دین درې ګونې مرتبې وښییه؟

....................................................................................................

س۲ احسان تعریف کړه.؟

....................................................................................................

س۳ د احسان لپاره دلیل ووایه.؟

....................................................................................................

س۴ احسان په څه شي کې وي؟

....................................................................................................

س۵ که یو کس ووینئ چې په ګناهونو باندې اصرارکوي او کله چې ورته نصیحت کوې نو وايي: خلک يې نه ویني او نه يې په اړه خبریږي، نو ته ورته څه وایې؟

د عبادت دولونه، او د هغه چا حکم چې له الله پرته د بل چا يو څه عبادت کوي.

....................................................................................................

## له سنت څخه د دين پر مرتبو دليل:

(له سنت څخه دليل): د جبريل مشهور حديث دى چې له عمر بن الخطاب -رضي الله عنه- څخه روايت دى، وايي چې:

« بينا نحن جُلوسٌ عند النَّبيِّ صلى الله عليه وسلم إذْ طَلَع علينا رَجُلٌ شَدِيدُ بَياضِ الثِّيابِ، شَدِيدُ سَوادِ الشَّعْرِ، لا يُرى عليه أثَرُ السَّفَر، ولا يَعرِفه مِنّا أحَدٌ، فجَلَس إلى النَّبيِّ صلى الله عليه وسلم فأسنَد رُكْبَتَيْه إلى ركبَتَيْه، ووَضَع كَفَّيْه على فَخِذَيه، وقال: يا محمد، أخبِرني عن الإسلام. قال:» أن تَشْهَد أن لا إله إلّا الله، وأنَّ محمَّداً رَسولُ الله، وتُقِيمَ الصَّلاةَ، وتُؤتي الزَّكاةَ، وتَصومَ رَمَضان، وتحجَّ البَيْتَ إن اسْتَطَعْتَ إليه سبيلاً، قال: صَدَقْت. فَعَجِبْنا له يَسأَلُه ويُصَدِّقه. قال: أخبرني عن الإيمان. قال: أن تُؤمِنَ بِاللهِ ومَلائِكَتِه، وكُتُبِه، ورُسُلِه، واليومِ الآخِرِ، وبِالقَدَر خَيرِهِ وشَرِّه، قال: أخبرني عن الإحسانِ. قال: أن تَعْبُدَ اللهَ كأنَّك تراه، فإن لم تَكُن تراه فإنَّه يَراك، قال أخبرني عن السّاعَة. قال: ما المسؤول عنها بِأعلَم مِن السّائِل، قال: أخبرني عن أماراتِها. قال: أن تَلِدَ الأمَةُ رَبَّتَها ، وأن ترى الحفاةَ العُراةَ العالَة رعاء الشّاءِ يَتَطاوَلون في البنْيان ، قال: فمضى. فلبثنا ، مَلِيّاً. فقال: يا عمر أتدرون مَن السّائل؟ قلنا: الله ورسوله أعلم. قال: هذا جبريل أتاكم يعلمُكم أمرَ دِينِكم» .

«په داسې حال کې چې يوه ورځ موږ له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وو، چې ناڅاپه پر موږ يو سړی را ښکاره شو چې سپينې جامې يې پر تن وې، تک تور ویښتان يې و، د سفر کومه نخښه پرې نه ښکارېده او له موږ څخه هيچا هم نه پېژانده، نو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ته کېناست، خپل زنګنونه يې د هغه له زنګنونو سره ولګول او لاسونه يې په خپلو ورنونو کېښودل، او ورته يې وويل: اې محمده! ماته د اسلام په اړه خبر راکړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: اسلام دا دى چې ته ګواهي ورکړې چې له الله پرته بل حق معبود نشته او پر دې چې محمد -صلى الله عليه و سلم- د الله رسول دى، لمونځ قائم کړې، زکات ورکړې،

د رمضان روژه ونیسې او د بیت الله حج وکړي -که د رسېدو لاره دې ورته ومونده‌له»-. وې ویل:»ته رښتیا وایې». نو مونږ حیران شو چې هم پوښتنه کوي او هم یې تصدیقوي، (بیا یې) وویل: ما ته د ایمان په اړه خبر راکړه» هغه وویل: « دا چې په الله، د هغه په ملائکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو او د آخرت په ورځ ایمان راوړې، او د خیر او شر په تقدیر باور ولرې؛ وې فرمایل: »د احسان په اړه خبر راکړه .» هغه وویل: »دا چې د الله تعالی عبادت پداسې توګه وکړې لکه چې ته هغه وینې، خو که چېرته یې ته نه وینې نو هغه خو تا وینې». وې ویل: ماته د قیامت په اړه خبر راکړه، وې فرمایل: پدې (ځواب) له پوښتونکي څخه پوښتل شوی ډېر نه پوهېږي، هغه وویل: له نخښانو څخه یې خبر راکړه». وې ویل: »دا چې وینځه خپل بادار وزیږوي، او دا چې ته وګورې چې پښې ابله (لوڅ پښي)، بربنډ، محتاج، شپانه یو له بل څخه په ابادیو کې وراندیوالی وکړي». بیا هغه روان شو. نو ډېر وخت تېر شو، بیا یې وویل: »اې عمره! آیا ته پوهېږې چې پوښتونکی څوک و؟، ما وویل: الله او د هغه رسول ښه پوهېږي، وې فرمایل: دا جبریل و، هغه تاسو ته راغلی و تر څو مو د دین چارې دروښیي»

## د لوست لارښوونې:

د جبرائیل علیه السلام حدیث یو لوی حدیث دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په کې د دین درې مرتبې (اسلام – ایمان – او احسان) په کافي او قناعت بخشه توګه بیان کړي، نو مسلمان یې باید حفظ کړي. او پر معنا یې ځان پوه کړي.

په مسلمانانو د الله تعالی له نعمتونو څخه یو دا دی چې د دوی دین یې د نورو دینونو او تګلارو پر خلاف روښانه ګرځولی، چې هغو تولو یې پیروان له اضطراب او ګډوډۍ سره مخ کړي، او له امله یې په تیارو کې ژوند کوي.

جبرائیل علیه السلام د الله په نزد عظیمه ملائکه ده او هغه څوک دی چې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم وحی نازلوي، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام یې نه ګوري.

خو دا ځل د یو انسان په څېره کې دوی ته راغلی و.

دا حدیث مسلم په کتاب الإیمان، باب: بیان الإیمان والإسلام والإحسان، کې راوړی دی، د حدیث شمیره (۱).

ملیا: یعنې اوږد وخت.

مطلب دا چې د دښتو پر اوسیدونکو او د دوی په څېر نورو اړمنو او غریبانو خلکو به دومره د دنیا پراخې راشي چې په ودانیو جوړولو کې به له یو بل سره سیالي کوي.

پدې معنا چې وینځه به خپل بادار او یا باداره وزیږوي.

یعنې دا چې ننوتونکي سرې خپل لاسونه په خپلو ورنونو کېښودل او د زده کوونکي په بڼه کېناست.

د قیامت علم یو غیب دی چې الله تعالی پرې پوهېدل د ځان پورې ځانګړی کړی دی، نه پرې کومه نږدې ملائکه او نه لیږل شوی پیغمبر پوهیږي.

---

د المدثر معنا ده: یعنې ای هغه څوکه چې ځان دې په جامو کې د وحی د نازلېدو پر مهال د ملائکې په لیدلو سره د ویرېدو له امله تاو کړی دی.

یعنې دا چې ننوتونکي سرې خپل لاسونه په خپلو ورنونو کېښودل او د زده کوونکي په بڼه کېناست.

پدې معنا چې وینځه به خپل بادار او یا باداره وزیږوي.

مطلب دا چې د دښتو پر اوسیدونکو او د دوی په څېر نورو اړمنو او غریبانو خلکو به دومره د دنیا پراخې راشي چې په ودانیو جوړولو کې به له یو بل سره سیالي کوي.

ملیا: یعنې اوږد وخت.

# پوښتنې

س۱ د جبریل له حدیث څخه لاندې څوابونه رواباسئ:

| ج | ب | أ |
|---|---|---|
| د احسان د مرتبې لپاره دلیل | د ایمان د مرتبې لپاره دلیل | د اسلام د مرتبې لپاره دلیل |

س۲ د جبریل له حدیث څخه د قیامت هغه نښې راوباسه چې پکې ذکرشوي دي؟

.................................................................................................................................

س۳ ولې جبریل علیه السلام راغی او له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه یې پوښتنې وکړې؟

.................................................................................................................................

س۴ پدې حدیث کې صحابه کرام څه شی ته حیران شول؟

.............................................................................................................................................

س۵ س۶: جبریل علیه السلام ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وینا څه معنا:

«پدې (ځواب) له پوښتونکي څخه پوښتل شوی ډېر نه پوهېږي».

.............................................................................................................................................



# د پیغمبر محمد صلى الله عليه وسلم پېژندنه

## درېیم اصل
## د خپل نبي محمد -صلى الله عليه وسلم- پېژندنه

هغه محمَّد بن عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم دی، هاشِم له قریشو څخه و، او قُرَیْش عرب و، او عَرب د إسماعِیلَ بن إبراهیم الخلِیل علیه وعلى نَبِیِّنا أفضَل الصَّلاة والسَّلام له نسل څخه و، هغه دري شپېته کاله عمر درلود، څلوېښت له نبوت څخه وړاندې او درویشت کاله نبي او رسول و، په ﴿اقْرَأْ﴾ سره نبي، او په ﴿الْمُدَّثِّرُ﴾، سره رسول ولېږل شو، ښار يې مَکَّة مکرمه وه او مدينې منورې ته يې هجرت وکړ.

### د لوست لاربښووني:

دا په اسلامي امت د الله فضل دی چې د خپل پیغمبر صلى الله عليه وسلم د ژوند په جزئیاتو پوهېږي، او دا یو روښانه ژوند دی چې امتیانو ته يې پيروي او په لاربښوونو عمل اسانوي.
دا په عربو د الله جل جلاله نعمت و چې د هغوی له ډلې څخه يې محمد صلى الله عليه وسلم ولېږه، نو په دې فضیلت سره هغوی ته په نورو ملتونو کې د اسلام د خپرولو مسوولیت ورتر غاړې شـو.
د محمد صلى الله عليه وسلم نبوت د جبرائيل عليه السلام په اقرأ سورت نازلولو سره پیل شو. بیا ورته الله جل جلاله د المدثر سورت په نازلولو سره د رسالت د رسولو امر وکړ.

# پوښتنې

س۱ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نسب وو ایه؟

..............................................................................................................................................

س۲ لاندې تش ځایونه ډک کړه:

رسول الله صلی الله علیه وسلم په ............................ کې وزیږید او ............................ ته یې هجرت وکړ

رسول الله صلی الله علیه وسلم ...................... کاله عمر درلوده چې له هغو څخه یې ............................
له نبوت څخه مخکې او ............................ د نبي او رسول په حیث و، په ................ سره نبي او په ........
....................... سره رسول ولیږل شو.وکړ.

س۳ الله جل جلاله عربو ته په څه سره فضیلت ورکړی؟

..............................................................................................................................................

س۴ په تفصیل سره د رسول الله صلی الله علیه د ژوند په اړه معلومات درلودل څه ګټه لري؟

..............................................................................................................................................

# د رسول الله صلى الله عليه وسلم بلنه

**الله تعالى له شرک څخه په ویرولو او توحید ته د بلنې ورکولو لپاره لیږلی دی.**

دلیل د الله تعالی دا قول دی:

﴿يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ۝١ قُمْ فَأَنذِرْ ۝٢ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ۝٣ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ
۝٤ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ۝٥ وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ ۝٦ وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ﴾

[المدثر: آیه ۱ - ۷].

ای په جامه کې ځان نغښتونکیه ۱ پاڅیږه او خبرداری ورکړه ۲ او د خپل رب لویي بیان کړه ۳ او خپلې جامې پاکې وساته ٤ او چټلی نه لرې اوسه ٥ او داسې ښېګڼه مه کوه چې د بدل زیاتول غواړې ٦ او خاص د خپل رب لپاره، پس صبرکوه ۷

او د لاندې آیتونو معنا داسې ده:

| | |
|---|---|
| ﴿قُمْ فَأَنذِرْ﴾ ته پورته شه، نو (خلق) وویروه | له شرک څخه یې ویروي او توحید ته بلنه ورکوي، |
| ﴿وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ﴾ او نو د خپل رب لويي بيانوه | يعني په توحيد سره يې عظمت بيان کړه، |
| ﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾ او نو خپلې جامې پاکې ساته | يعني: کړنې دې له شرک څخه پاکې کړه، |

﴿ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴾

او ګناه (او بتان) ترك كړه

الرُّجْز: بتان، او پرېښودل يې، يعني پخپله بتان او مشركان پرېښودل، او له هغوی او مشركانو څخه بيزاري، لس كاله يې توحيد ته په بلنې وركولو تېر كړل، او له لسو كالو وروسته اسمان ته وخېژول شو او پنځه وختونه لمونځونه پرې فرض كړې شول، په مكه مكرمه كې يې درې كاله لمونځ وكړ، او له هغې وروسته ورته مدينې منورې ته په هجرت كولو امر وشو.



## د لوست لارښووني:

د رسول الله صلی الله عليه وسلم بلنه د شرك د بدمرغۍ بيان او په وړاندې يې اخطار وركول، د توحيد عظمت بيانول او ورته د بلنې په وركولو كې خلاصه كيږي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه څه تطبيق كړل چې امر يې ورته شوی و، خپل زړه او عملونه يې له هر ډول شرك څخه پاك كړل، د بتانو پر وړاندې وجنګيده او الله تعالی يې په يووالي سره ياد كړ.

د المدثر معنا ده: يعني ای هغه څوكه چې ځان دې په جامو كې د وحی د نازلېدو پر مهال د ملايكې په ليدلو سره د ويرېدو له امله تاو كړی دی.

هغه څه چې د توحيد اهميت ته اشاره كوي دا دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ديارلس كاله په مكه كې بلنه وركړه، هڅه يې دا وه چې د صحابه كرامو په زړونو كې ځای وركړي، لس كاله له اسراء څخه وړاندې او درې كاله ترې وروسته.

مدينې ته له هجرت څخه وړاندې مسجد الاقصی ته په وړلو او بيا اسمانونو ته په خېژولو سره خپل رب عزتمند كړ، رب تعالی يې ورسره خبرې وكړې، او دا هر څه په يوه شپه كې وشول.

# پوښتنې

س۱ په کریمه آیتونو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په څه سره امرشوی دی؟

.....................................................................................................

س۲ د رسول الله صلی الله علیه وسلم بلنه په څه شي کې خلاصه کیږي؟

.....................................................................................................

س۳ د بتانو پرېښودل په څه سره کیږي؟

.....................................................................................................

س۴ آیا رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه څه تطبیق کړي دي چې امرېې ورته شوی و، او څنګه؟

.....................................................................................................

س۵ پنځه وخته لمونځونه چېرته فرض کړی شول؟ او دا په څه دلالت کوي؟

.....................................................................................................

شلم لوست

# هجـــرت

**الهجرة:** د شرک له هیواد څخه د اسلام هیواد ته تلل.

**او د شرک له هېواد څخه د اسلام هېواد ته هجرت کول پدې امت فرض دي، دا حکم د قیامت ترراتللو پورې پاتې دی.**

دليل د الله تعالی دا قول دی:

﴿إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنتُمْ ۖ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ ۚ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا ۚ فَأُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾ إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ﴿٩٨﴾ فَأُولَٰئِكَ عَسَى اللَّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا﴾

النساء: آیه٩٧ - ٩٩ ایه].

بې شکه هغوی چې ملايکې يې ساه اخلي په داسې حال کې چې پر خپلو ځانو ظالمان وو، (ملايکې) ورته وايي په څه حال کې وئ؟ دوی به وايي موږ په ځمکه کې کمزوري وو، ورته وايي آيا د الله ځمکه پراخه نه وه چې هجرت مو پکې کړی وی؟ نو د دې خلکو استوګنځی جهنم دی او هغه د ورګرځېدلو ډېربد ځای دی (٩٧)

پرته له هغو کمزورو نارينه و، ښځو او ماشومانو چې نه څه چاره لري او نه کومه لارپېژني (٩٨)

نو دغه خلق (چې دي) اميد دی چې الله به هغوی ته معافي وکړي او الله له ازله ښه معافي کوونکی، ښه بخښونکی دی

او د الله تعالی دا وینا:

﴿ يَا عِبَادِىَ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ أَرْضِى وَاسِعَةٌ فَإِيَّاىَ فَاعْبُدُونِ ﴾

[العنکبوت: ایه ٦٥].

**ای زما هغو بنده ګانو چې ایمان يې راوړی! بېشکه زما ځمکه پراخه ده، نو تاسو خاص زما عبادت کوئ**

بغوي -رحمه الله- وايي [٢٩]:

د دې آیت د نزول سبب دا دی، چې دا د هغو مسلمانانو په اړه دی چې په مکه کې وو او هجرت يې نه و کړی، الله ورته د ایمان په نوم غږ وکړ

د هجرت دليل له سنت څخه: د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول دی:

ژباړه: «هجرت تر هغه نه پرې کېږي تر څو چې توبه نه وي بنده شوې، او توبه تر هغه نه بندېږي تر څو چې لمر له لویدیځه نه وي راپورته شوی» [٣٠]



## د لوست لارښوونې:

په دې ژوند کې د مسلمان د شتون هدف دا دی چې د الله عبادت وکړي او له هغه سره هيڅ شی شريک نه کړي، له دې امله الله تعالى په مسلمان فرض کړي -چې کله يې کولی شول- نو د شرک له هېواد څخه دی د اسلام هېواد ته هجرت وکړي؛ کله يې چې هلته د الله تعالى شعاير نه شو ښکاره کولی.

د مشروع هجرت څخه موخه يوازې فزيکي ځای بدلول نه دي، بلکې د الله تعالى د احکامو اطاعت او د هغه له ممانعتونو څخه ډډه کول دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

ژباړه: «مهاجر هغه دی چې هغه څه پرېږدي چې الله ترې منع فرمايلي وي» [٣١]

---

أحمد روايت کړی (٦٥/٥) شميره: (١٦٤٦٣)، او أبو داود د کتاب الجهاد په سرکې راوړی دی، باب: في الهجرة هل انقطعت (١/٣)، شميره (٢٤٧٩)، او دا الفاظ د همده دي.

# پوښتنې

س۱ هجرت تعریف کړه؟

........................................................................................................................................

س۲ په لاندې ځوابونو کې سم ځواب غوره کړه: د هجرت حکم:

بخاري په کتاب الإيمان باب: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده، کې په (۱۰) شمیره روایت کړی دی.

سنت | روا | فرض

س۳ له سنت څخه د هجرت په اړه دلیل وړاندې کړه؟

........................................................................................................................................

س۴ له هجرت څخه موخه څه ده؟

........................................................................................................................................

شپږویشتم لوست

# د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت بشپړتیا او عمومیت

کله چې په مدینه کې ځای پر ځای شو، د پاتې قوانینو د نافذیدو امر ورته وشو لکه:
زکات، روژه، حج، اذان، جهاد، امر بالمعروف او نهی عن المنکر او داسې نور شرعي قوانین، پدې کې یې لس کاله تېر کړل، او وروسته هغه صلی الله علیه وسلم وفات شو، دین یې پاتې دی، هیڅ خېر یې ندی پرېښی مګر دا چې خپل امت ته یې ورښودلی او هیڅ شر یې ندی پرېښی مګر دا چې خپل امت یې ترې ویرولی.
او هغه خیر چې ده خپل امت ته ښودلی: توحید او ټول هغه څه دي چې د الله خوښ دي او پرې راضي کېږي، او هغه شر چې امت یې ځینې ویرولی: شرک او ټول هغه څه دي چې د الله نه دي خوښ او منع یې ترې کړې ده.
الله تعالی ټولو خلکو ته لیږلی دی، او په ټولو انسانانو او پیریانو یې د هغه پیروي فرض کړې ده.

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا﴾ [الأعراف: آیه ۱۵۸].

وو ایه: اې خلکو! پرته له شکه زه تاسو ټولو ته د الله استازی یم)

الله تعالی پرې دین بشپړ کړی دی دلیل یې دالله تعالی دا قول دی:

﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾ [المائدة: آیه ۳]

نن ورځ ما تاسو لپاره ستاسو دین مکمل کړ او پر تاسو مې خپل نعمتونه تمام کړل او ما ستاسو لپاره اسلام د دین په توګه خوښ کړ

او د هغه -صلی الله علیه وسلم- پر وفات دلیل د الله تعالی دا قول دی:

﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ٣٠ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ﴾

[الزمر: آیه ۳۰- ۳۱].

**بې شکه ته مړکېدونکی یې او دوی هم مړه کېدونکي دي (۳۰)**
**بیا بېشکه تاسو به د قیامت په ورځ د خپل رب په وړاندې، یو تربله جګړه کوئ**



## د لوست لارښووني:

وروسته له دې چې توحید د مسلمانانو په زړونو کې ځای ونیوه، په مدینه منوره کې عملي قوانین نازل شول لکه: روژه، زکات او حج.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل امت ډیر حریص، خواخوږی او مهربان و، لدې امله یې هرې ښېګڼې ته د هغوی لارښوونه کړې او له هر شر څخه یې منعه کړې ده.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم رسالت ټولو انسانانو او پیریانو ته عام دی، لدې امله به له هغوی ټولو څخه په قبرونو کې د هغه صلی الله علیه وسلم په اړه پوښتنه کیږي.

زموږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم رسالت یو بشپړ پیغام دی او د بشپړتیا نښې یې په لاندې ډول دي:

أ- په دې کې هرڅه شامل دي چې د دین او دنیا له چارو سره مناسب دي.

ب- نیمګړتیا پکې نشته او نه زیاتوالي ته اړتیا لري.

زموږ نبي محمد صلی الله علیه وسلم داسې وفات شوی لکه څنګه چې نور انسانان وفات کیږي، او عمر یې ۶۳ کاله و، صلی الله علیه وسلم.

# پوښتنې

س۱ عملي قوانین کله او چیرته نازل شول؟

.................................................................................................................

س۲ هغه کوم خبرا و ښیګڼه ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت ته ورښودلې دی؟

.................................................................................................................

س۳ رسول الله صلی الله علیه وسلم چاته لیږل شوی؟ دلیل یې ووایه؟

.................................................................................................................

س۴ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت د بشپړتیا ځینې نښې وښیه؟

.................................................................................................................

س۵ آیا رسول الله صلی الله علیه وسلم هم لکه د نورو انسانانو په څېر وفات شوی دی؟ دلیل یې څه دی؟

.................................................................................................................

# له مرګ نه وروسته بیا راژوندي کېدل

**خلک له مرګ نه وروسته بیا راژوندي کیږي.**

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ﴾

[طه: آیه ٥٥].

له هم دې (ځمکې) نه مونږ تاسو پیدا کړې یاست او په هم دې کې به مونږ تاسو ننه باسو، او بل کرت به مونږ تاسو راوباسو

او د الله تعالی دا قول:

﴿وَاللَّهُ أَنبَتَكُم مِّنَ الْأَرْضِ نَبَاتًا ﴿١٧﴾ ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا﴾

[نوح: آیه ١٧ - ١٨]

او تاسې یې له زمکې نه (په یوه خاص ډول) راوټوکولئ (١٧) بیا به دی تاسو په دې کې ننباسي او راوبه موباسي په خاصو را ایستلو سره

**او له بیا راژوندي کېدو وروسته به ورسره حساب کیږي او په عملونو به یې بدل ورکول کیږي.**

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ أَسَاءُوا بِمَا عَمِلُوا وَيَجْزِيَ الَّذِينَ أَحْسَنُوا بِالْحُسْنَى﴾

[النجم: آیه ٣١].

او په اسمانو او زمکه کې چې څه دي هغه (یوازې) الله لره دي. ترڅو بد عمله کسانو ته د خپلو عملو بدله ورکړي او چا چې ښه کړي هغوته په ښو سره بدله ورکړي

## او چا چې بیا راژوندي کېدل دروغ وګڼل کافر شو.

دليل د الله تعالی دا قول دی:

﴿زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَن لَّن يُبْعَثُوا ۚ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۚ وَذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ﴾

[ التغابن: آیه ۷]

کافرانو دا ګمان (او دعوا) کړې چې بیا به دوی راژوندي نه شي ورته ووایه: ولې نه! زما په رب قسم چې تاسې به راژوندي کېږئ او څه مو چې کړي په هغو به خبرېږئ او دا په الله ډېره اسانه ده

## د لوست لارښوونې:

الله جل جلاله پر ټولو انسانانو مرګ لیکلی حتی پر پیغمبرانو، یوازې د هغه پاک ذات مخ پاتې کېدونکی دی، الله تعالی فرمايلي:

(كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴿٢٦﴾ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ)

ژباړه: (هر هغه څوك چې په دې (ځمکې) باندې دي؛ فاني کېدونکي دي.

او باقي به پاتې شي ستا د رب مخ (ذات) چې د جلال او د عزت خاوند دی) [سورت الرحمن: ۲٦ - ۲۷ ایتونه].

مرګ ابدي پای نه ده، بلکې دا د دوو ژوندونو تر منځ یوه منځمهاله مرحله ده چې له هغې وروسته به د قیامت په ورځ له قبرونو څخه مخلوقات راپورته کیږي.

له قیامت وروسته به الله جل جلاله له خلکو سره د هغه څه حساب کوي چې په دې دنیا کې یې کړي دي، الله تعالی فرمايلي:

(فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ﴿٧﴾ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ)

ژباړه: (نو هغه څوک چې د یوې ذرې په اندازه نېک عمل وکړي، (نو) دی به هغه ویني.

او هغه څوك چې د یوې ذرې په اندازه د شر (او بدۍ) عمل کوي (، نو) دی به هغه ویني). [سورت الزلزلة:۷-۸ ایتونه].

# پوښتنې

س۱ د قیامت په ورځ د خلکو د بیا راژوندي کېدلو دلیل څه شی دی؟

...................................................................................................................................

س۲ په اعمالو د بدلې ورکولو څه دلیل دی؟

...................................................................................................................................

س۳ د هغه چا حکم څه دی چې له مرګ نه وروسته بیا راژوندي کېدل نه مني؟

...................................................................................................................................

س۴ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت د بشپړتیا ځیني نښې وښیه؟

...................................................................................................................................

# د رسولانو لومړی او وروستی

درويشتم لوست

**الله تعالی ټول پيغمبران زيری ورکوونکي او ويروونکي رالېږلي دي.**

دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ﴾

[النساء : آيه ١٦٥].

او (مونږ لېږلي وو) رسولان، چې زيری ورکوونکي او ويروونکي وو، د دې لپاره چې د خلقو لپاره په الله باندې څه حجت پاتې نشي



**لومړنی (رسول) نوح عليه السلام او وروستی يې محمد -صلی الله عليه وسلم- دی او هغه خاتم النبيين هم دی.**

### د دي دليل چې نوح لومړنی دی، د الله دا قول دی

﴿إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ﴾

[النساء: آيه ١٦٣].

يقينا موږ تا ته هماغه شان وحي درلېږلې ده لکه نوح او له هغه وروسته نبيانو ته مو چې ورلېږلې ده

**او له نوح نه تر محمد صلى الله عليه وسلم پورې هر امت ته الله رسول لېږلی دی، چې يوازې د الله پر عبادت يې ورته امر کړی او د طاغوت له عبادته يې منع کړي دي.**

### دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ﴾

[ النحل: آيه ٣٦ ].

او يقينًا يقينًا مونږ په هر يو امت کې يو رسول لېږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ

او الله پر ټولو بندګانو فرض کړې چې پر طاغوت کفروکړي او پر الله ايمان ولري ٣٢

## د لوست لارښوونې:

د رسولانو دنده: د هغو نعمتونو زيرى ورکول چې الله تعالى د طاعت او ايمان خاوندانو ته چمتو کړي، او له هغه څه څخه وېرول چې الله تعالى د شرک او ګناه خاوندانو ته چمتو کړي، او الله ته د عبادت کولو بيانول.

د الله تعالى له رسولانو څخه لومړی (نوح عليه السلام) او وروستی يې محمد (صلى الله عليه وسلم) دی. له دوی څخه: إبراهيم، موسى، عيسى، او نور پيغمبران عليهم السلام دي.

محمد صلى الله عليه وسلم خاتم الانبياء دی، له هغه وروسته بل پيغمبر نشته، او هر څوک چې ادعا کوي چې هغه ته وحې شوې ده او له هغه وروسته د نبوت ادعا کوي، هغه دروغجن دی لکه: مسيلمه الكذاب. الله تعالى فرمايلي:

مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ )

ژباړه: (محمد (ﷺ) ستاسو په سړيو کې د هيچا پلار نه دی، مګر د الله رسول دی او د نبيانو (د لړۍ) پای ته رسوونکی دی).

[سورت الأحزاب: ٤٠ ايت].

« الأُصول الثَّلاثة وأدِلَّتُها «. رساله پای ته ورسېده.

# پوښتنې

س۱ د پیغمبرانو علیهم الصلاة و السلام دنده څه وه؟ دلیل یې ووایه:؟

..............................................................................................................

س۲ لومړی رسول علیه الصلاة و السلام څوک و؟ دلیل یې ووایه.؟

..............................................................................................................

س۳ وروستی پیغمبر علیه الصلاة و السلام څوک و؟ دلیل یې ووایه؟

..............................................................................................................

س۴ پرهغه چا په څه رد کوې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وروسته د پیغمبرۍ دعوه وکړي؟

..............................................................................................................

جمعية خدمة المحتوى
الإسلامي باللغات

# درسي نصاب، فقه

## پنځمه سویه



## لومړی لوست (۲)

# د اوبو ډولونه

**لومړی:** پاکې اوبه، هغه اوبه دي چې په هغه بڼه پاتې وي چې الله تعالی پیدا کړې دي،
لکه: د چینو، بحرونو، سیندونو، بارانونو، څاګانو او داسې نورو اوبه.

**حکم:** په دې سره پاکوالی صحیح دی.

**دویم:** نجسې اوبه؛ هغه اوبه دي چې رنګ، خوند او بوی یې د ناپاکۍ له امله بدل
شوی وي؛ برابره خبره ده چې اوبه لږې وي او که ډېرې.

**حکم یې:** په دې سره پاکوالی صحیح نه دی او د څښلو لپاره اوبه
خوړو او داسې نورو کې یې کارول حرام دي.

د هغو اوبو حکم چې کله ورسره پاک شی ګډ شي:
کله چې د اوبو سره یو پاک شی ګډ شي لکه: زعفران، چای، صابون، رنګ، خاوره او له
امله یې د اوبو رنګ بدل شي، خو بلې مادې ته نه وي اوښتې، نو په خپل پاکوالي پاتې دي.
خو کله چې اوبه بلې مادې ته واوړي لکه: رنګ، چای او یا خټه، نو بیا پرې پاکوالی نه
صحیح کیږي؛ ځکه چې اوبه ورته نه ویل کیږي.

**ښوونکي ته:**

ښوونکی د اوبو د ډولونو په اړه د خبرو کولو لپاره د موضوع د سریزې په توګه وایي چې د لمانځه او داسې نورو کارونو لپاره طهارت شرط دی، او دا چې له طهارت څخه موخه دوه کارونه دي: لومړی: د بې اودسۍ لرې کول او دا چې د حدث معنا داسې یو حالت دی چې پر بدن راځي او له امله یې له لمانځه څخه منع کیږي. او دویم: له بدن، کالیو او ځای څخه د نجاست لرې کول دي. بیا زده کوونکو ته تشریح کوي چې دا طهارت په اوبو سره کیږي او اوبه په دوه ډوله دي.

# پوښتنې

## س۱ د اوبو ډولونه او د هر ډول حکم وښيه؟

.................................................................................................................................

## س۲ د سم ځواب لاندې کرښه کش کړئ:

۱ کله چې په اوبو کې يو پاک شی ولويږي او په رنګ بدلې شي نو په هغو اوبو:

(طهارت نه کيږي - په خپل پاکوالي پاتې کيږي - ناپاکه کيږي)

۲ د بحر اوبو ته:

( پاکې اوبه ویل کیږي - ناپاکه اوبه ویل کیږي)

## س۳ تش ځايونه ډک کړئ

ناپاکه اوبه هغه اوبه دي چې: .............................................................

«ناپاکه اوبه: په ناپاکو اوبو طهارت .........................................»

په ناپاکو اوبو : ...........................................................................حرام دي

لمونځ تعريف يې:

# په موزو مسح کول

تاسو لا دمخه پوه شوي یاست چې د اوداسه له فرضونو څخه: د ښنګرو پورې د پښو وینځل دي، خو ځيني وختونه د یخنۍ او یا بل څه له امله مسلمان اړتيا پیدا کوي چې پښې - په موزو او یا جرابو سره- پټې کړي، نو آیا هرځل پرې په اودس کې د پښو وینځلو پر مهال د موزو او یا جرابو ویستل لازم دي؟

ځواب: پر هغه دا کار لازم نه دی، ځکه دا پر بندګانو د الله تعالی مهرباني او پر هغوی اساني ده چې په موزو او داسې نورو يې ورته د پښو وینځلو پر ځای مسح روا کړې ده.



**ښوونکي ته:**

- موزه تر هغه پورې د پښو پټوونکې بلل کيږي (مسح پرې کيږي) چې د موزې اطلاق پرې کيږي، يعني په سوريو سره يې حکم نه بدليږي،
- ښوونکی روښانه کوي چې مسح د وخت په پای ته رسيدلو، د موزو او جرابو او يا يو له دوی څخه په ويستلو سره مسح باطليږي او يا دا چې جنابت رامنځته شي.
- د اسلام مهربانی او آسانتيا ته اشاره.
- ښوونکی د زده کوونکو په وړاندې عملي مسح کوي او له هغوی غواړي چې ورپسې يې عملي کړي.

او د بلال رضي الله عنه حديث پرې دليل دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پر موزو مسح کړې ده [٤]

**الخف:** يعني موزه، هغه څه چې له څرمنې او داسې نورو څخه جوړه شوې وي او پښو ته وراغوستل کيږي.

**الجورب:** (جورابې) هغه چې له مالوچو او داسې نورو څخه جوړيږي او پښو ته وراغوستل کيږي، او شوراب ورته ويل کيږي.

## د مسحې شرطونه

**مسح شرطونه لري لکه:**



١ چې موزه او يا جورابه له پاک شي څخه جوړه شوې وي.
٢ چې موزه او يا جرابه مباح وي، ځکه په حرامو مسح نه کيږي لکه په غصب سره اخيستل شوې، غلا شوې او يا دا چې د سړيو لپاره له وريښمو جوړې شوې وي.
٣ چې موزه او يا جرابه پښو لره تر ښنګرو پورې پټوونکې وي.
٤ چې موزه او يا جرابه يې له بشپړ طهارت څخه وروسته پښو کړې وي.

## د مسحې موده:

**د مقيم لپاره د مسحې موده: يوه ورځ او شپه ده او د مسافر لپاره درې ورځې او شپې ده. د مسحې د مودې پيل او پای:**



د مقيم لپاره په جرابو مسح د اودس ماتې پسې له لومړۍ مسحې څخه پيليږي او د يوې ورځې او شپې په پای ته رسيدلو سره پای ته رسيږي، او دا موده د مسافر لپاره درې ورځې او شپې ده.

**د دې مثال:** که يو سړی د شنبې په ورځ د ماسپښين د لمانځه لپاره اودس وکړي، موزې او يا جرابې په پښو کړي، بيا يې اودس مات شي او کله چې په همدې ورځ د مازديګر د لمانځه لپاره اودس کوي او په موزو او يا جرابو مسح وکړي، نو کولی شي د راتلونکې ورځې د همدې وخته پورې پرې مسح وکړي، يعني د يکشنبې تر مازديګره پورې، نو که غوښتل يې چې د مازديګر لپاره اودس وکړي موزې او يا جرابې به لرې کوي او پښې به وينځي.

**د مسحې طريقه:**

اودس کوونکی خپل لاسونه په اوبو سره لندوي او د ګوتو له څوکو څخه تر ټوټو پورې پرې يو ځل لاس راکاږي، ښۍ پښه په ښي لاس او چپه په چپ لاس، او د پوندې او يا د پښې د لاندې برخې مسح کول روا نه دي.



# پوښتنې

**س۱** پرموزو مسح کول څه حکم لري؟، دليل يې ووايه.

..........................................................................................................................

**س۲** په (✓) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطۍ يې اصلاح کړئ:

١ - پرموزود مسحې له شرطونو څخه يو دا دى چې له څرمنې څخه جوړې شوې وي.

٢ - پرموزود مسحې نېته د اودس ماتې پسې له لومړى مسحې څخه پيلېږي.

٣ - د نبيّ له پاى ته رسيدو وروسته په جرابو مسح كول روا دي.





# پوښتنې

س۳ د (أ) د ستون جملې د (ب) د ستون له مناسبو جملو سره ونښلوئ:

| د (أ) ستون | د (ب) ستون |
|---|---|
| ۱- د مقیم لپاره د مسحې مــــوده | - درې ورځې او شپې |
| ۲- د مسافرلپاره د مسحې مـــوده | - مسح یې نه صحیح کیږي؛ ځکه چې له طهارت پرته یې په پښو کړي دي. |
| ۳- یو سړي جرابې غلا کړې، بیا یې واغوستې او مسح یې پرې وکړه. موده | - مسح یې نه صحیح کیږي؛ ځکه چې موزه مباح نه ده. |
| ۴- خالد جرابې په پښو کړې، حال دا چې اودس یې نه و او مسح یې پرې وکړه. | - یوه ورځ او شپه |
| | - کومه ځانګړې موده نه لري |

س۴ پر موزو د مسحې کولو طریقه څنګه ده؟

.....................................................................................................

س۵ یو سړي د ماښام د لمانځه پسې جرابې په پښو کړې، بیا یې د ماخوستن لپاره له اودس ماتولو وروسته اودس وکړ او پر موزو یې مسح وکړه. نو هغه وختونه وښیه چې دی پکې کولی شي له هغه وروسته پر موزو مسح وکړي.

.....................................................................................................

.....................................................................................................

# تيمـــم

﴿فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ﴾

[المائدة: ٦].

كله چې مسلمان د لمانځه اراده ولري نو پرې واجب دي چې په اوبو اودس وکړي؛ ځکه چې طهارت د لمانځه لپاره شرط دی، خو که اوبه ونه مومي، او يا يې اوبه درلودې خو د ناروغی، زخم او يا ډېرې يخنی له امله يې نه شو کولی چې اوبه وکاروي، نو تيمم دې ووهي، الله تعالی فرمايلي: (فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ) (بيا تاسو اوبه ونه مومئ، نو د ځمکې پاك مخ (خاورې وغيره) ته اراده وکړئ) يعني تيمم وکړئ.

- څوک چې اوبه و نه مومي، هغه څوک پرې قياس کيږي چې اوبه لري خو د کمښت له امله يې د تندې له ويرې نه کاروي، او يا داسې يو څوک چې برق يې لاړ شي او بل داسې څه نه لري چې اوبه پرې له ذخيرې راوباسي.
- ښوونکی زده کوونکو ته په عملي بڼه د تيمم طريقه بيانوي او له هغوی غواړي چې عملي يې کړي.



**د تيمم تعريف:** په ځانګړي طريقه په خاوره د مخ او لاسونو له مسح کولو سره د الله تعالى عبادت کول دي

**د تيمم طريقه:** په زړه کې نيت کوي، (بسم الله) وايي، بيا يو ځل په دواړو لاسونو خاوره (ځمکه) وهي، په لاسونو سره مخ مسح کوي او بيا په ښي لاس سره چپ لاس او په چپ لاس سره ښی لاس مسح کوي.

## د تيمم شرطونه



١- نيت.
٢- د اوبو له کارونې څخه ناتوانه کېدل؛ يا يې د نه شتون له امله او يا دا چې په کارولو سره يې له ضرر څخه ويره لري.
٣- چې خاوره پاکه وي.
٤- چې خاوره مباح وي.

## د تيمم باطلوونکي

١- د اوبو موندل، که څه هم د لمانځه په جريان کې وي، نه دا چې وروسته ترې پيدا شي، او يا دا چې د کارولو وړتيا يې رامنځته شي.
٢- د اوداسه په ماتوونکو سره باطليږي لکه:
أ - له شرمګاوو څخه د ډکو او تشو متيازو په راوتلو او يا باد وتلو سره.
ب- خوب او خوب ته ورته لکه بې هوښه کېدل.
ج- د اوښ غوښه خوړل.



# پوښتنې

س۱ د تیمم تعریف څه دی؟

..............................................................................................................................................

س۲ تش ځایونه بشپړ کړئ:

أ دوه حالتونه دي چې تیمم پکې روا دی:

..............................................................................................................................................

..............................................................................................................................................

ب د تیمم شرطونه دا دي:

..............................................................................................................................................

..............................................................................................................................................

..............................................................................................................................................



# پوښتنې

**س۳** آیا په لاندې حالتونوکې تیمم روا دی که په اوبو سره اودس کول واجب دي؟

**أ** یو سړی په خپل ښارکې دننه دی او په کور کې یې اوبه نشته.

**ب** یو سړی بیدیا ته لاړ، د لمانځه وخت راغی او یوازې دومره اوبه ورسره دي چې خوراک او څښاک ته یې بسنه کوي

**ج** یو سړی د سیند په غاړه ناست دی، د لمانځه وخت راغی او اوبه ورسره نشته، او ښارترې ډیر لرې دی

**س۴** د تیمم طریقه او باطلوونکي وښیه؟

..........................................................................................................

..........................................................................................................



ځلورم لوست [۱۰]

# لمانځه ته د تګ او انتظار کولو آداب

**مسلمان ته ښايي چې لمانځه ته د وتلو پر مهال شرعي آداب مراعت کړي، لکه:**

۱ - له طهارت سره ور ووځي.
۲ - کور څخه د وتلو پر مهال لاندې دعا ووايي، که څه هم د لمانځه لپاره نه وځي:
«(بِسْمِ اللهِ، تَوَكَّلْت على اللهِ، لا حَوْلَ ولا قُوَّةَ إلّا بالله) [۱۱]
«په نوم د الله، پر الله مې توکل کړی، (د الله تعالی له مرستې پرته هيڅ حرکت (تغيير) او قوت نشته (نه له ګناه څخه ګرځېدلی شي او نه نيکۍ تر سره کولای شي)».»
۳ - چې لمانځه ته په عاجزۍ او درناوي سره ووځي، [۱۲] دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول دی:
«إذا سَمعْتُم الإقامَة فامْشُوا وعليكم السَّكِينَة. فما أَدْرَكتُم فَصَلُّوا، وما فاتَكُم فأَتِمُّوا» [۱۳]. «کله مو چې اقامت واورېد، نو (مسجد) ته د عاجزۍ سره لاړشئ، کوم رکعتونو ته چې ورسيدې ويې کړئ او کوم چې درڅخه تیر شوي وو نو پوره يې کړئ».
۴ - چې جومات ته د ننوتلو پر مهال ښی پښه مخکې کړي، او د راوتلو پر مهال چپه پښه مخکې کړي، او هغه دعا ووايي چې د ابو حميد او ابو أسيد رضي الله عنهما په حديث کې راغلي ده وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:
««إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَقُلِ: اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ، وَإِذَا خَرَجَ فَلْيَقُلِ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ». [۱٤].
«کله چې ستاسو څخه يو څوک جومات ته ننوت نو ودې وايي: اې الله! ماته ستا د رحمت دروازې پرانيزه، او کله چې راووځي نو ودې وايي: اې الله! زه ستا څخه ستا د فضل غوښتنه کوم».»

**ښوونکي ته:**

**لمانځه ته د تللو ادبونه:**

- لمانځه ته وختي تللو ته د زده کوونکو هڅول او د دې د فضيلت بيانول.
- د ځينو هغو کارونو څخه د زده کوونکو ويرول چې لمانځه د تللو له ادابو سره په ټکر کې دي لکه: د اوږد وخت لپاره په لارکې دريدل او د ملګرو سره بې ګټې خبرې کول.
- په مسجد له بې هوده کارونو ډډه کول او د هغو بې هوده کارونو په يادونې ټينګار چې په جوماتونو کې (بې ځينې خلک) کوي.
- د رکعت د لاندې کولو په خاطر له بيړې کولو څخه منع کول.

أبو داود په خپل سنن کې راوړی دی: (۳۲۸/۵)، په شميره: (۵۰۹۵)، او ترمذي (۵/٤۹۰)، په شميره: (۳٤۲٦).

## د لمانځه د انتظار آداب:

**السَّكِينَة:** ارامتیا، په حرکاتو کې له آرامتیا څخه کار اخیستل او له بې ځایه کارونو ډډه کول. او وقار: په هیئت کې دی: لکه د سترګو کنټرول، غږ ټیټول او اخوا دېخوا لږ لیدل

### مسلمان ته په کار دي چې جومات ته له ننوتلو وروسته شرعي آداب رعایت کړي لکه:

١- چې جومات ته د ننوتلو پرمهال له کېناستو وړاندې دوه رکعته لمونځ وکړي، او دې ته تحیة المسجد وایي.

٢ چې جومات کې قبلې لور ته کېني، او ګوتې سره یو په بل کې ورننکړي او نه دې سره بیلوي.

٣ باید په جومات کې ځان په عبادت مشغول کړي لکه: لمونځ، د قرآن کریم تلاوت او ذکر.

٤ باید بې ځایه کارونه ونه کړي او لمونځ کوونکي ازار نه کړي؛ ځکه مسلمان چې تر څو په جومات کې وي نو هغه په لمانځه کې دی، تر څو چې دی لمانځه ته انتظار باسي، له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«« لا يَزالُ العَبْدُ في صَلاةٍ ما كان في مُصَلّاه يَنْتَظِرِ الصَّلاةِ، وتقول الملائِكَة: اللَّهمَّ اغْفِرله، اللَّهمَّ ارْحَمْه، حتَّى يَنْصَرِفَ أو يُحْدِث»[١٥]

«بنده تر هغه وخته پورې په لمانځه کې دی تر څو چې دی د لمانځه په ځای کې وي او لمانځه ته انتظار باسي، او ملایکې وایي: ای الله بخښنه ورته وکړه، الله رحم پرې وکړه (تر هغه وخته ورته دعا کوي) تر څو چې دی لاړ شي او یا خپل اودس مات کړي»[١٥]»

---

بُخاري په کتاب الجمعة، باب: المشي إلى الجمعة کې په شمیره (٩٠٨)، او مُسلِم په: کتاب المساجِد ومَواضِع الصَّلاة، باب: استِحباب إتيان الصَّلاة بِوَقار وسَكِينَة کې په شمېره: (٦٠٢) راوړی دی.

مسلم په کتاب صَلاة المسافِرين وقصرها، باب: ما يقول إذا دَخَلَ المسجِد کې روایت کړی دی: (٤٩٤/١)، شمیره (٧١٣).

بُخارِي په کِتاب الصَّلاةِ، باب: الصَّلاة في مَسْجِد السُّوق کې په شمیره (٤٧٧)، روایت کړی، او مُسلِم په کتاب المساجِد ومَواضِع الصَّلاة، باب: فَضْل صَلاةِ الجماعَة وانتِظار الصَّلاة، کې روایت کړی او دا الفاظ د همده دي (٤٥٩/١)، شمیره: (٦٤٩).

# پوښتنې

**س۱** درې هغه اداب وښيه چې يو مسلمان يې بايد لمانځه ته د وتلو پر مهال مراعت کړي؟

..........................................................................................................................

**س۲** درې هغه آداب وښيه چې لمانځه ته د انتظار ويستلو پرمهال يې بايد يو مسلمان مراعت کړي؟

..........................................................................................................................

**س۳** له سنت څخه دليل ووايه چې يو مسلمان بايد لمانځه ته د تللو پر مهال تېز لاړ نه شي؟

..........................................................................................................................



# پوښتنې

س۴ لاندې عبارتونه بشپړ کړه:

أ. مسلمان ته په کار دی چې جومات ته د ننوتلو پر مهال خپله ........................ او د راوتلو پر مهال خپله ........................ مخکې کړي

ب. له هغو آدابو څخه چې اسلام بلنه ورکړې دا دی چې مسلمان باید له کور څخه د راوتلو پر مهال ووايي:
............................................................................................................................................

ج. په جومات کې باید انسان په عبادتونو ځان بوخت کړي لکه:
............................................................................................

د. مسلمان ته ښايي چې جومات ته د ننوتلو پر مهال ووايي: ..................................................................
او د راوتلو پر مهال............................................................................................................

## پنځم لوست [١٦]

# د لمانځه طریقه



## لومړی رکعت

١ چې لمونځ کوونکی قبلې لور ته ودرېږي، یعنې د کعبې په طـــــــــــــــرف.

٢ بیا د (الله اکبر) په ویلو سره تحریمه تکبیر کوي، او له تکبیر سره خپـــــل دواړه لاســــــــــــونه د اوږو او یا غــــــــــــــــوږونو برابر پورتـــــــــــــــه کـــــوي.

٣ بیا خپل ښي لاس پر چپ لاس په سینه ږدي، او د سجدې ځای ته ګــــــــوري.

٤ بیا د استفتاح دعا وایي چې داسې ده: ( سُبحانَك اللَّهمَّ وبحمدِك، وتَبارَكَ اسمك، وتَعالى جَدُّك، ولا إلَه غيرُك ). (اې الله! پاکي او ستاینې یوازې تالره دي او نـــــوم دي مبــــــــــــارک دی، شان دې لوړ دی او له تا پرته بل معبـــــــــــود نشته).

٥ بیا په پټه : أعوذُ بِاللهِ مِن الشَّيطانِ الرَّجِيم، بِسمِ اللهِ الرَّحمنِ الرَّحِيمِ،وايي، بیـــا فاتحه لولي او په پای کې یې (آمین) وایي، بیا یو سورت او یا د سورت یوه برخه لـــولي.

## ښوونکي ته:

کله چې ښوونکی زده کوونکو ته د لمانځه طریقه بیانوي نو لاندې ټکو ته یې پام را اړوي:

- مقتدي په جهر قراءت نه کوي، نه په جهري او نه په سري لمانځه کې، خو قراءت کول پرې واجب دي او دا ورته بسنه نه کوي چې یوازې شونډې وخوځوي او ژبه ونه خوځوي.
- په سینه د لاسونو ایښودلو څرنګوالی، داسې چې ښی لاس د چپ لاس په مروند او بند کېږدي.
- د سبحانک اللهم دعا تشریح:

سُبْحانَكَ اللَّهمَّ ) اې الله له هر هغه څه نه ستا پاکي بیانوم چې ستا سره نه ښايي، (وبحمدِك): یعنې ستا له ستایلو سره یو ځای ستا تسبیح بیانوم، (وتَبارَكَ اسمُك) یعنې ستا برکتونه زیات دي. (وتَعالى جَدُّك) ستا شان لوړ او لوی دی، (ولا إله غيرُك) ستا پرته بل معبود نشته چې د عبادت مستحق وي.

- د اوږو او غوږونو برابر د لاسونو د پورته کولو څرنګوالی: داسې چې خپل لاسونه پورته کړي چې ګوتې یې سره نښتې او غځولې وي او د لاسونو ورغوي یې قبلې ته نیولي وي.

المنکب: اوږه یا ولی، هغه ځای چې د ولي سر او مټ سره یو ځای کېږي.

د (آمین) معنا: اې الله زموږ دعا قبوله کړه.

- ښوونکی ورته د تورک معنا تشریح کوي چې: تورک هغې ناستې ته ویل کېږي په ناسته کې ښی پښه داسې ودروي چې د ګوتو څوکې یې قبلې لور ته وي او چپه پښه د ښی پښې د پنډۍ لاندې کړي او ښي طرف ته یې راوباسي، او په مقعد داسې کېني چې زور یې په چپ کوناتي کړی وي.
- ښوونکی د لمانځه د طریقې لپاره یو عملي درس ځانګړی کوي.

امام په خفیه لمونځونو کې فاتحه او سورت دواړه په پټه لولي او په جهري لمونځونو کې یې په جهر لولي او منفرد یې په هر حالت کې خفیه لولي

خفیه لمونځونه: (ماسپښین او مازدیګر).

جهري لمونځونه: (ماښام، ماخوستن او سهار).

٦ بیا (الله اکبر) وایې او د لاسونو په پورته کولو سره رکوع ته ځي، او دواړه لاسونه په زنګنونو داسې ږدي چې د لاسونو ګوتې یې سره جلا وي- داسې لکه چې له ځنګنونو یې راتاو کړي وي، او ملا او سر سره برابر ساتي.

او په رکوع کې درې ځلې (سبحان ربی العظیم) وایي.

٧ بیا که چیرته امام او یا ځانته لمونځ کوونکی و نو د ( سمع اللهُ لِمَن حَمِدَه) په ویلو سره سر راپورته کوي، بیا تول وایي :( رَبَّنا ولك الحمد، حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُباركاً فيه، مِلْءَ السَّمواتِ ومِلْءَ الأَرْضِ، ومِلْءَ ما بَيْنَهما، ومِلْءَ ما شِئْتَ مِن شَيْءٍ بَعْد) ربه! تولې ستاینې ستا لپاره دي، ډېرې پاکې او مبارکې ستاینې، د آسمانونو او ځمکې او د هغو تر منځ د مخلوقاتو د ډکوالي په اندازه، او په اندازه د ډکوالي د هغو شیانو چې تا وروسته غوښتي دي»، او مقتدي چې دی نو هغه به د راپورته کېدو پرمهال :(رَبَّنا ولك الحمد) وایي: کله چې برابر ودریده بیا  حَمْداً كَثِيراً ...وایې، په داسې حال کې چې لاسونه یې په سینه ایښودلې وي.

٨ بیا د (اللهُ أكبَر) په ویلو سره سجدې ته ځي او په سجده کې درې ځلې (سُبْحانَ رَبي الأعلى) وایې. او سجده به په اوو اندامونو کوي چې عبارت دي له:

(تندی سره له پوزې - دواړه ورغوي - دواړه زنګنونه - او د دواړو قدمونو څوکې).

٩ بیا د (الله اکبر) په ویلو سره سر راپورته کوي، چپه پښه غوړوي او پرې کیني، او ښۍ پښه دروي او ګوتې یې قبلې لور ته کوي، او خپل دواړه لاسونه پر ورنونو او دواړو زنګنونو ږدي او (رَبِّ اغْفِرلي وارْحَمْني وعافِني واهْدِني وارزُقني واجْبُرني) وایي. «ای ربه، ما ته بخښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ماته عافیت راکړه (له هرې بلا مې وساته)، ما ته لارښوونه وکړه، ما ته روزي راکړه، زما غوښتنې ومنه، حال مې ښه کړه او نیمګړتیاوې مې رفع کړه».

١٠ بیا د (اللهُ أكبَر) په ویلو سره دویمه سجده کوي، او د لومړۍ سجدې په څېر کارونه پکې کوي.



## دويم رکعت

١١ بيا د (اللّٰهُ أَكبَرُ) په ويلو سره سر راپورته کوي او دويم رکعت ته پورته کيږي، او ټول هغه کارونه پکې کوي چې په دويم رکعت کې يې کړي وو، پرته د سبحانک الله) له ويلو څخه.



## لومړی تشهد

١٢ کله يې چې دويم رکعت وکړ لومړی تشهد ته کيني، چپه پښه غځوي او پرې کيني، ښی پښه داسې دروي چې د ګوتو څوکې يې قبلې لور ته وي، ښی لاس په ښي ورون ږدي او کچې او ورپسې ګوتې دواړه بندوي او د غټې ګوتې سره منځنۍ ګوته داسې نښلوي چې کړۍ ترې جوړه شي او د تشهد پر مهال په مسواکۍ ګوته اشاره کوي، او چپ لاس په چپ ورون او چپ زنګون ږدي او تشهد لولي چې په لاندې ډول دی:

(التحيات لله والصلوات والطيبات، السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين، أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله)، (ټول تعريفونه ، عبادتونه او ټولې پاکيزه خبرې الله لره دي، سلام دې وي پرتا باندې ای نبي او پرتا باندې دې د الله رحمت او برکتونه وي، او سلامتيا دې وي پر مونږ او د الله پر نيکو او صالحو بندګانو، زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل څوک د عبادت وړ نشته او شاهدي ورکوم چې محمد صلی الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دی)



## دريم او څلورم رکعت

١٤ که چيرته لمونځ له دوه رکعتې څخه زيات و، نو له لومړي تشهد وروسته د تکبير په ويلو سره پورته کيږي او دواړه د اوږو او يا غوږونو په برابرۍ پورته کوي، بيا په خفيه ډول فاتحه سورت لولي او هغه څه کوي چې په مخکنيو دوو رکعتونو کې يې کړي وو.

## وروستي تشهد



۱۵ کله چې له وروستي رکعت څخه فارغ شو، وروستي تشهد ته کيني، سنت طريقه دا ده چې د تورک په بڼه کيني، بيا تشهد وايي، بيا په رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې درود وايي:

«اللهم صلِّ على محمدٍ وعلى آل محمد، كما صليت على إبراهيمَ وعلى آل إبراهيم، إنك حميدٌ مجيد، وبارك على محمد وعلى آل محمد، كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنك حميدٌ مجيد» «ياالله! پر محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه پرکورنی رحمت و اوروه، لکه پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پرکورنی دې چې ورولی دی، بېشکه ته ستايل شوی اولوی یې. یا الله ! پر محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه پرکورنی برکتونه واوروه، لکه پر ابراهيم - عليه السلام - او د هغه پرکورنی دې چې ورولی دی، بېشکه ته ستايل شوی اولوی یې».

۱۶ بيا وروستي تشهد ته د ناستې پر مهال وايي:

«اللهم إني أعوذ بك من عذاب جهنم، ومن عذاب القبر، ومن فتنة المحيا والممات، ومن فتنة المسيح الدجال» «ای الله زه تاته د جهنم له عذاب نه، د قبرله عذاب نه، او د ژوند او مرګ له فتنې نه، او د مسيح دجال له فتنې څخه پناه درورم».

## دواړو لورو ته سلام ګرځول.



۱۷ بيا ښي او چپ لور ته د السَّلامُ عَلَيْكُم ورَحْمَةُ اللهِ، السَّلام عَلَيْكُم ورَحمَةُ اللهِ. په ويلو سره سلام ګرځوي.



# پوښتنې

## س۱ لاندې جملې بشپړې کړئ:

**أ** لمونځ کوونکي په اوو اندامونو سجده کوي چې دا دي: تندی سره له پوزې،

.................................... ،.............................. ،....................................

**ب** د استفتاح دعا: ...............................................................................

............................................. ولا اله غيرک.

## س۲ د (أ) په ستون د عبارت شميره د (ب) د ستون له مناسبې جملې سره وليکه:

| د (أ) ستون | د (ب) ستون |
| --- | --- |
| ۱- لمونځ کوونکی قبلې لور ته دريږي چې هغه: | ماسپښين او مازديگر. |
| ۲- خفيه لمونځونه دي: | سُبْحانَ ربي الأعلى. |
| ۳- لمونځ کوونکی په رکوع کې وايي: | «سبحانَ رَبِّيَ العظيم» «زما سترړب لره پاکي ده». |
| ۴- جهري لمونځونه دي: | ربِّ اغْفِرْ لي. «ای الله ! ما ته بښنه وکړې». |
| ۵- لمونځ کوونکی په سجده کې وايي: | کعبه. |
| ۶- لمونځ کوونکی د دواړو سجدو په مينځکې وايي: | ماښام، ماخوستن او سهار. |
| | ربَّنا ولك الحمدای زمونږ ربه ! تالره حمد او ثنا ده |



# پوښتنې

## س۳ په (✓) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطۍ اصلاح کړئ.

١ - لمونځ کوونکی خپل دسجدې ځای ته ګوري.

٢ - لمونځ کوونکی په دويم رکعت کې د استفتاح دعا وايي.

٣ - لمونځ کوونکی په لومړي تشهد کې خپله چپه پښه غوړوي او ښۍ پښه دروي.

## س۴ وواياسه چې لمونځ کوونکی لاندې اذکار کله وايي:

١ - د (آمين) ويل

٢ - «سبحانَ ربِّيَ العظيم» «زما سترړب لره پاکي ده»

٣ - سُبْحان ربي الأعلى «زما رب لره پاکي ده چې لوي ذات دی».

٤ - ربَّنا ولك الحمْد اى زمونږ ربه ! تالره حمد او ثنا ده.

٥ - ربِّ اغْفِرلي، اى زما ربه! ماته ښښنه وکړه

٦ - اللَّهم صَلِّ على محمَّد وعلى آلِ محمَّد ...تر آخره پورې



# د لمانځه سنتونه

شپږم لوست [۱۷]

يو شمېر وينا وې او کړني دي چې په لمانځه کې يې کول روا دي، او که په قصد او يا سهوې سره پرېښودل شي نو لمونځ يې نه باطلېږي، خو د لوی اجر له امله لمونځ کوونکي ته په کار دي چې پاملرنه ورته وکړي؛ او دا په دوه ډوله دي:

## لومړی ډول: قولي سنتونه، لکه:

١ - استفتاح، يعني: ( سُبْحانَكَ اللَّهمَّ وبحمدِك، وتَبارَك اسمُك، وتَعالى جَدُّك، ولا إله غيرُك ).(اې الله! پاکي او ستاينې يوازې تا لره دي او نوم دې مبارک دی، شان دې لوړ دی او له تا پرته بل معبود نشته).

٢ - تعوذ، يعني: په لومړي رکعت کې له قراءت پيلولو وړاندې: (أعوذُ بِاللهِ مِن الشَّيطانِ الرَّجِيم) ويل.

٣ - بسمله: يعني چې د فاتحې سورت او هر بل سورت په پيل کې (بسم الله الرحمن الرحيم) ووايې:

۴- التأمين: يعني د فاتحې سورت په پای کې ( آمين ) ويل.

۵ - په هر لمانځه کې په لومړي او دويم رکعت کې له فاتحې وروسته يو سورت او يا د سورت يوه برخه لوستل:

۶ - د وروستي تشهد په ناسته کې پر پېغمبر صلی الله عليه وسلم له درود ويلو وروسته دعا کول.

## دويم ډول: فعلي سنتونه لکه:

١ - په ځينو ځايونو کې د دواړو اوږو او يا دواړو غوږونو په برابرۍ د لاسونو پورته کول لکه: (د تحريمه تکبير پر مهال)، د ( رکوع پر مهال)، ( له رکوع څخه د پورته کېدو پر مهال) او (دريم رکعت ته له پورته کېدو وروسته).

٢ - د قيام پر مهال ښی لاس پر چپ لاس د سينې د پاسه ايښودل.

٣ - د سجدې ځای ته ليدل.

۴ - د دواړو سجدو په مينځ او لومړي تشهد کې په غوړيدلي حالت کېناستل: داسې چې چپه پښه وغړوي او پرې کيني، ښی پښه ودروي او کوتې يې قبلې لور ته تاوې کړي.

۵ - په رکوع کې دواړه لاسونه په زنګنونو ايښودل، داسې چې کوتې يې پراخه وي او د زنګنونو له سترګو يې چاپېره کړي.

۶ - دا چې لمونځ کوونکی خپلې مخې ته ستره کېږدي لکه: امسا او داسې نور، او که چېرته يې څه ونه موندل نو خپلې مخې ته دې د مياشتې په څېر کول خط کش کړي او لمونځ دې ورته وکړي. چې له خپلې مخې څخه تېرېدونکی منع کړي.

# پوښتني

س۱ په لمانځه کې درې قولي او درې فعلي سنتونه وښیه.؟

...............................................................................................................................

س۲ په لمانځه کې په څلورو ځایونو کې لاسونه پورته کول فعلي سنت دی: هغه کوم ځایونه دي؟

...............................................................................................................................

س۳ په لاندې سنتونو کې قولي او فعلي سنتونه سره جلا کړه:

أ بسم الله.

ب د قیام پر مهال لاسونه په سینه ایښودل.

ج آمین ویل.

د لمونځ کوونکي په مخکې د تیرېدونکي منع کول.



# پوښتني

## س۴ د لاندې کارونو طریقه بیان کړه:

أ) د لاسونو پورته کول ............................................................

ب) په رکوع کې د لاسونو کیښودل: ........................................................

ج) په غوړیدلي حالت کېناستل: ........................................................



**ښوونکي ته:**

- له یادو (سنتونو پرته) ځینې نور مسنونه اقوال، افعال او حالتونه شته چې باید ښوونکی ورته پاملرنه وکړي، تر څو یې زده کوونکو ته په عملي لمانځه ښودلو کې مراعت کړي.
- ښوونکی د قولي او فعلي سنتونو پر اهمیت ټینګار کوي او دا چې مراعتول یې د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم سره د مینې درلودلو دلیل دی.

اووم لوست

# په لمانځه کې مکروهه کړنې

مسلمان د الله تعالی دا وینا لولي:

﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ ۝١ (یقینًا مومنان کامیاب شول)
الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ ۝٢ (هغوی چې په خپلو لمونځونو کې خشوع کوونکي دي)﴾

[المؤمنون: آیه ۱۲]

نو د خپل لمانځه ساتنه کوي، او له ارکانو، واجباتو او شرطونو سره یې ادا کوي، او هېڅ داسې کار نه کوي چې د لمانځه سره په ټکر کې وي لکه: خبرې، حرکت او خندا؛ ځکه چې د الله تعالی د ثواب تمه لري او له سزا څخه یې وېرېږي، او ځینې نورې کړنې شته چې د لمونځ کوونکي لپاره یې کول مکروه دي، او کول یې د لمانځه د بشپړې طریقې سره خلاف دي، او اجرې یې کموي لکه:

۱- له اړتیا پرته بل لور ته مخ او سینه اړول، نو که چېرته په ټول بدن سره تاو شو لمونځ یې باطل دی.
۲- آسمان ته کتل.
۳- له اړتیا پرته سترګې پټول.
۴- خوله او پوزه پټول.
۵- په سجده کې څنګلې لګول.
۶- له اړتیا پرته لاس او پښه خوځول او یا په کالیو، غترې (د سر دستمال) او ساعت بوختېدل، که چېرته یې دا حرکات زیات شول نو لمونځ یې باطل دی.
۷- ګوتې په یو بل کې ورکول او ټکونه ترې وېستل.
۸- په داسې حال کې په لمانځه درېدل چې داسې یو څه وي چې د خشوع مخنیوی کوي لکه: تشې ته اړتیا او یا باد تېنګول، او یا: سخته لوږه او یا تنده، او یا دا چې اشتها لرونکي خواړه ایښي وي.

- د ښوونکي لپاره ښه ده ځینې هغه متنونه ذکر کړي چې د مکروهه افعالو څخه پکې منع راغلې ده.
- ښوونکی زده کوونکو ته ټول هغه اړین کارونه ښيي چې په عملي توګه یې زده کړې ته ضرورت لري.



# پوښتنې

**س۱** په لمانځه کې څلور مکروه کارونه وښیه؟

........................................................................................................................................

**س۲** په لمانځه کې د لاندې کړنو حکم بیان کړه

۱- خوله او پوزه پټول.

۲- ټول بدن بل لور ته اړول.

۳- د سجدې ځای ته لیدل.

۴- د لاسونو له ګوتو څخه ټکونه ویستل.

**س۳** د لاندې کارونو لپاره مثال ووایه:

۱- په لمانځه کې بې ځایه کړنې: ........................................................................................

۲- هغه کارونه چې په لمانځه کې د خشوع مخنیوی کوي........................................................

........................................................



اتم لوست

# د سهوي سجده

**د سهوي سجده:** دوه سجدې دي چې لمونځ کوونکی يې د لمانځه په پای کې کوي، کله چې تري په لمانځه کې سهوه وشي

**له سهوي څخه مراد:** هېريدل دي

## اول: په لمانځه کې زياتوالی:

لکه چې د ماسپښين لمونځ پنځه رکعته وکړي، او يا دري سجدې وکړي. که چيرته لمونځ کوونکی دا کار په قصدي توګه وکړي نو لمونځ يې باطل دی، او که د هېريدو له امله و نو له سلام ګرځولو وروسته دوه سجدې کوي، دليل يې د ابن مسعود رضي الله عنه حديث دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

« إذا زادَ الرَّجُل أو نَقَص فَلْيَسْجُد سَجْدَتَيْن »

«کله چې يو څوک په لمانځه کې زيادت او يا کموالی راولي نو دوه سجدې دې وکړي».

## دويم

### په لمانځه کې نيمګړتيا

لکه چې: د لومړي تشهد لپاره ناسته پرېږدي، يا په رکوع او يا سجده کې تسبيح پرېږدي، نو که چېرته لمونځ کوونکي قصدا پرېښودل لمونځ يې باطل دی، او که يې هېر شول له سلام څخه مخکې به د سهوې لپاره سجده کوي

## دريم

### شک

لکه چې د مازديګر لمونځ کوي، نو په هغه رکعت کې يې شک پيدا شي چې دی پکې دی، چې دريم رکعت دی که څلورم، نو بايد دريم يې حساب کړي او له سلام څخه مخکې به د سهوې لپاره سجده کوي

---

- دا تشريح کوي چې انسان له هېرېدو څخه خالي نه دی؛ ځکه دا د بشر طبيعت دی، او رسول الله صلى الله عليه وسلم په لمانځه کې سهوه شوی او فرمايلي يې
دي: « إنَّما أنا بَشَرٌ مِثْلُكُم أن سَى كما تَنْسَون، فإذا نَ سِيَ أ حَدُكُم فَلْيَسْجُد سَجْدَتَيْنِ وهو جالِسٌ » « يقينا چې زه ستاسو په څېر انسان يم، يو څه دا سې هېروم لکه
تاسو يې چې هېروئ، نو کله چې ستاسو څخه د چا څه هېر شول، نو د کيناستلو په حالت کې دوه سجدې وکړي .»
- د سهوې د سجدې حکمت بيانوي چې هغه عبارت دی له: ۱ - په لمانځه کې د نيمګړتيا جبرانول. ۲ - شيطان رټل. ۳ - رحمن ذات را ضي کول

# پوښتنې

س۱ په لمانځه کې د سهوې له سجدې څخه مراد څه شی دی؟

....................................................................................................

س۲ په لمانځه کې د سهوې سجده د دریو اسبابو له امله روا شوې ده، هغه کوم دي؟

....................................................................................................

س۳ په دواړو ستونو کې مناسب عبارتونه سره ونښلوئ:

| د أ ستون | د ب ستون |
|---|---|
| أ یو سړي د ماښام لمونځ قصدا څلور رکعته وکړ | د سهوې لپاره به سجده کوي |
| | لمونځ یې باطلیږي |
| ب د یو سړي د لومړي تشهد لپاره کېناستل هېر شول | هیڅ شی پرې نشته |

س۴ که چیرته یو لمونځ کوونکی د ماښام په لمانځه کې شکي شي چې دوه رکعته یې کړي که درې، نو حکم یې څه دی؟

....................................................................................................

نهم لوست

# د جماعت لمونځ

## د جماعت د لمانځه فضیلت

د جماعت لمونځ لوی فضیلت لري لکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول پرې دلیل دي:

پرې دلیل دي

﴿صَلاةُ الجماعَةِ أَفْضَل مِن صَلاةِ الفَذِّ بِسَبْعٍ وعِشرِين دَرَجَةً﴾

د جماعت لمونځ له یوازي لمانځه څخه اووه ویشت درجې غوره دی

**ترټولو کوچنی جماعت:** دوه تنه دي.

ترټولو کوچنی جماعت دوه تنه دی، دلیل یې دا دی (عن أبي سعید { أن رجلا دخل المسجد وقد صلی رسول الله صلی الله علیه وسلم بأصحابه ، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم : من یتصدق علی ذا فیصلي معه ؟ فقام رجل من القوم فصلی معه } یعني یو سړی په داسې حال کې جومات راننوت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو ملګرو سره لمونځ کړی و، نو ویې ویل چې: پر دې کس به څوک خیرات وکړي چې لمونځ ورسره وکړي، نو د خلکو له منځه یو سړی پاڅید او لمونځ یې ورسره وکړ

## د جماعت د لمانځه حکم

د جماعت لمونځ په نارینه وو واجب دی، که په کور کې وي یا په سفر کې، دلیلونه یې په لاندې ډول دي:

پرې دلیل دي

﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ﴾

(او تاسو لمونځ قایموئ او زکات ورکوئ او له رکوع کوونکو سره رکوع کوئ).

۳- له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايې چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: « إنَّ أَثْقَلَ صَلاةٍ على المنافِقِينَ صَلاةُ العِشاءِ وصَلاةُ الفَجْرِ، ولو يَعْلَمونَ ما فِيهِما لأَتَوْهُما ولو حَبْواً، ولقد هَمَمْت أن آمُرَ بِالصَّلاةِ فتُقامَ، ثمَّ آمُرَ رَجُلاً فَيُصَلِّي بِالنّاسِ، ثمَّ أنطَلِق مَعِي بِرِجالٍ معهم حُزَمٌ مِن حَطَبٍ إلى قَوْمٍ لا يَشْهَدونَ الصَّلاةَ، فَأُحَرِّقَ عليهِم بُيوتَهم بِالنّارِ».

«اې د الله رسوله، زه څوک نلرم چې لاس نيولى مې؟ جومات ته راولي، نو له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې غوښتنه وکړه چې په کور کې د لمانځه کولو اجازه ورکړي، نو اجازه يې ورکړ؟ه، کله چې روان شو غږ يې پسې وکړ، ورته يې وويل: (آيا د لمانځ؟ه لپاره اذان اوري؟) ويې ويل: هو، ورته يې وويل: نو د اذان بلنه ومنه (يعني جومات ته راځه)».

«پر منافقانو تر ټولو درروند لمونځ د ماخوستن او سهار لمونځونه دي، که دوی پوه شي چې په دوی کې څه دي، نو دوی به ورته راتګ کړی و، که څه هم په خاپوړوواى، او ما هوډ وکړ چې د لمانځه د ادا کولو امروکړم، بيا يو سړي ته امروکړم چې خلکو ته لمونځ ورکړي، بيا د ځان سره سړي بوځم چې د لرګيو ګيډي ورسره وي، او په هغو خلکو کورونه وسوځوم چې لمانځه ته نه حاضريږي».

جماعت لاندې کول (جماعت رانيول) د امام سره د يو رکعت په لاندې کولو سره جماعت لاندې کيږي.

## ركعت په څه سره لاندې كيږي؟

ركعت د ركوع په لاندې كولو سره نيول كيږي، ځوك چې لمانځه ته په داسې حال كې راشي چې امام ركوع كوي، نو د تحريمه تكبير لپاره په ولاړه تكبير كوي، بيا د ركوع لپاره تكبير كوي او ركوع ته ځي.

او كه له ركوع څخه له پاڅېدو وروسته راشي، نو په لمانځه كې ورسره داخليږي او د امام پاڅېدو ته انتظار نه كوي، خو دا ركعت به په لمانځه كې نه حسابوي.

د لمانځه له ودريدو وروسته نفل لمونځ: كله چې لمونځ ودريږي نو په نفلو ودريدل روا نه دي، او كه چيرته لمونځ په داسې حال كې ودريده چې يو چا نفل كول، نو كه چيرته يې د دويم ركعت ركوع كړې وه لنډ لمونځ دې وكړي، كنه لمونځ دې پرې كړي (او جماعت سره دې يو ځاى شي).

- له چا چې جماعت لاړ، ورته مستحب دي چې په بل جماعت كې لمونځ وكړي.

- كه بل جماعت يې ونه موند، نو ځوك چې په جومات كې وي هغوى ته مستحب دي چې لمونځ ورسره وكړي، دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول دى: « مَن يَتَصَدَّق على هذا فَيُصَلِّي معه » . «مَن يَتَصَدَّق على هذا فَيُصَلِّي معه» . «پر ده به ځوك صدقه وكړي چې لمونځ ورسره وكړي».

---

بخاري في كتاب الأذان، باب: إثم مَن رَفَع رأسَه قبل الإمام، كې په: (٦٩١)، او مسلم (١/٣٢٠)، په (٤٢٧) شميره روايت كړى دى

# پوښتني

**س۱** د جماعت د لمانځه حکم څه دی؟

..........................................................................................................................

**س۲** له سم ځواب څخه کړۍ تاوه کړئ:

**أ** تر ټولو لږ جماعت (درې- دوه- څلور) تنه دي

**ب** د جماعت لمونځ د یوازې لمانځه په پرتله : (۲۱ درجې - ۲۹ درجې - ۲۷ درجې) فضیلت لري

**ج** جماعت په (تحریمه تکبیر - له امام سره په یو رکعت نیول - له امام سره په سلام نیول کیږي

**س۳** څوک چې له رکوع څخه د امام له پاڅیدو وروسته لمانځه ته راشي څه باید وکړي؟

..........................................................................................................................

**س۴** د لاندې مسألو حکم بیان کړئ:

**أ** د فرض لمانځه له ودریدو وروسته په نفلو پیل کول

**ب** د فرض لمانځه له ودریدو وروسته په نفلو پیل کول

## لسم لوست [٥٤]

# د امام او مقتدي د ودرېدو ځای

- کله چې مقتدي یو وي نو سنت طریقه دا ده چې د امام ښي لور ته ودرېږي.

- کله چې مقتدیان دوه او یا زیات وي، نو سنت طریقه دا ده چې مقتدیان د امام شاته ودرېږي او امام د صف د مینځ برابر ودرېږي؛ دلیل یې د جابر او جبار بن صخر رضي الله عنهما کیسه ده چې یو تن یې د رسول الله صلى الله علیه وسلم ښي او بل چپ لور ته ودریده، جابر وايي: رسول الله صلى الله علیه وسلم مونږ دواړه یې له لاسونو ونیولو او شاته یې تېله کړو [٢٨]

- د هغه چا لمونځ صحیح نه دی چې یوازې د امام او یا صف تر شا لمونځ ادا کړي، مګر په داسې حالت کې چې صف کې د ودېدلو څخه عاجز پاتې شي.

- کله چې مقتدي د جومات دننه و، نو د امام پسې یې اقتدا صحیح ده، که څه هم ترې لرې و، یا دا چې نه یې ویني، خو پدې شرط چې تکبیر اوري

- کله چې مقتدي له جومات نه د باندې وي، نو د امام پسې يې په دريو شرطونه اقتدا کيږي:

١ ـ چې امام يا مقتديان ويني

٢ ـ تکبير اوري.

٣ـ چې صفونه متصل وي

- له مقتديانو څخه د امام پورته دريدل مکروه دي.

- د مقتديانو لپاره له امام څخه په لوړ ځای لمونځ کول باک نه لري لکه: د جومات چت.

- که چيرته ښځو د سړيو سره په جماعت لمونځ کاوه نو د سړيو پسې به په صفونو کې دريږي اوله هغوی به شاته کيږي.





# پوښتنې

**س۱** که لمونځ کوونکي دوه تنه یا تردې ډېروي، سنت دا ده چې د امام ترشا ودرېږي. د دې خبرې لپاره دلیل وړاندې کړئ؟

..........................................................................................................................................................

**س۲** د (الف) ستون د جملې شمېره د (ب) ستون د مناسبې جملې مخې ته کېږدئ

أ که مقتدي یو کس وي — الف: د امام ترشا ودرېږي

ب که مقتدیان څلور تنه وي، د امام

الف: ښي لور ته. — ب : کیڼ لور ته.

**س۳** که مقتدي له جومات څخه د باندې لمونځ کوي، د امام پسې لمونځ کول یې درې شرطونه لري چې باید پوره شي. هغه درې شرطونه ولیکه ؟

..........................................................................................................................................................

**س۴** : د (√) یا (×) نښه وکاروه. او که جمله غلطه وي، سمه یې کړه:

الف د ښځو لمونځ د سړیو ترشا صحیح نه دی. (   )

ب د مقتدیانو لمونځ په هغه ځای کې چې د امام له ځایه لوړ وي، صحیح دی. (   )

ج د امام په لیدو سره د هغه پسې لمونځ کول، که مقتدي په جومات کې دننه وي، صحیح دی. (  )

يووولسم لوست

# مقتدی لره د امام متابعت

د مقتدي او امام حالتونه
مقتدي د خپل امام سره څلور حالتونه لري چې په لاندې ډول دي:

## لومړی حالت: متابعت

چې هغه واجب حالت دی، يعني چې د امام پسې سمدستي همغه فعل تر سره کړي، کله چې تکبير وايي، دی هم ورپسې تکبير وايي، او کله چې رکوع وکړي دی هم ورپسې رکوع کوي او همداسې .. دليل يې د ابو هريرة رضي الله عنه حديث دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: « إنَّما جُعِلَ الإمامُ لِيُؤْتَمَّ به، فإذا كبَّر فكبِّروا، وإذا ركع فاركعوا، وإذا قال: سمعَ الله لِمَن حمِدَه، فقولوا: ربَّنا ولك الحمد، وإذا سَجَد فاسْجُدوا، وإذا صلَّى جالِساً فَصَلُّوا جُلوساً أجمعونَ» ..
«امام د دې لپاره دی چې اقتدا ورپسې وشي، کله چې تکبير ووايي تاسو هم تکبير ووايئ، کله چې رکوع وکړي تاسو هم رکوع وکړئ، او کله يې چې سمع الله لمن حمده وويل، تاسو: ربنا ولک الحمد ووايئ، او کله يې چې سجده وکړه تاسو هم سجده وکړئ، او کله يې چې په ناسته لمونځ وکړ نو تاسو ټول ورپسې په ناسته لمونځ وکړئ»

## دويم حالت: موافقت

د امام سره موافقت (برابر لمونځ کول) مکروه دي لکه چې: له امام سره هم مهاله او سمدلاسه رکوع وکړي، او که چيرته دا موافقت په تحريمه تکبير کې و نو لمونځ صحيح ندی.

## دريم حالت: له امام څخه مخکې کېدل (مسابقت)

له امام څخه مخکې کېدل حرام دي، د بېلګې په توګه چې له امام څخه مخکې رکوع او يا سجده وکړي او يا ترې مخکې سلام واړوي، دليل يې د رسول الله صلى اله عليه وسلم دا قول دى: «أما يخشَى أَحَدُكُم إذا رَفَعَ رَأْسَه قَبْلَ الإمامِ أن يجعَلَ اللهُ رَأْسَه رَأْسَ حِمارٍ، أويجعَل صُورَتَه صُورَةَ حمارٍ» . «ايا له تاسو څخه يو څوک نه وېرېږي چې: کله دى له امام څخه مخکې خپل سر راپورته کوي، چې الله جل جلاله به يې سر د خره وګرځوي، او يا به يې څېره د خره څېره وګرځوي».

## څلورم حالت: له امام څخه وروسته پاتې کېدل چې لاندې صورتونه لري:

١- که چېرته امام رکوع وکړي او مقتدي ولاړ پاتې شي او ورپسې سمدستي رکوع ونه کړي او بيا د امام له سر راپورته کولو مخکې رکوع وکړي نو لمونځ يې صحيح دى، خو د سنت خلاف عمل يې وکړ چې د امام پسې يې سمدستي رکوع ونه کړه.

# پوښتنې

س۱: پر لمونځ کوونکي واجب دي چې د لمانځه په افعالوکې د خپل امام متابعت وکړي، دلیل څه دی؟

.....................................................................................................................................

س۲: لاندې جملې بشپړې کړئ:

أ  د لمانځه په افعالو کې د امام موافقت ......................... او که چیرته په تحریمه تکبیر کې و نو ...
...........................................................

ب  د لمانځه په افعالوکې له امام څخه مخکې کېدل ...................... دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول دی ........................................................................... .

س۳: د لمانځه په افعالوکې له امام څخه د مقتدي د وروسته پاتې کېدلو دوه ډولونه وښيئ.

.....................................................................................................................................

# پوښتنې

## س ۴ له قوسونو څخه سم ځواب غوره کړئ او لاندې ترې کرښه کش کړئ:

**أ** د لمانځه په افعالو کې د امام متابعت:

( مکروه - واجب - حرام) دی.

**ب** که مقتدي د عذر له امله په رکوع کې ناوخته کړي او تر هغه وخته پورې رکوع ونه کړي چې امام را پورته شي، نو:

(د امام متابعت به کوي او څه چې ترې تېر شوي هغه به نه کوي، - لمونځ يې باطليږي. - څه چې ترې تېر شوي هغه به کوي او د امام سره به يو ځای کيږي)



# د مسبوق احکام

له مسبوق څخه مراد: هغه څوک دی چې له امام سره ترې یو یا ډیر رکعتونه تللي وي.

- څوک چې لمانځه ته راغی او امام په رکوع کې و، نو په ولاړه به د تحریمه تکبیر لپاره الله اکبر ووايي، بیا به د رکوع لپاره تکبیر وکړي او رکوع ته به لاړ شي، نو په دې سره یې رکعت او جماعت دواړه لاندې کړل.
- څوک شکمن و چې آیا د امام سره یې رکوع نیولې ده  که نه؟ نو دې رکعت ته اعتبار نشته، او د سهوې لپاره دې سجده وکړي.
- څوک چې جومات ته په داسې حال کې راشي چې امام په سجده کې وي او یا ناست وي، نو سنت طریقه دا ده چې د امام سره په لمانځه کې داخل شي، د تحریمه تکبیر لپاره په ولاړه الله اکبر ووايي، که امام په سجده کې و سجدې ته ځي او که ناست و له تکبیر ویلو پرته دی هم کیني، او امام ته به انتظار نه کوي چې ودریږي.
- له چا څخه چې یو څه لمونځ تللی وي نو د امام له دویم لور ته سلام کرځولو وروسته د تکبیر په ویلو سره پورته او پاتې لمونځ راکرځوي



ښوونکي ته:

- د مقتدي لمونځ نه صحیح کیږي چې د عذرپرته له امام څخه مخکې شي، خوکه نه یې شوکولی چې په جماعت سره لمونځ وکړي مګردا چې له امام څخه مخکې شي، د بیلګې په توګه زیات بیروبار وي، نو بیا یې لمونځ صحیح کیږي، د صفونو نښلول: په داسې بڼه کې ترمنځ یې د عادت خلاف ډېره مسافه نه وي. د صفونو په تړلو کې روزنیزې معناګانې بیانول او زده کوونکي یې برابرولو ته هڅول.

# پوښتنې

**س۱** له مسبوق څخه څوک مراد دی؟

..........................................................................................................................

**س۲** لاندې عبارتونه بشپړ کړئ:

**أ** له چا څخه چې جماعت تېر شو ........................... نو ورته روا دي چې د بل جماعت سره لمونځ وکړي، که يې ونه موند نو د ځينو هغو خلکو لپاره چې په جومات کې دي ................. ............... چې لمونځ ورسره وکړي، دليل يې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول دی:
«........................... .... ............................................................................................
................................................ ».

**س۳** لاندې هريوتن بايد څه وکړي:

**أ** څوک چې جومات ته په داسې حال کې راشي چې امام په رکوع کې وي: .................................. ....................................................

**ب** څوک چې لمانځه ته په داسې حال کې راشي چې امام په سجده کې وي او يا ناست وي ............. ............................................................

**ج** له چا چې ټول يا يو رکعت تېر شوی وي نو د امام له دويم سلام اړولو وروسته به: ................. ....................................................

دیارلسم لوست

# د جمعې او جماعت پرېښودو لپاره روا عذرونه

په جومات کې له جماعت سره لمونځ ادا کول واجب دي، خو که یو څوک  مباح عذر ولري، پرېښودل يې ورته روا دي، دليل يې د ابن عباس رضي الله عنهما حديث دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

« مَن سمِعَ النِّداءَ فَلَمْ يُجِب فلا صَلاةَ له إلّا مِن عُذْرٍ» .«چا چې اذان واوريد او له عذر پرته لمانځه ته رانغی نو لمونځ يې نه کيږي».

**لدې عذرونو څخه ځينې دا دي:**

١ - ناروغتيا.
٢ - پر ځان، مال، اولاد او داسې نورو ويره.
٣- د باران، ختو او سړې هوا له امله زيانمنېدل.
۴ - د د اشتها راوړونکو  خوړو حاضرېدل چې د انسان اشتها ورته راځي، خو پدې شرط چې خپل عادت يې جوړ نه کړي او يا يې د جماعت د پرېښودلو لپاره حيله ونه ګرځوي.
۵ – د تشو او يا ډکو متيازو تېنګېدل، ځکه په لمانځه کې خشوع له منځه وړي.
۶ – څوک چې لمانځه ته د تللو له امله په ځای او يا مال ويره ولري.
٧ – څوک چې د ناروغ ملتيا کوي او داسې څوک ونه لري چې له ده پرته يې پالنه وکړي، نو پرې ويره لري که لمانځه او يا جماعت ته تری لاړ شي.

*څوک چې هوږه یا پیاز وخوري نو جومات ته تلل ورته مکروه دي؛ پیغمبر ﷺ فرمایلي:
«مَن أَكَلَ ثومًا أَوْ بَصَلاً فَلْيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا وَلْيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ
څوک چې هوږه یا پیاز وخوري، زموږ له جوماتونو دې ځان لرې وساتي او په خپل کور کې دې کیني»، خو دغه کار باید د جماعت د پرېښودلو په نیت و نه شي ځکه دا حرام دی. او هر څوک چې د بوی د رفع کولو چاره ولري، دا کار دې وکړي.

- امام احمد په خپل مسند ج ۳، ص ۴۵، حدیث شمېره ۱۱۴۲۶) روایت کړی، او ابن حبان په خپل صحیح (ج ۶، ص ۱۵۷، حدیث شمېره ۲۳۹۷) کې دا حدیث روایت کړی دی.
بخاري په کتاب الصَّوم، باب: صیام أیّام البِیض کې په (۱۹۸۱) شمېره، او مُسلِم په کتاب صَلاة المسافِر وقَصْرها، باب: استِحْباب صَلاة الضُّحی کې په (۷۲۱) شمیره روایت کړی دی

# د عذرلرونکو لمونځ



## لومړی: ناروغ:

الله تعالی هغه ناروغ ته -چې د لمانځه د ځینو اعمالو د ادا کولو توان نه لري - روا کړې چې په هغه حالت لمونځ وکړي چې کولی يې شي، او طریقه يې په لاندې ډول ده:

---

بخاري په: كتاب الأذان، باب: إيجاب التَّكبِير وافْتِتاح الصَّلاة، برقم (٧٣٤)، ومسلم (٣٠٨/١) رقم (٤١١).
بیهقي (١٨٥/٣)، په: (٥٤٣٢)، او: ابن ماجه (٢٦٠/١)، په (٧٩٣) شمیره روایت کړی دی.

۱- که چیرته ناروغ په ولاړه لمونځ کولای شي نو فرض لمونځ پرې په ولاړه کول واجب دي.
۲ - خو که په ولاړه یې لمونځ نه شو کولای، په ناسته یې کوي او د رکوع لپاره ملا ټیټوي، او که په ځمکه یې سجده کولی شوه نو ودې وکړي او که یې نه شوه کولی، نو د رکوع په پرتله به د سجدې لپاره ملا لږه ډیره ټیټوي.
۳- که په ناسته یې لمونځ نه شو کولای، په څنګ دې قبلې ته مخامخ لمونځ وکړي.
۴ - که یې نه شو کولی چې په څنګ لمونځ وکړي ستوني ستاخ دې وکړي، او پښې دې کعبې لور ته وغځوي. دلیل یې د عمران بن حصین رضي الله عنه حدیث دی له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه چې هغه فرمایلي: « صَلّ قائِماً، فإن لم تَسْتَطِع فَقاعِداً، فإن لم تَسْتَطِع فَعَلى جَنْبٍ » . .
«په ولاړه لمونځ وکړه، که دې نشو کولی نو په ناسته یې وکړه، او که دې نشو کولی نو په څنګ یې وکړه».
کله چې ناروغ په څنګ او یا ستوني ستاخ لمونځ کوي نو هغه به په سر او یا سترګو سره اشاره کوي.
کله چې ناروغ ته د هر لمونځ په خپل وخت کولو کې سختي وي او د لمانځه قصر کول ورته هم روا نه وي نو په یو وخت کې د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه یو ځای کول ورته روا دي، همدا رنګه د ماښام او ماخوستن لمونځونه.

## دویم: مسافر:

سفر هغه عذر دی چې مسافر ته د لمانځه د قصر کولو (لنډولو) اجازه ورکوي او د قصر حکم سنت دی، نو څوک چې په سفر کې پوره لمونځ کوي د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو څخه سرغړونه کوي، ځکه هغه علیه الصلاة و السلام به په سفر کې قصر کاوه او هغه د هر مسلمان لپاره بېلګه ده، له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دي وایې چې: موږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره له مدینې څخه مکې ته لاړو، نو هغه به دوه دوه رکعته لمونځ کاوه تر دې چې مدینې ته راوګرځیدو.( ).

## د مسافر د لمانځه اړوند احکام:

۱- څلور رکعتي لمونځ دوو رکعتونو ته لنډول.
څلور رکعتي لمونځونه عبارت دي له: ( ماسپښین، مازدیګر او ماخوستن) له لمونځونو څخه، او ماښام او سهار دواړو کې قصر نه کیږي.
که چیرته مسافر ځانته لمونځ کاوه، او یا یې له نورو مسافرو سره جماعت کاوه، نو څلور رکعتي لمونځ به د څلورو پر ځای دوه رکعته کوي.
خو که مسافر د مقیم (غیر مسافر) شخص پسې لمونځ وکړي نو پوره لمونځ به کوي او قصر به نه کوي.
۲ - د لمونځونو یو ځای کول: مسافر ته روا دي چې د (ماسپښین او مازدیګر) لمونځونه سره یو ځای کړي او دواړه په یو وخت کې وکړي چې دې ته جمع تقدیم وایي، او یا یې د مازدیګر پر مهال وکړي چې دېته جمع تاخیر وایي، همدا رنګه ورته روا دي چې د ماښام او ماخوستن لمونځونه سره یو ځای کړي، دواړه د ماښام پر مهال چې جمع تقدیم ورته وایي او یا یې د ماخوستن پر مهال چې جمع تاخیر ورته وایي.

ښوونکي ته:

-د عدم استطاعت څخه مراد دا دی چې: په ولاړه، ناسته او یا په څنګ لمونځ نه شي کولی، او یا یې له امله له سختی سره مخ کیږي، یا دا چې لدې امله یې ناروغي نوره هم زیاتیږي، یا یې رغبدل ځنډیږي.
- د لمانځه اهمیت او لوی شان ته پاملرنه چې؛ شریعت یې ناروغ او مسافر ته په هر حالت کې د ادا کولو امر کړی.
- د اسلام د اسانتیا او مهربانی په بیانولو سره (د موضوع لپاره) پیلیزه وړاندې کول او د موضوع سره تړاو ورکول.



# پوښتنې

س۱ عذرلرونکي څوک دي؟

...........................................................................................................

س۲ درې عذرونه وښیه چې جمعه او جماعت دواړه پرېښودل مباح ګرځوي؟

...........................................................................................................

س۳ ناروغ به څنګه لمونځ کوي؟ دلیل یې ذکرکړه؟

...........................................................................................................

س۴ په سفرکې د لمانځه قصرڅه حکم لري؟ دلیل یې ذکرکړه؟

...........................................................................................................

س۵ تشریح کړه چې په ناسته لمونځ کوونکی به څنګه رکوع او سجده کوي؟

...........................................................................................................

س۶ د لاندې (مسئلو) حکم بیان کړه:

۱ - د ناروغ لپاره د ماښام او ماخوستن لمونځونه یو ځای کول

۲ - کله چې مسافر د مقیم شاته لمونځ کوي.

# نفلي لمونځ

نفلي لمونځ هغه لمونځ ته ویل کیږي چې یو مسلمان یې په خپله خوښه کوي او واجب پرې نه وي

او یقینا چې اسلام مسلمانانو ته د ډېر لمونځ کولو سپارښتنه کوي. ځکه چې دا له بنده سره د الله تعالی د مینې سبب او په دنیا او آخرت کې د هغه د بریالیتوب لامل دی، نفلي لمونځونه ډیر ډولونه لري لکه:

## لومړی راتبه سنتونه

- رواتب هغه سنت لمونځونه دي چې د فرض لمونځونو سره کیږي او په لاندي ډول دي:

څلور رکعته د ماسپښین د لمانځه نه مخکې او دوه وروسته،

دوه رکعته د ماښام د لمانځه نه وروسته،

دوه رکعته د ماخوستن د لمانخه نه وروسته،

او دوه رکعته د سهار د لمانځه نه مخکې،

او مازدیګر چې دی، نو راتبه سنت نه لري.

دلیل یې د ام حبیبة رضي الله عنها حدیث دی وایې چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې فرمایل یې: « ما مِن عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّي لله كلَّ يَوْمٍ ثِنْتي عَشْرَة ركعَةً تطَوُّعاً غير فَرِيضَة إلّا بنى اللهُ له بَيْتاً في الجنَّة » قالت أُمّ حَبِيبَة: فما بَرِحْتُ أُصَلِّيهِنّ بَعْد ..

«هیڅ مسلمان بنده نشته چې الله تعالی ته له فرضو پرته دولس رکعته نفل لمونځ وکړي مګر دا چې الله تعالی به ورته په جنت کې کور جوړ کړي» ام حبیبة رضي الله عنها فرمایې چې له هغه وروسته مې نه دي پرېښي.

**حکم يې:** موکد سنت دي. دليل: له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ( أَوْصاني خَلِيلي بِثَلاثٍ: صِيام ثَلاثَة أيّامٍ مِن كلِّ شَهْرٍ، وركعَتَي الضُّحى، وأن أُوتِرَقبلَ أن أنامَ )

«زما دوست او ملګري مې - صلی الله علیه وسلم - راته په درېو کارونو وصيت کړی: له هرې مياشتې درې ورځې روژه نيول، د څاښت دوه رکعته لمونځ کول او دا چې له وېده کېدو وړاندې وتر وکړم».

**وخت يې:**

د ماخوستن د لمانځه نه وروسته تر سهار ختلو پورې، او د شپې په پاتې دريمه کې يې کول غوره دي، او څوک چې ويره لري چې راويښ به نه شي نو له ويده کېدو مخکې دې وتر وکړي.

**د رکعتونو شميريې:**

لږ تر لږه يې يو رکعت دی، تر ټولو زيات يې يوولس رکعتونه دي او تر ټولو لږ بشپړ عدد درې رکعتونه دي.

**طريقه يې:**

دوه رکعته لمونځ کوي او سلام ګرځوي، بيا دوه رکعته کوي او سلام ګرځوي او همداسې، بيا يې په يو رکعت سره پای ته رسوي او سلام ګرځوي، او په ورستي رکعت کې له رکوع څخه د پورته کېدلو نه وروسته سنت دي چې د دنيا او اخرت د خير لپاره د خپلې خوښې دعا وغواړي، او پر هغې دعا به ټينګار کوي چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت شوې ده چې له هغو څخه يوه دا دعا ده چې قنوت ورته وايي:

**د قنوت دعا:**

له حسن بن علي رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ځیني کلمي راښودلې دي چې په وترو کې یې ووایم: «اللَّهمّ اهدِني فِيمَن هَدَيْت، وعافِني فِيمَن عافَيْت، وتَوَلَّني فِيمَن تَوَلَّيت، وبارِك لي فِيما أَعْطَيْت، وقِني شَرَّ ما قَضَيْت، فإنَّك تَقْضِي ولا يُقْضَى عليك، وإنَّه لا يَذِلُّ مَن والَيْت، تَبارکتَ رَبَّنا وتَعالَيْت » .

«اې الله ما ته هدایت وکړه د هغه خلکو تر منځه چې تا ورته هدایت کړی، او ما ته د هغه خلکو تر منځه عافیت راکړه چې تا هغوی ته عافیت ورکړی، او د هغه خلکو تر منځه زما پالنه وکړه چې تا د هغوی پالنه کړې ده، او ماته په هغه څه کې برکت راکړه چې تا راکړي دي، او ما له هغه شر څخه وژغوره چې تا فیصله کړی دی، هغه کس نه سپک کیږي چې تا د هغه پالنه کړي وي، ته د برکت او لوړ مقام والا یې».



# پوښتنې

س۱ تطوع لمونځ کوم لمانځه ته وايي؟ اوکول يې پر بنده څه اغيزه لري؟

..................................................................................................................................

س۲ رواتب سنت دا دي:

١ له ماسپښين نه مخکې.............................................................

٢ له سهارنه مخکې.............................. ..............................

٣ د ماښام د لمانځه نه وروسته.............................................

٤ د ماخوستن د لمانځه نه وروسته.........................................

٥ د ماسپښين دلمانځه نه وروسته...........................................



# پوښتنې

**س۳** د صحیح جواب لاندې کرښه کش کړه او په نښه یې کړه

**أ** أ - د وترو وخت ( د ماخوستن د لمانځه نه وروسته - د ماخوستن د لمانځه نه مخکې - د سهارد لمانځه پسې) دی

**ب** د وترو حکم: (موکد سنت - واجب - فرض) دی.

**ج** ترټولو لږ وتر (یو رکعت - یوولس رکعته - درې رکعتونه) دي

**د** د راتبه سنتو شمېر: (اته رکعتونه - یوولس رکعته - دولس رکعته).

**س۴** د لاندې مسألو لپاره دلیل ووایه:

١ د راتبه سنتو مشروعیت

٢ د وترو مشروعیت

**س۵** د قنوت دعا ووایه؟

.................................................................................................

شپاړسم لوست

# هغه وختونه چې لمونځ پکې منع شوی دی

د مسلمانان لپاره سنت طریقه ده چې ډیری لمونځونه په نفلي توګه ادا کړي، ځکه چې د هغه چا لپاره پرې الله تعالی اجرتاکلی چې هغه ته په طاعتونو سره ځان نږدې کوي، خو دړې داسې وختونه شته چې د لمانځه کولو څخه پکې منع راغلې ده چې په لاندې ډول دي:

**لومړی**

د سهار د لمانځه پسې تر څو چې لمر راوخیږي او د یوې نیزې په اندازه پورته شي، یعني نږدې یو پاو وروسته د لمر له راختلو څخه.

**دویم:**

کله چې لمر د اسمان مینځ ته شي، تر دې چې زوال وکړي، او زوال دې ته وایي چې لویدیځ طرف ته په کوزیدو شي

**دریم**

د مازدیګر د لمانځه پسې تر دې چې لمر ډوب شي.

- پدې وختونو کې هیچا ته روا نه ده چې نفلي لمونځ وکړي لکه چې وړاندې تیر شول، خو ځینې نور لمونځونه شته چې سبب لرونکي دي او په همدې وختونو کې یې کول روا دي لکه:

١ - د قضا شوو لمونځونو کول.

٢ – تحیة المسجد.

٣ – د جنازې لمونځ

# پوښتنې

س۱ د لمانځه څخه ممانعت درې وختونه لري، کوم دي؟

.................................................................................................

س۲ : د هغو لمونځونو لاندې کرښه کش کړه چې په ناروا وختونو کې يې کول روا دي:

أ د قضايي لمونځونو راګرځول

ب نفلي لمونځ.

ج تحية المسجد

د د جنازې لمونځ

س۳ د اسمان له مينځ څخه لمرکږيدو ته څه وايي؟

.................................................................................................

س۴ د لاندې حالاتو اسباب وښيه:

۱ هغه چاته د جمعې او جماعت د پرېښودلو جواز چې تشو او يا ډکو متيازو نيولی وي:

.................................................................

۲ جومات ته د هغه چا ورتلل مکروه دي چې هوږه او يا پيازيې خوړلي وي:

.................................................................................................

جمعية خدمة المحتوى
الإسلامي باللغات

# درس نصاب الحديث

## پنځمه سویه



بسم الله الرحمن الرحيم

## لنډه کتنه:

دا علمي مضمون په سعودي عربستان کې د زده کوونکو لپاره د تعلیمي نصاب اصلاح شوی لنډیز دی چې په بېلابېلو سویو وېشل کیږي، په دې کې یو مضمون فقهې ته ځانګړی شوی او په (۸) سویو وېشل کیږي. په شپږمه سویه کې یو له مهمو شیانو څخه: د نبوي حدیثونو د یوې مجموعې تشریح ده چې اړین حدیثونه او ډېرې مسائلو ته شامل دي لکه شرعي حکمونه، عملي او علمي فایدې لکه: هغه حدیثونه چې له ناوړه اخلاقو څخه ځان ساتنې سره تړاو لري لکه: دروغ، غیبت لویې کول، او ښو اخلاقو ته هڅونه کوي لکه: پر حیواناتو شفقت، رښتیا ویل او داسې نور، د دې تشریح ځانګړتیا دا ده چې له یوه اړخه یې اسلوب اسان دی او له بله اړخه یې عبارت واضح دی، دا (تشریح) په یوه ځانګړې میتود وړاندې کیږي چې د صحابي (د حدیث د راوي) په پېژندنې سره پیلیږي، بیا د لغتونو معنا تشریح کیږي، وروسته په حدیث کې راغلي مهم احکام او لارښوونې له دلایلو او د علماوو له اقوالو سره بیانیږي او په پای کې یو لړ پوښتنې وړاندې کیږي چې (ځوابونه یې) تول لوست په برکې نیسي، او له مخې یې د زده کوونکو د پوهې کچه معلومیږي.

## د موضوعاتو فهرست


| | |
|---|---|
| لومړی حدیث : | د نیت اخلاص د عمل قبلیدو لپاره اساسي شرط دی |
| دویم حدیث : | د اسلام ارکان |
| دریم حدیث: | جوماتونو ته د اسلام پاملرنه |
| څلورم حدیث: | د مور او پلار د نافرمانۍ حراموالی |
| پنځم حدیث: | د اسلام له ادابو څخه |
| شپږم حدیث: | د قضا حاجت له ادابو څخه |
| اووم حدیث: | د سوال کولو ممانعت |
| اتم حدیث: | د ناروغ د پوښتنې فضیلت |
| نهم حدیث: | د خوب له سنتونو څخه |
| لسم حدیث: | له غصې څخه ډډه کول |
| یوولسم حدیث: | له کبر څخه ځان ساتل |
| دولسم حدیث: | په اسلام کې د ښېګڼو ډېرې لارې |
| دیارلسم حدیث: | اور سره د لاس وهنې خطر |

| | |
|---|---|
| څوارلسم حديث: | پر حيواناتو مهرباني |
| پنځلسم حديث: | د خوراک څيني آداب |
| شپاړسم حديث: | د پرنجي څيني آداب |
| اوولسم حديث: | رښتيا ويلو ته هڅول او له درواغ ويرول |
| اتلسم حديث: | د غيبت حرمت |
| نولسم حديث: | د سلام فضيلت او پر دودولو يې امر |
| شلم حديث: | د کښت او کرني فضيلت |

لومړی حدیث

# د نیت اخلاص د عمل د قبلیدو اساس دی

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې ویل یې:

(( إنَّما الأَعْمالُ بِالنِّيّاتِ، وإنما لِكُلِّ امرِئٍ ما نَوَى، فَمَن كانَت هِجْرَتُه إلى اللهِ ورَسولِه، فَهِجْرَتُه إلى اللهِ ورَسولِه، ومَن كانَت هِجْرَته لِدُنْيا يُصيبُها أو امرَأَةٍ يَتَزَوَّجُها فِهِجْرَتُه إلى ما هاجَرَ إليه ))

«بیشکه د عملونو سمونتیا د نیت پر اساس ده او د هر انسان لپاره هغه څه دي چې هغه یې نیت کړی وي، نو د چا هجرت چې د الله او د هغه د رسول لپاره وي، نو هجرت یې د الله او د هغه د رسول لپاره دی، او د چا هجرت چې د دنیا لپاره وي چې تر لاسه یې کړي او یا د ښځې لپاره چې واده یې کړي، نو هجرت یې د هغه څه لپاره دی چې د هغه لپاره یې هجرت کړی دی».

بخاري، مسلم او ابو داود روایت کړی او دا الفاظ د بخاري دي .

د راوي پیژندل:

هغه راشد خلیفه عمر بن الخطاب بن نفیل العدوي رضي الله عنه دی، کنیه یې ابو حفص ده، له نبوي هجرت څخه مخکې یې اسلام راوړی او د ابو بکر صدیق رضي الله عنه پسې د مسلمانانو خلیفه شو، خلافت یې لس نیم کاله دوام وکړ، ده ته فاروق ویل کیږي؛ ځکه چې الله تعالی یې په مرسته د حق او باطل تر منځ جلاوالی راوست، او دی یو له هغو لسو کسانو څخه دی چې په دنیا کې د جنت زیری ورکړل شوی دی.

نوموړی په درویشتم هجري قمري کال کې د درې شپیته کلنی په عمر وفات شو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابو بکر صدیق رضي الله عنه په څنګ کې په نبوي حجره کې خاورو ته وسپارل شو.

---

بخاري په کتاب الإیمان، باب: دُعاؤُكُم إیمانكم کې په (۸) شمیره او مسلم په کتاب الإیمان، باب: بیان أركانِ الإسلامِ ودَعائِمه العِظام کې (۱/۴۵)، په (۲۱) شمیره روایت کړی. او دا الفاظ د مسلم دي.

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| الأعمال: | د عمل جمع ده، او عمل هرې وينا او کړنې ته ويل کيږي چې له انسان څخه صادريږي. |
| بالنِّيّات: | په نيتونو سره د نيت جمع ده، چې د يوې چارې په اړه قصد او د زړه ارادې ته ويل کيږي. |
| هِجْرَتُه: | يعني هجرت يې |
| هجرت: | د شرک له هېواد څخه د اسلام هېواد ته انتقاليدو ته وايي. |
| فهِجْرَتُه إلى اللّهِ ورسولِه: | نو هجرت يې د الله او د هغه د رسول لپاره دی.<br>يعني هجرت يې صحيح دی او ثواب پرې ورکول کيږي. |
| دُنْيا يُصِيبُها: | يعني: د دنيوي ګټو لپاره چې تر لاسه يې کړي |
| فَهِجْرَتُه إلى ما هاجَرَ إليه: | نو هجرت يې د هغه څه لپاره دی چې له امله يې هجرت کړی دی.<br>يعني: خپله موخه يې تر لاسه کړه او په هجرت يې ثواب نه ورکول کيږي. |

## د حديث لارښوونې:

د الله تعالی په نزد په نيت کې اخلاص د عملونو د قبليدو لپاره شرط دی.
کله چې انسان په خپل عمل سره د اجر او ثواب تر لاسه کولو نيت وکړي، نو الله تعالی يې د هغه د نيت سره سم ورکوي.
مسلمان بايد په هر کار کې د خپل نيت په ښه کولو تينګار وکړي. تر څو يې عملونه د الله تعالی عبادت وګرځي.
کله چې نيت اصلاح شي عمل هم اصلاح کيږي، او کله چې نيت فاسد شي عمل هم فاسديږي.
د الله تعالی لپاره هجرت له غوره عملونو څخه دی.



# پوښتنې

س۱ : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: (( إنَّما الأعمال بالنِّيّات...)).
حديث له يادو بشپړ کړه؟

..............................................................................................................................

س۲ آيا انسان ته په خوب او خوراک اجرورکول کيږي؟ واضح يې کړه؟

..............................................................................................................................

س۳ انسان ته کله په دنيوي عملونو اجرورکول کيږي؟

..............................................................................................................................

س۴ که چيرته د لارې ښخه يو ضرري شی لرې کړې، نو آيا اجر درکول کيږي؟

..............................................................................................................................

# د کورني دندې اړوند پوښتنې:

س۱ : لاندې کلمې معنا کړئ:

الأعمال - النِيّات - دُنْيا يُصِيبُها - هاجَرَإليه ؟

س۲ احمد جومات ننوت چې د ماښام لمونځ وکړي، نو د جماعت سره يې لمونځ وکړ. بيا يې د لمانځه پسې اذکارهم ولوستل، نوغوښتل يې چې له جومات څخه راووځي. خوکله يې چې خپل پلارولیده چې ورګوري، له جومات څخه ونه ووت، بلکې راتبه سنت يې وکړل او بيا ووت.
هغه کوم صحیح کارونه دي چې احمد وکړل؟ اوکومه غلطي يې وکړه؟

.................................................................................................................................

.................................................................................................................................

س۳ د عمربن الخطاب رضي الله عنه درې نامتوکارونه وښيه؟ .

.................................................................................................................................

دويم حديث

# د اسلام اركان:

له عبد الله بن عمررضی الله عنهما څخه روايت دی وايي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

(( بُنِيَ الإسلامُ على خَمْسٍ: شَهادَة أن لا إله إلّا الله، وأنَّ محمَّداً عَبْدُه ورَسولُه، وإقام الصَّلاة، وإيتاء الزَّكاة، وحجّ البَيْت، وصَوْم رَمَضان ))

«اسلام په پنځو شيانو ولاړ دی: ګواهي وركول چي له الله پرته بل حق معبود نشته او دا چي محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دی، او لمونځ كول، او زكات وركول، او د بيت الله حج كول، او د رمضان روژه نيول».

بخاري او مسلم روايت كړی دی .

**د راوي پيژندل:** هغه جليل القدر صحابي عبد الله بن عمر بن الخطاب بن نفيل العدوي رضي الله عنهما دی، د رسول الله صلى الله عليه وسلم له بعثت څخه وروسته زيږيدلی، په ډيری غزاګانو كې يې ګډون كړی او يو له هغو كسانو څخه دی چي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې ډير حديثونه روايت كړي او په ټولو چارو كې د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر پيروی زيات حرصناک و، نوموړی د نبوي هجرت په درې اويايم كال په طايف كې وفات شو.

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
| --- | --- |
| | على خَمْسٍ، پر پنځو، يعني پر پنځو اركانو. |

## د حدیث لارښوونې:

اسلام داسې رکنونه لري او پرې ولاړ دی لکه څنګه چې یو کور رکنونه (ټهدابونه او ستنې) لري او پرې ولاړ وي.

**د دې ارکانو بنسټ:** ګواهي ورکول چې له الله پرته بل حق معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی، نو د هیڅ شخص اسلام په شهادتینو له تلفظ - او پر هغه څه چې دلالت کوي - پرته نه صحیح کیږي.

د هغو شیانو له جملې څخه چې شهادتین پرې دلالت کوي: د الله جل جلاله یووالی، د هغه عبادت او ورسره شرک نه کول دي.

لمونځ د اسلام له ارکانو څخه دویم رکن او تر ټولو مهم عملي عبادت دی چې لدې پرته د چا اسلام نه صحیح کیږي.

زکات د اسلام له ارکانو څخه دریم رکن دی.

د رمضان د میاشتې روژه نیول پر هر مسلمان، بالغ او عاقل واجب ده، او د نابالغ په حق کې مستحب ده.

حج د اسلام له ارکانو څخه پنځم رکن دی چې پر توانمند مسلمان په ټول عمر کې یو ځل واجب دی.

## ښوونکي ته:

- ښوونکی د دې ارکانو پر اهمیت ټینګار کوي او هغه څه تشریح کوي چې: شهادَة أن لا إله إلّا الله، وأنَّ محمَّداً رسول الله پرې د الله تعالی له یووالي څخه دلالت کوي.

بخاري په کتاب الصَّلاة، باب: كَنْس المسجِد والتِقاط الخِرَق والأَذى والعِيدان، کې په (٤٥٨) شمیره راوړی او مسلم په کتاب الجنائِز، باب: الصَّلاة على القَبْرِ(٢/٦٥٩) کې په بل عبارت راوړی، شمیره (٩٥٦).



# د بحث پوښتني:

س۱ د اسلام ارکان وشمېره؟

..........................................................................................................

س۲ د هغه چا حکم څه دی چې: په لا اله الا الله ګواهي ورکوي او لمونځ نه کوي؟

..........................................................................................................

س۳ د رمضان د میاشتې روژه نیول څه حکم لري؟

..........................................................................................................

س۴ محمد پنځلس کلن دی، کله چې د رمضان میاشت راغله ټولې روژې یې ونیولې، خو شپه به یې په کور کې په ویښه تېروله او د ماسپښین اوله لمانځه څخه به ویده پاتې کېده.

..........................................................................................................

س۵ د رمضان د میاشتې روژه نیول څه حکم لري؟

هغه کوم سم عمل دی چې محمد کړی دی؟

..........................................................................................................

دوه غلطیانې وښیه چې محمد کړې دي؟

..........................................................................................................

## د کورني دندي اړوند پوښتني:

س۱ عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په څه سره مشهور و؟

..............................................................................................................

س۲ په (لا إله إلّا الله) ګواهي ورکول په څه دلالت کوي؟

..............................................................................................................

س۳ راتلونکي عبارتونه صحیح کړه:

لمونځ د اسلام له ارکانو څخه دریم رکن دی؟

..............................................................................

روژه په هر بالغ غیر عاقل مسلمان فرض ده؟

..............................................................................

حج په ټول عمرکي پر مسلمان دري ځلي فرض دی

..............................................................................

---

مسلم په: كتاب الطَّهارة، باب: وجوب غَسْل البولِ وغيرِه مِن النَّجاساتِ إذا حَصَلَت في المسجِد کې په (۲۸۵) شمیره راوړی دی. د (مه): معنا ده: چپ شه ... (فَشَنَّه): یعني: پرې یې واړولې.

## درېم حدیث

# جوماتونو ته د اسلام پاملرنه

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې يو تور سړی - يا توره ښځه - وه چې جومات به يې جارو کاوه نو مړ شو، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په اړه پوښتنه وکړه؟ هغوی ورته وويل: مړ شو. ويې فرمايل:

(( أَفَلا كُنْتُم آذَنْتُمُوني بِه، دَلّوني على قَبْرِه - أو قال - على قَبْرِها - فأتى قَبْرَه فَصَلَّى عليه )).

«آيا تاسو پرې زه نه يم خبر کړی، ماته د هغه سړي - يا ښځې- قبر راوښيئ، نو قبر ته يې ورغی او د ( جنازې) لمونځ يې پرې وکړ».

بخارِي او مُسلِم روايت کړی دی.

**د راوي پيژندل:** دی جليل القدر صحابي عبد الرحمن بن صخر الدوسي رضي الله عنه دی، د هجرت په اووم کال؛ د خيبر د فتحې په کال کې مسلمان شوی، د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې سخته ملګرتيا کړې ده، نوموړی هغه صحابي دی چې تر ټولو زيات حديثونه يې روايت کړي دي، د نبوي هجرت په اوه پنځوسم کال کې وفات شوی دی. رضي الله عنه

### د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| آذنتموني به : | آيا زه مو پرې خبر کړی نه يم |
| دلوني على قبره : | ماته يې قبر راوښيئ |
| فصلى عليه : | د جنازې لمونځ يې پرې وکړ |

## د حديث لارښوونې:

جومات د لمانځه، عبادت، د قرآن کريم د تلاوت، حفظ او د علم د زده کړې او داسې نورو کارونو ځای دی، نو واجب دي چې درناوی يې وشي او پاملرنه ورته وشي.
جومات ته پاملرنه دا ده چې ساتنه يې وشي، چټلي او خځلي پکې ونه غورځول شي او نه يې په ديوالونو ليکل وشي.
د جومات پاکول، د مصحفونو او فرشونو سمول، د دروازو او څراغونو مره کول مسجد ته له پاملرنې ښخه دي.
د اسلام دين د نظافت، او ظاهري طهارت دين دی لکه: د کاليو، بدن او جومات پاکول، او د باطني نظافت لکه: د زړه پاکوالی له حسد او کينې څخه.
څوک چې د خير کارونه کوي درناوی او عزت يې په کار دی لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د جومات د صفا کوونکي سره وکړل.
چا چې په مړي جنازه نه وي کړې، سنت طريقه ده چې په قبر يې د جنازې لمونځ وشي.

## ښوونکي ته:

- جومات د مسلمانانو د ژوند يوه برخه ده، نو ښوونکي ته په کار دي چې د زده کوونکو په زړونو کې د جومات اهميت ته وده ورکړي, او جومات ته په احترام ساتلو ټينګار او پکې له بې ځايه کړنو پر ډډې کولو ټينګار وکړي.
- ښه ده چې ښوونکی د ځينو هغو کړنو يادونه وکړي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به په جومات کې د لمانځه پرته ترسره کول.
- وګوره: کتاب الآداب الشَّرعِيّة لِلشَّيخ محمّد بن مفلح رحمه الله (۲۷۲/۲) او ورېسي.



# د بحث پوښتنې:

س۱ جومات ته د اسلام د پاملرنې دوه لاملونه په ګوته کړئ؟

...........................................................................................................

س۲ ځينې هغه عملونه وښيه چې جومات ته په پاملرنه کې شمېرل کيږي؟

له أنس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې: بَيْنَما نحنُ في المسجِد مع رسولِ الله صلى الله عليه وسلم إذ جاءَ أعرابيّ فقام يَبُولُ في المسجِد، فقال أصحابُ رَسولِ الله صلى الله عليه وسلم: مه مه. قال: قال رسولُ الله صلى الله عليه وسلم:(( لا تَزْرِمُوه. دَعُوه ))، فتركُوه حتَّى بالَ. ثمّ إنَّ رسولَ الله صلى الله عليه وسلم دَعاه فقالَ له:(( إنَّ هذه المساجِد لا تَصلُح لِشيْءٍ مِن هذا البَوْلِ ولا القَذَر. وإنَّما هِي لِذِكْرِ اللهِ عزَّ وجلَّ والصَّلاةِ وقِراءَةِ القُرآنِ )) قال: فَأَمَر رَجُلاً مِن القَوْمِ، فَجاءَ بِدَلْوٍ مِن ماءٍ، فَشَنَّه عليه . په داسې حال کې چې موږ له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په جومات کې ناست وو يو باندچې راغی، نو ودريده او په جومات کې يې متيازې کولې، د رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه وو وويل: مه مه. وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (( لا تَزْرِمُوه. دَعُوه ))،يعني پرې يې ږدئ او متيازې کول يې مه پرې کوئ، هغوى پرېښود تر دې چې متيازې يې وکړې. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم راوغوښت او ورته يې وويل: ((إنَّ هذه المساجِد لا تَصلُح لِشيْءٍ مِن هذا البَوْلِ ولا القَذَر. وإنَّما هِي لِذِكْرِ اللهِ عزَّوجلَّ والصَّلاةِ وقِراءَةِ القُرآنِ)) «دا جوماتونه د دې ميتيازو او چټليو لپاره مناسب نه دي، بلکې د الله –جل جلاله- د ذکر، لمونځ او د قرآن کريم د تلاوت لپاره دي» وايي: له خلکو يې يو سړي ته امر وکړ، يوه بوقه اوبه يې راوړې او پرې يې واړولې. .

د دې کيسې درې ګټې وښيه؟

...........................................................................................................

...........................................................................................................

...........................................................................................................



# د کورني دندې اړوند پوښتنې:

س۱ ( يَقُمّ المسجِدَ ) څه معنا؟

..............................................................................................................................

س۲ ابو هريرة رضي الله عنه په څه مشهور و؟

..............................................................................................................................

س۳ د ځينو هغو اعمالو يادونه وکړئ چې تاسو يې د غريبانو سره ښه کوئ؟

..............................................................................................................................

س۴ په (√) او (×) سره ځواب ورکړئ او غلطه اصلاح کړئ:

أ- د جوماتونو په پاکولو کې ګډون کول روا نه دي ( ).

ب- د جومات دننه او د باندې په ديوالونو ليکل جومات ته يو ډول پاملرنه ده ( ).

ج- جومات د نه پاملرنې يوه بڼه دا ده چې اوبه پکې پرېښودل شي چې بهېږي ( ).

دي سرې ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم پاملرنه پدې دليل دى چې اسلام په نظافت ټينګار کوي

---

بخاري په كتاب الأدب، باب: لا يَسُبَّ الرَّجُلُ والِدَيْه کې په: (٥٩٧٣) شميره روايت کړی، او مسلم في خپل صحيح کې (٩٢/١)، كتاب الإيمان، باب: بَيانُ الكَبائِرِ وأكبَرِها کې په (١٤٦) شميره روايت کړی او الفاظ د همده دی.

ځلورم حدیث

# د مور او پلار د نافرمانی حرمت:

له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:

(( مِن الكَبائِرِ شَتْمُ الرَّجُلِ والِدَيْه، قالوا: يا رسولَ الله، وهل يَشْتُم الرَّجُلُ والِدَيْه، قال: نعم، يَسُبُّ أبا الرَّجُلِ فَيَسُبّ أباه، ويَسُبُّ أُمَّهُ فَيَسُبُّ أُمَّه )).

«یوه له لویو ګناهونو څخه دا ده چې سړی خپل مور او پلار ته ښکنځل وکړي، هغوی وویل: ای د الله رسوله، آیا څوک خپل مور او پلار ته هم ښکنځل کوي، هغه وویل: هو، د یو سړي پلار ته ښکنځل کوي نو هغه یې هم پلار ته ښکنځل کوي، او مور ته یې ښکنځل کوي نو هغه یې هم مور ته ښکنځل کوي».

بُخاري او مُسلِم روایت کړی .

د راوي پېژندل:

هغه جلیل القدر صحابي عبد الله بن عمرو بن العاص بن وائل القرشي السهمي رضي الله عنه دی، له خپل پلار عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه یې مخکې اسلام راوړی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې په ډیرو غزاګانو کې ګډون کړی دی، په ډیر عبادت کولو یې شهرت درلود، او ډیرې حدیثونه یې روایت کړي، نوموړی د نبوي هجرت په پنځه شپېتم کال وفات شوی دی.

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| من الكبائر: | يعني : لوى ګناهونه او سرغړونې. |
| الشتم: | ښکنځلې؛ د يو چا په اړه داسې يو څه ويل چې د هغه عيب بيانوي او يا يې ازاروي. |

## د حديث لارښوونې:

ګناهونه او سرغړونې بېلابېلې درجې لري چې ځينې يې لوى ګناهونه او ځينې يې کوچنې دي.
د سپکو سپورو او لعنت ويل حرام دي او د ګناه لامل ګرځي.
د ښکنځلو په جواب کې ښکنځلې کول انسان له ثواب څخه محروموي او د ګناه لامل ګرځي.
يو له لويو ګناهونو څخه مور او پلار ته په مستقيم او يا غير مستقيم ډول ښکنځل کول دي.
د مور او پلار د نافرمانۍ حراموالى، برابره خبره ده که په وينا سره وي لکه: سپکې سپورې ويل، غبرګې پرې پورته کول او يا په عمل سره لکه وهل او يا يې د خبرو نه منل.
مسلمان ته پکار دي چې خپله ژبه له هر ډول بدو او فحشاوو څخه پاکه وساتي.

# د بحث پوښتنې:

س۱ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (( مِن الكَبائِرِ شَتْم الرَّجُلِ ...)).
پورته حدیث له یادو بشپړ کړه؟

...........................................................................................................

س۲ د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وینا تشریح کړه: (( يَسُبّ أبا الرَّجُلَ فَيَسُبّ أباه )).
«د یو سړي پلار ته ښکنځلې وکړي، نو هغه یې هم پلار ته ښکنځل وکړي».

...........................................................................................................

س۳ د ښکنځلو او لعنت ویلو حکم څه شی دی؟

...........................................................................................................

س۴ د مور او پلار نافرماني په څه سره کیږي؟

...........................................................................................................

س۵ د مور او پلار په وړاندې مو د څینو مکلفیتونو یادونه وکړئ؟

...........................................................................................................



# د کورني دندي اړوند پوښتني:

## د کورنی دندي پوښتني:

(وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا (٢٣) وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا) (٢٤) [الإسراء: ٢٣ -٢٤].

(او ستا رب حکم کړی دی چې تاسو عبادت مه کوئ (د بل هیچا) مګر یوازې د هغه او له مور او پلار سره ښه احسان کوئ او که چېرې په دوی کې یو یا دواړه له تا سره کله هم زوړوالي (بوډاوالي) ته ورسېږي، نو ته دې دواړو ته اُف (هم) مه وایه او مه دوی رټه او ته دوی ته ډېره ښایسته خبره وایه).
او ته د دوی لپاره له مهربانۍ نه د تواضع وزر ښکته کړه او وایه: ای زما ربه! ته پر دوی دواړو مهرباني وکړه، لکه څنګه چې دوی دواړو زما پالنه کړې ده، په داسې حال کې چې زه وړوکی وم).

**س١** له آیت څخه دوه داسې عملونه راوباسه چې د مور او پلار په وړاندې یې کول حرام وي؟

..........................................................................................................

**س٢** له آیت څخه دوه داسې عملونه راوباسه چې د مور او پلار پروړاندې یې کول واجب دي؟

..........................................................................................................

**س٣** ووایه چې د عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما په اړه په څه پوهېږې؟

..........................................................................................................

## ښوونکي ته:

- ښه ده چې ښوونکی هغه ځایونه په ګوته کړي چې د ګاونډي او میلمه پالنه پکې کیږي.
- ژبه یو نعمت دی چې په ښه او بد کې کارول کیږي، نو ښه به وي چې ښوونکی په دې اړه زیات مثالونه وړاندې کړي.

وګورئ: د شیخ محمد بن مفلح کتاب: الآداب الشرعیة (٦٢/١) او ورپسې.

# پنځم حدیث

# د اسلام له آدابو څخه

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:

(( مَن كان يُؤْمِن بِاللهِ واليَوْمِ الآخِرِ فَلا يُؤْذِ جارَه، ومَن كان يُؤْمِن بِاللهِ واليَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكرِمِ ضَيْفَه، ومَن كان يُؤمِن بِاللهِ واليَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُل خَيْراً أو لِيَصْمُت )).

«څوک چې پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لري؛ نو خپل ګاونډي ته دې ازار نه رسوي، او څوک چې پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لري؛ نو د خپل ميلمه درناوی دې کوي، او څوک چې پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لري؛ نو يا دې ښه وينا وکړي او يا دې چوپ پاتې شي».

بخاري اومُسلِم روايت کړی .

د راوي پېژندل: په درېم حديث کې يې پېژندنه شوې ده.

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| اليَوْمِ الآخِرِ: | د قيامت ورځ. |
| لِيَصْمُت: | چوپ دې شي. |

## د حدیث لارښوونې:

د دې دين يوه ځانګړتيا دا ده چې مسلمانان داسې کارونو ته هڅوي چې د دوی تر منځ د مينې او ورورولۍ لامل ګرځي.

ګاونډي لوی حقونه لري چې ځينې يې دا دي:

په صدقه، ډالۍ او غوره وينا ورسره نيکي کول.

په وينا لکه: ښکنځلې کولو او يا کړنې لکه کورته يې له اجازې پرته ورښکاره کېدلو، يا يې د اولادونو ازارول، يا يې د کور په ديوالونو ليکل، په موټر يې لوبې کول، د کور مخې ته يې ښځلې غورځول او داسې نورو کارونو يې له ځورونې ډډه کول.

له ګاونډي سره نيکي کول او له ځورولو يې ډډه کول د بشپړ ايمان نښه ده.

د ګاونډيانو د حقونو پالنه د دوی ترمنځ د ورورولۍ اړيکې پياوړې کوي.

ميلمه ځانګړي حقونه لري لکه: په ښه راغلاست سره يې دروناوی کول، په عملي توګه يې عزت کول، د ناستې لپاره ورته مناسب ځای برابرول او له اسراف پرته ورته ښه خواړه تيارول.

د ژبې ساتنه واجب ده چې ښه پرې وويل شي او له بدې وينا ډډه وشي.

---

بخاري په كتاب الوضوء، باب: ما يقول عند الخلاء کې په: (١٤٢) شمېره روايت کړی، او مسلم په خپل صحيح کې (٢٨٣/١) په: كتاب الحيض، باب: ما يقول إذا أراد دخول الخلاء کې په: (١٢٢) شمېره روايت کړی دی.



# د بحث پوښتني:

**س۱** له ګاونډي سره د نیکی کولو درې بېلګې ووایه؟

..........................................................................................

**س۲** له ګاونډیانو سره نیکي کول د دوی ترمنځ د ورورولۍ اړیکې پیاوړې کوي، لامل یې څه دی؟

..........................................................................................

**س۳** لاندې عبارتونه صحیح کړئ:

د ګاونډیانو کورونو ته په دیوالونو سرورپورته کول له هغوی سره نیکي ده.

د ګاونډي د کور مخې ته د اوبو (لختی) تېرول هغه ته ضرر نه لري.

د راډیو غږ پورته کول له ګاونډي سره نیکي ده.

**س۴** د میلمه درناوی په څه کیږي؟

..........................................................................................

## د کورني دندې اړوند پوښتنې:

س١ سالم د خپل ګاونډي صالح د کور مخې ته موټرودراوه، صالح راووت، هغه يې ملامت کړ او د دې کارله امله يې ورته سپکې سپورې وويلې، سالم هم ورته له هغې سختې سپکې سپورې وويلې، دواړه غصه شول او په همدې حالت کې سره جلا شول.
سالم کومې غلطیانې وکړې؟

.......................................................................................................................

.......................................................................................................................

س٢ صالح ته په دې وخت کې څه کول په کارو؟

.......................................................................................................................

س٣ ژبه د الله تعالی له لورې يو نعمت دی چې بايد د الله تعالی په اطاعت کې وکارول شي. د اطاعت درې عملونه وښيئ چې په ژبه ترسره کيږي.؟

.......................................................................................................................

شپږم حدیث

# د قضای حاجت آداب:

**له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د قضای حاجت ځای ته د ننوتلو پر مهال ویل:**

(( اللَّهُمَّ إنِّي أعوذُ بِك مِن الخُبْثِ والخبائِث )).

«ای الله، زه پر تا پناه نیسم د نارینه او ښځینه شیطانانو څخه»

او له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله د قضای حاجت له ځای څخه راووته نو ویل به یې

( غُفْرانَك ).

«یا الله بښنه وکړه»:

. أبو داود روایت کړی دی

**د لومړي حدیث د راوي پېژندنه:** هغه جلیل القدر صحابي أنس بن مالک الأنصاري رضي الله عنه دی، لس کاله یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت کړی او ډېرې حدیثونه یې ترې روایت کړي دي، هغه تر ټولو وروستی صحابي و چې په بصره کې وفات شو، نوموړی د نبوي هجرت په دری نویم کال وفات شوی دی

**د دویم حدیث د راوي پېژندنه:** جلیل القدره صحابیه أم المؤمنین عائشة بنت أبي بکر الصدیق رضي الله عنهما، د رسول الله صلی الله علیه وسلم مېرمن چې په خپل علم او پوهه کې شهرت درلود، له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې ډېرې حدیثونه روایت کړي دي، نوموړې د نبوي هجرت په اووه پنځوسم کال وفات شوې ده (رضي الله عنها).

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| إذا دَخَل: | يعني کله چې يې د ننوتلو اراده وکړه. |
| الخلاء: | دلته ترې مراد: د قضاى حاجت ځاى دى |
| الخبث: | د خبيث جمع ده او مراد ترې نارينه شيطانان دي |
| الخبائث: | د خبيثة جمع ده او مراد ترې ښځينه شيطاناني دي |
| غفرانک: | يعني د بخښنې سوال درڅخه کوم |

## د حديث لارښوونې:

د قضاى حاجت لپاره ځينې آداب دي چې يو مسلمان يې بايد زده او عملي کړي.

د قضاى حاجت له ادابو څخه يو دا دى چې له ننوتلو مخکې دا دعا ووايي: (( اللَّهمّ إنِّي أَعوذُ بِك مِن الخبْث والخبائِث )).

«اي الله زه تاته د نارينه او ښځينه شيطانانو له شر څخه پناه دروړم».

د قضاى حاجت له آدابو څخه يو دا دى چې د قضاى حاجت د ځاى له راوتلو وروسته (غفرانک) ووايي. يعني اى الله بخښنه راته وکړه.

مسلمان ته په کار دي چې په شرعي اذکارو پابندي وکړي، ځکه هغه يې د الله تعالى په امر له شيطانانو څخه ساتي.

د مسلمان لپاره روا نه ده چې د حاجت په ځاى کې د الله تعالى ذکر وکړي، ځکه هغه ذات له دې پاک دى چې په داسې ځايونو کې ياد شي.

---

أبو داود په خپل سنن کې (٨/١)، په کتاب الطَّهارة کې، باب: ما يقول الرَّجلُ إذا خَرَج مِن الخلاءِ، کې په: (٣٠)، او ترمِذِي په خپل جامع کې (١٢/١)، په: کتاب الطَّهارَة کې، باب: ما يقولُ إذا خَرَج مِن الخَلاءِ، کې په (٧) شميره روايت کړى او ويلي يې دي:» حَدِيث حَسَنٌ غَرِيب «.

ښوونکي ته:

- دا ډېره ګټوره ده چې ښوونکى د زده کوونکو په زړونو کې د الله پاک د ذکر اهميت ته ځاى ورکړي، په ځانګړې توګه په هغو وختونو او شرايطو کې چې ځانګړي نصوص پکې راغلي دي.

وګوره: د امام نووي رحمه الله کتاب الأذکار، او د شيخ عبد العزيز بن باز رحمه الله کتاب تحفة الأخيار، د شيخ سعيد بن علي القحطاني کتاب حصن المسلم. ښوونکي ته ښايي چې هميشه د ذکر کولو ګټې بيان کړي، او د ابن القيم الجوزيه رحمه الله کتاب الوابل الصيب من الکلم الطيب وګوره.

مسلم په خپل صحيح (٧٢٠/٢)، کتاب الزکاة، باب: کراهِيَة المسأَلَةِ لِلنّاس، کې په (١٠٥) شميره روايت کړى.

# د بحث پوښتني:

س۱ د لومړي حدیث دوه ګټې بیان کړه.؟

.............................................................................................................................

س۲ مسلمان چې کله حمام ته ننوځي باید کوم ذکر ووایي؟

.............................................................................................................................

س۳ د انس بن مالک رضي الله عنه په اړه په څه پوهیږې؟

.............................................................................................................................

س۴ ولې باید یو مسلمان د حاجت په ځای کې د الله تعالی له یادولو ډډه وکړي؟

.............................................................................................................................



# د كورني دندي اړوند پوښتني:

س۱ : وواية چي اذكار څه ګټه لري؟

..................................................................................................................................

س۲ عائشي رضي الله عنها په څه سره شهرت درلوده؟

..................................................................................................................................

س۳ د لاندي كلمو معنا وواية: الخبث - الخبائث - غُفرانَك ؟

..................................................................................................................................

س۴ مسلمان له حمام څخه د راوتلو نه وروسته كومه دعا وايي؟ .

..................................................................................................................................



## اووم حديث:

# دسوال کولو ممانعت

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چي رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي:

(( مَن سأَلَ النَّاسَ أَمْوالهُم تَكَثُّراً فإنَّما يَسْأَل جَمْراً، فَلْيَسْتَقِلّ أو لِيَسْتَكْثِر))

«څوک چي له خلکو څخه د خپل مال د زياتوالي په خاطر سوال کوي، نو دی په حقيقت کي سکروټي غواړي، نو خوښه يې چي لږې غواړي او که ډېرې»

مسلم روايت کړی دی

د راوي پېژندل: په دريم حديث کې يې پېژندنه شوې ده.

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| سأَلَ النّاسَ: | له خلکو سوال کوي |
| تَكَثُّراً: | د دې لپاره چې مال یې زیات شي (نه د ضرورت لپاره). |
| جَمْراً: | سکروټې |
| فَلْيَسْتَقِلّ: | نو لږې دې وغواړي |
| لِيَسْتَكْثِر: | زیاتې دې وغواړي. |

## د حدیث لارښوونې:

له اړتیا پرته له خلکو څخه د پیسو غوښتنه کول حرام دي.

د ضرورت لپاره سوال کول روا دي لکه د پور ادا کول او داسې نور.

د مسلمان لپاره غوره دا ده چې له خلکو څخه د سوال کولو نه ډډه وکړي، که څه هم هغه محتاج وي؛ نو چا چې د خلکو نه ځان بې حاجته وباله؛ الله تعالی به یې موړ کړي.

د مسلمان یوه ځانګړنه دا ده چې موړ وي (د سوال نه ځان ساتي) او له خلکو څخه د سوال کولو نه ډډه کوي.

مسلمان د خپل رزق د لاسته راوړلو لپاره سخت کار کوي، له خلکو ځان مستغني کوي او له سوال کولو څخه ډډه کوي.



# د بحث پوښتني:

س۱ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (( مَن سَأَلَ النّاسَ...)) حدیث له یادو بشپړ کړه ؟

................................................................................................................................................

س۲ د هغه چا حکم څه دی چې له اړتیا پرته له خلکو سوال کوي؟

................................................................................................................................................

س۳ که تاسو یو څوک ووینئ چې له خلکو نه سوال کوي، نو په څه ورته نصیحت کوئ؟

................................................................................................................................................

س۴ له خلکو له اړتیا پرته سوال کول ولې ګناه ده؟

................................................................................................................................................





# د کورني دندې اړوند پوښتنې:

س١ ووايه چې د ابوهريرة رضي الله عنه په اړه په څه پوهيږي؟

..........................................................................................................................................

س٢ مسلمان څنګه کولی شي له مشروع لارې پيسې وګټي؟

..........................................................................................................................................

س٣ د سوال کولو څخه د ممانعت څو ګټې وښيه؟ .

..........................................................................................................................................



**اتم حدیث:**

# د ناروغ د پوښتنې فضیلت:

**له ثوبان رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:**

(( مَن عاد مَرِیضاً لم یَزَلْ في خُرْفَة الجنَّة، قیل: یا رسولَ الله، وما خُرفَةَ الجنَّة ؟ قال:» جَناها ))

«څوک چې د ناروغ پوښتنې ته لاړ، نو دی چې ترڅو هلته وي دی په (خرفةُ الجنة) کې دی، وویل شو ای د الله رسوله، خرفة الجنة څه دی؟ هغه وفرمایل: د میوو راټولول (یعني په جنت کې د میوو راټولونکی)

مسلِم روایت کړی

**د راوي پېژندل:** هغه جلیل القدر صحابي ثوبان بن بُجدد دی، کنیه یې ابو عبد الله دی، نوموړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ازاد کړی شوی غلام دی، په مدینه کې اوسیدلی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته شام ته کډه شوی دی، د هجرت په څلورپنځوستم کال د مصر له فتحې وروسته په حمص کې وفات شو.

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| عاد: | ویې لیده (پوښتنې ته یې ورغی) |
| خُرْفَة: | الخرف: د خرما له ونې خرما راشکول |

بخاري په کتاب المرض، باب: عِیادَة الأعراب، کې په (٥٦٥٦) شمیره روایت کړی او عبارت یې داسې دی» أنَّ النَّبيَّ صلی الله علیه وسلم دخل علی أعرابي یَعودُه، قال وکان النَّبيُّ صلی الله علیه وسلم إذا دَخَل علی مَرِیضٍ یَعُودُه قال له:» لا بأس، طَهور إن شاءَ الله....». رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو بانډچي ناروغ پوښتنې ته ورغی، وایي او رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله د کوم ناروغ پوښتنې ته ورغی نو ورته به یې ویل: « لا بأس، طَهور إن شاءَ الله ....».

## د حديث لارښووني:

روغتيا پر بندګانو د الله تعالی لويه لورينه ده، او الله تعالی کله خپل ځينې بندګان په ناروغۍ اخته کوي.
ناروغ پر خپلو مسلمانانو ورونو حق لري چې بار بار يې پوښتنه وکړي.
د ناروغ په پوښتنه کې د الله تعالی لخوا اجر او ثواب دی.
د ناروغ پوښتنه د هغه دردونه کموي او په زړه يې خوشحالي ورننباسي.
د ناروغ پوښتنه روغ انسان ته د الله تعالی نعمتونه وريادوي.
د مسلمانانو تر منځ د مينې پيدا کېدو او مينې ځېرېدلو يو لامل خپلمنځي تګ راتګ دی په ځانګړې توګه د ناروغ پوښتنه کول.
ځوک چې د ناروغ پوښتنې ته لاړ شي شرعي طريقه دا ده چې دعا ورته وکړي او ووايي: ((لا بَأْس طَهُور إن شاءَ الله) يعني ان شاء الله چې (دا ناروغي) د ګناه پاکوونکې ده.)، او خپل ملاقات دې لنډ کړي.

## ښوونکي ته:

- روغتيا ستر نعمت دی، نوغوره به وي چې د دې نعمت ښکاروونه له دې ځخه په کتې اخيستلو وشي، ناروغي د الله تعالی لخوا امتحان دی نو د دې تشريح کول په کاردي ترڅو تري ځوانان له دې معنا کټه پورته کړي، نو ناراضه کيږي به نه او نه به شکايت کوي.
- د خپلوانو، ملګرو او نورو ناروغانو د پوښتنې له لارې د محبت او ورورلولۍ د روحيې پياوړتيا.

# د بحث پوښتني:

س۱ ووایه چي د ثوبان بن بجدد رضي الله عنه په اړه په څه پوهیږي؟

..........................................................................................

س۲ د ناروغ د یو څو حقونو یادونه وکړه؟

..........................................................................................

س۳ ولي د ناروغ پوښتنه انسان ته د الله تعالی نعمت وریادوي؟

..........................................................................................

س۴ مسلمان ته د ناروغ د پوښتني کول پر مهال څه کول مستحب دي؟

..........................................................................................





# د کورني دندي اړوند پوښتني:

س١ حديث په دوو کرښو کې تشريح کړه؟

.......................................................................................................

س٢ د ناروغ د پوښتني دوه ګټې وښيه؟

.......................................................................................................

س٣ عبد الله د خپل ناروغ ملګري عبد الرحمن پوښتني ته ولاړ چې په روغتون کې بستر و، کله چې روغتون ته ننوت نو په کوټو کرځيده، ډيرى ناروغان يې وليدل چې الله تعالی په بيلابيلو ناروغيو اخته کړي وو، نو د الله شکريې ادا کړچې دی يې له دې ناروغيو ساتلی او د الله تعالی څخه تولوته د بيړنۍ روغتيا دعا وغوښتنه، کله چې د خپل ملګري کوټې ته ورسيد سلام يې پري واچاوه او دعا يې ورته وکړه چې الله تعالی يې له دې ناروغۍ روغ کړي او ګناهونه يې وبخښي، نو عبد الرحمن په دې کارزيات خوشحاله شو او د پوښتني له امله يې ترې مننه وکړه.
عبدالله کوم ستر کارونه وکړل؟ او د الله تعالی سره يې اجر څه دی؟ .

.......................................................................................................

---

بخاري په كتاب فَضائِل القرآن، باب: فَضْل المعَوّذات کې په (٥٠١٧) شميره او مُسلِم په كتاب السَّلام، باب: رقية المرِيض بِالمعوِّذات والنَّفْث، کې په (٢١٩٢) شميره روايت کړی دی.

بخاري په كتاب التَّوحيد، باب: السّؤال بأسماء الله تعالى والاستعاذة بها، کې په (٢١٩٦) شميره روايت کړی دی.

نهم حدیث

# د خوب له سنتونو څخه:

له عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی چي:

أنَّ النَّبيَّ صلى الله عليه وسلم كان إذا أَوَى إلى فِراشِه كلّ لَيْلَةٍ جَمَعَ كَفَّيْهِ ثمَّ نَفَثَ فيهما فقَرأ فيهما: (( قُل هو اللهُ أَحَد ))، و(( قُل أَعوذ بِرَبِّ الفلق ))، و(( قل أَعوذ بِرَبّ النّاس ))، ثمَّ يمسَح بهما ما استَطاعَ مِن جَسَدِه، يَبْدَأ بهما على رأسِهِ ووَجهه وما أَقْبَل مِن جَسَدِهِ، يَفْعَل ذلك ثَلاث مَرّات )).

رسول الله صلى الله عليه وسلم به چي هره شپه خپل خوب ځای ته لاړ نو دواړه لاسونه به يې ليه کړل بيا به يې پکې (( قُل هو اللهُ أَحَد ))، (( قُل أَعوذ بِرَبِّ الفلق )) او (( قل أَعوذ بِرَبّ النّاس )) وويل او چف به يې کړل، په خپل بدن به يې راکش کړل، څومره يې چي کولی شول، له سر او مخ نه به يې پيل وکړ او بيا د بدن مخه، دا کار به يې دري ځلي کاوه

او مسلِم روايت کړی دی .

د راوي پيژندل: په شپږم حديث کې يې پيژندنه شوې ده.

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| أوى: | ویده کیدو ته چمتو شو. |
| نَفَث: | النَّفْث: په لاس کې معمولي تف یا چف کول. |
| أَعُوذ: | الله ته پناه وړم او ځان پرې ساتم. |
| الفَلَق: | سهار. |

## د حدیث لارښووني:

پر بنده ګانو د الله تعالی له لورینو څخه یوه دا ده چې د ویده کېدو پر مهال یې ورته اذکار روا کړي دي.

مسلمان باید په خپلو ټولو حالاتو کې د الله تعالی سره پیاوړې اړیکه ولري.

د مسلمان لپاره سنت دي چې د ویده کېدو پر مهال پدې اذکارو پابندي وکړي تر څو یې له ګټو څخه برخمن شي لکه:

د الله تعالی سره د اړیکو پیاوړتیا.

د الله تعالی له خوا یې ساتنه.

د الله تعالی له خوا د اجر او ثواب تر لاسه کول.

د خوب لپاره ډیرې سنتونه دي لکه:

د پاکوالي په حالت کې ویده کېدل.

په ښي اړخ ویده کېدل، ښي لاس د ښي مخ لاندې ایښودل او دا دعا ویل: (( اللّهمّ باسمِك أَحْيا وأموت ))، وإذا اسْتَيْقَظ قال:(( الحمدُ لله الذي أحْيانا بعد ما أماتَنا وإليه النُّشور )). (( اللّهمّ باسمِك أَحْيا وأموت ))، «یا الله ستا په نوم راژوندی کېږم او ستا په نوم مرم (ویده کېږم)»، او کله چې راویښ شي نو دا دعا: (( الحمدُ لله الذي أحْيانا بعد ما أماتَنا وإليه النُّشور )) . «الله لره ستاینه ده؛ هغه ذات چې موږ یې له مرګ نه وروسته راژوندي کړو او هغه ته بیرته ورتولیدل دي».

د اية الکرسي لوستل.

د الاخلاص سورت او معوذتینو لوستل، په لاس کې یې چف کول او لاسونه تر خپلې وسې پر ځان درې ځلې راکاږل.

## ښوونکي ته:

ښوونکی د چوف او مسح کولو طریقه ښيي او زده کوونکي هڅوي چې هره شپه د خوب ویلو اذکار ووایي.

- ښوونکی زده کوونکو ته وایي چې د خوب له سنتو څخه دا دي چې درې دیرش ځلې سبحان الله، درې دیرش ځلې الحمد لله او څلور دیرش ځلې الله اکبر وویل شي، لکه څرنګه چې علی بن ابی طالب او فاطمې رضي الله عنهما ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وصیت کې راغلي دي.

وګورئ: صحیح البخاري، کتاب النَّفقات، باب: عَمَل المرأة في بَيْت زَوْجِها، شمیره(٥٢٦١).



# د بحث پوښتني:

س۱ عن عائشة رضي الله عنها أنَّ النَّبيَّ صلى الله عليه وسلم كان إذا أوى...)).
دا حديث له يادو بشپړکړه؟

.............................................................................................................

س۲ له خوب څخه د راپاڅېدوپر مهال څه وايې؟

.............................................................................................................

س۳ هغه څوک چې د اذکارو پابندي کوي او څوک يې چې نه کوي، د دواړو ترمنځه څه توپیر دی؟

.............................................................................................................





# د کورني دندي اړوند پوښتني:

س١ ووایه چې د ام المؤمنین عائشه رضي الله عنها په اړه په څه پوهیږې؟

................................................................................................

س٢ د ویده کېدو څلور سنتونه وښیه؟

................................................................................................

س٣ د حدیث دري ګټي وښیه؟ .

................................................................................................



بخاري په كتاب الأدب، باب: الحذَرمِن الغَضَب كې په (٦١١٦) شميره روايت كړى دى.

لسم حديث

# له غصې څخه ډډه کول:

**له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې يو سړي رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل:**

أَوْصِنِي، قال:( لا تَغْضَب )، فرَدَّدَ مِراراً، قال:( لا تَغْضَب )

ماته نصيحت وکړه، هغه ورته وويل:( لا تَغْضَب ) يعنې مه غصه کيږه، هغه ورڅخه بيا څو ځلې پوښتنه وکړه، او هغه ورته وفرمايل چې :( لا تَغْضَب ) يعنې مه غصه کيږه.

بُخارِي روايت کړی

**د راوي پېژندل:** په دريم حديث کې يې پېژندنه شوې ده.

## د حديث لارښوونې:

حديث پر دې دليل دی چې صحابه کرامو د رسول الله صلی الله عليه وسلم وصيتونو ته زياته پاملرنه درلوده.

رسول الله صلی الله عليه وسلم له غصې څخه منع فرمايلې ده؛ ځکه چې هغه له شيطان څخه ده او زيانمنې پايلې لري.

رسول الله صلی الله عليه وسلم له غصې څخه منع فرمايلې ده، او مسلمان ته په کار دي چې له غصې او له لاملونو يې ځان وساتي ترڅو پکې واقع نه شي.

د غصې ضد: زغم او حوصله ده دا دواړه له ستايل شوو صفتونو څخه دي او مسلمان ته په کار دي چې په ځان کې يې پيدا کړي.

چا چې غصه وکړه نو د لاندې کارونو سپارښتنه ورته کيږي:

اعوذ بالله من الشيطان الرجيم ويل.

اودس کول.

الله جل جلاله يادول.

هغه حالت ته بدلون ورکول چې دی پکې دی



# د بحث پوښتني:

س۱ اسلام ولې له غصې کولو منع فرمايلې ده؟

......................................................................................................

س۲ ځينې اسباب وښيه چې د غصې لامل ګرځي؟

......................................................................................................

س۳ : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: ( ليس الشَّديد بِالصُّرعَة، إنما الشَّدِيد الذي يملِك نَفْسَه عند الغَضَب)، ( ليس الشَّديد بِالصُّرعَة، إنما الشَّدِيد الذي يملِك نَفْسَه عند الغَضَب)
«پياوړی کس - په غبرږ نيولو کې - چپه کوونکی نه دی، بلکې پياوړی هغه دی چې د غصې پر مهال خپل ځان کنټرول کړي». رسول الله صلى الله عليه وسلم ولې هغه سړی پياوړی وښود چې د غصې پر مهال ځان کنټرولوي.

......................................................................................................

---

بخاري في كتاب الأدب، باب: الحذر من الغضب کې په (٦١١٤) شميره روايت کړی دی.

**ښوونکي ته:**

- غوره ده له حديث څخه په ګټه اخيستنې زده کوونکي ښو اخلاقو ته وهڅول شي تر څو پرې ځان سمبال کړي.
- غصه، غبرږ پورته کول او جګړه ناوړه صفتونه دي، نو ښوونکی دې دا معنا زده کوونکو ته څو څو ځلې تکرار کړي تر څو ترې ډډه وکړي.
- د دې حديث تشريح کول: ( ليس الشَّدِيد بِالصُّرَعَة

# د کورني دندې اړوند پوښتنې:

**س۱** وواياست چې د ابوهريرة رضي الله عنه په اړه په څه پوهيږئ؟

..........................................................................................................................

**س۲** ولې رسول الله صلى الله عليه وسلم دې صحابي رضي الله عنه ته دا وصيت تکرارکړ؟

..........................................................................................................................

**س۳** د حديث درې لارښوونې بيان کړه.؟

..........................................................................................................................



---

او مُسلِم په خپل صحيح کې (۹۳/۱)، کتاب الإيمان، باب: تحريم الكبروبَيانه کې په: (۱۴۷) شميره روايت کړی دی.

ښوونکي ته:

* ښوونکی بايد زده کوونکو ته د قلبي ناروغيو په اړه يادونه وکړي لکه: کبر، حسد او کينه، او دا چې له دې ټولو څخه ساتل واجب دي، همدا رنګه دې ورته د کبر او عاجزۍ ترمنځ توپير بيان کړي او دا چې ولې له کبر څخه منع راغلې ده.
* ښوونکی بايد زده کوونکو ته تشريح کړي چې د ځان پاکوالي او ښايسته کولو ته پاملرنه روا ده، خو چې اسراف پکې نه وي، ځکه د اسراف له امله کبر رامنځ ته کيږي

يوولسم حديث

# له کبر څخه ځان ساتل

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

(( لا يَدْخُلُ الجنَّةَ مَن كان في قَلْبِهِ مِثْقال ذَرَّةٍ مِن كِبْرٍ». فقال رَجُلٌ: إنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أن يكون ثَوْبُه حَسَناً، ونَعْلُه حَسَنَةً، قال صلَّى الله عليه وسلَّم: إنَّ اللهَ جَمِيلٌ يحبُّ الجمال، الكِبْرُ بَطَرَ الحَقِ وغَمْطُ النّاسِ ))

ژباړه: «جنت ته به هغه څوک داخل نشي چې په زړه کې يې يوه ذره لويي وي. يو سړي ووېل: بېشکه يوسړی خوښوي چې جامې يې ښايسته وي او څپلی يې ښايسته وي، هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل: پرته له شکه الله ښايسته دی، ښايست خوښوي، لويي له حق څخه انکارکول او د خلکو کم ګڼل دي»

مسلم روايت کړی

**د راوي پېژندل:** هغه جليل القدر صحابي عبد الله بن مسعود بن غافل الهذلي دی، د بعثت په پيل کې ايمان راوړی او د صحابه کرامو له لويو علماوو څخه و، په فقه کې زيات شهرت درلود، د شام په فتحه کې يې ګډون کړی. عمر رضي الله عنه کوفې ته ولېږه چې هلته خلکو ته ديني چارې وروښيي، بيا پرې عثمان رضي الله عنه امير وټاکه، نوموړی د نبوي هجرت په دري ديرشم کال په مدينه منوره کې وفات شو رضي الله عنه.

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| مِثْقال ذَرَّةٍ مِن كِبْر | يعني د ذرې د وزن په اندازه. دلته ترې مراد د کبر لږه اندازه ده |
| بَطَرُ الحَقِّ | د کبر او غرور له امله له حق نه انکار کول. |
| غَمْطُ النّاسِ | د خلکو سپکاوی |

## د حديث لارښوونې:

د کبر، پر خلکو ځان جيګ ګڼلو او هغوی ته د سپک ليدلو حراموالی.

اسلام د پاکۍ دين دی، پر مسلمان واجب دي چې کالي، ځان او ټول توکي يې پاک وي لکه: ميز، کتابونه، کتابچې او داسې نور..

پر مسلمان واجب دي چې خپل زړه له هر ډول بغض، کينې، کبر او په نورو له ملنډو وهلو څخه پاک کړي؛ تر څو په ظاهر او باطن کې پاک شي.

پر مسلمان واجب دي چې د نورو احترام او عزت وکړي؛ د لويانو عزت او په کوچنيانو شفقت وکړي او هغه څه ورته خوښ کړي چې ځانته يې خوښوي.

پر مسلمان د حق منل واجب دي؛ ځکه چې انکار ترې کول کبر دی.

# د بحث پوښتني:

س۱ د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول تشریح کړه: «لا يَدْخُل الجنَّةَ مَن كان في قَلْبِه مِثْقال ذَرَّةٍ مِن كِبْرٍ».
په (✓) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطی اصلاح کړئ.

الله جل جلاله کبر نه خوښوي ( ).

خلک کبرجن انسان نه خوښوي ( ).

د کالیو، بدن او ځپلیو پاکوالی د کبر نښه ده ( ).

د ښوونځي پر دیوالونو لیکل ښه منظر لري ( ).

س۲ اسلام ولې د تکبر څخه منع کړې ده؟

.................................................................................................

س۳ د کبرجن او عاجزي کوونکي ترمنځ توپیر ووایئ.

.................................................................................................

# د کورني دندې اړوند پوښتنې:

س۱

ښوونکي خپلو شاګردانو ته وویل چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله عاجزي کوونکی و او عاجزي کوونکي يې خوښول، مهربان و مهربان خلک يې خوښول، خپل امت ته يې خير او هدايت خوښاوه

زده کوونکي وويل: انسان څنګه کولی شي عاجزي کوونکی شي؟

.................................................................................................

ښوونکي وويل: دا يوه مهمه پوښتنه ده: دا عاجزي نده چې يو سړی خيرن کالي واغوندي او د بدن په پاکوالي کې تنبلي وکړي؛ بلکې له خلکو سره په سلام درلودلو، له هغوی سره په ورين تندي مخ کېدلو، خلکو ته ښېګڼې غوښتلو، پر مسکينانو زړه سوي او له اړمنو سره مرستې کولو کې عاجزي ده.

ښوونکی ولې زده کوونکو ته رسول الله صلی الله علیه وسلم په مثال کې وړاندې کوي؟

.................................................................................................

ولې له ښوونکي څخه د زده کوونکي دا پوښتنه مهمه وه؟

.................................................................................................

س۲

اسلام ولې په پاکوالي ټينګار کړی دی؟

.................................................................................................

س۳

ځينې مثالونه وښيئ چې د پاکوالي نه مراعتول په ګوته کوي؟

.................................................................................................

## دولسم حديث:

# په اسلام کې د ښېګڼو لارې

له ابو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله - صلی الله عليه وسلم - فرمايلي:

(( كُلّ سُلامَى مِن النّاس عليه صَدَقَة، كلّ يَوْمٍ تَطْلُع فيه الشَّمْسُ يَعْدِل بين اثْنَيْنِ صَدَقَة، ويُعِينُ الرَّجلَ على دابَّتِه فَيَحْمِلُ عَلَيْها، أو يَرْفَع عليها مَتاعَهُ صَدَقَةٌ، والكَلِمَة الطَّيِّبَة صَدَقَةٌ، وكلّ خطْوَةٍ يَخْطوها إلى الصَّلاةِ صَدَقَة، ويُمِيطُ الأَذَى عن الطَّرِيق صَدَقَة ))

ژباړه: «د انسان د غړو په هر بند صدقه ده، هره ورځ چې لمر راخيژي او د دوو مخالفو کسانو تر منځه روغه جوړه کوي صدقه ده، او يو چا سره د هغه په سپرلۍ کې مرسته کول صدقه ده چې د هغه په سپرولو کې ورسره مرسته وکړي او يا ورسره د سپرلۍ په بارولو کې مرسته وکړي، او نيکه وينا صدقه ده او هر قدم چې د لمانځه لور ته پورته کوي صدقه ده او له لارې ضرري شيان لرې کول صدقه ده».

بُخاري او مُسلِم روايت کړی.

**د راوي پېژندل:** هغه جليل القدر صحابي عبد الرحمن بن صخر الدوسي رضي الله عنه دی، د هجرت په اووم کال؛ د خيبر د فتحې په کال زيږيدلی، د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يې سخته ملګرتيا کړې ده، نوموړی هغه صحابي دی چې تر ټولو زيات حديثونه يې روايت کړي دي، د نبوي هجرت په اووه پنځوسم کال کې وفات شوی دی، رضي الله عنه

بخاري په کتاب الجهاد والسِّيَر، باب: مَن أَخَذ بالرِّكابِ ونحوِهِ، کې په (۲۹۸۹) شميره روايت کړی او الفاظ د همده دي، مِسلم دې ته په نږدې الفاظو په کتاب الزكاة، باب: بَيان أنَّ اسمَ الصَّدَقَة يَقَع على كلّ نَوْعٍ مِن المعروف کې روايت کړی، د حديث شميره ده (٥٦).

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| كلُّ سُلامى مِن النّاس عليه صَدَقَةٌ. | السلامى: د انسان د بدن غړي او بندونه، د انسان په هر غړي او بند صدقه ده چې بايد ادا يې كړي. |
| يَعْدِل بين اثْنَيْن | چې د دوو ترمنځ سوله وكړي |
| فَيَحْمِل عليها. | په بارولو كې ورسره مرسته كوي. |
| يُمِيطُ الأَذَى. | هرهغه څه لرې كوي چې خلكو ته ضرر رسوي لكه تيږه، چتلي او داسې نور. |

## د حديث لارښوونې:

پر بنده ګانو د الله تعالى مهرباني چې كولى شي په اسانۍ سره نيكۍ ترلاسه كړي.

د الله تعالى په نعمتونو شكرويستل واجب دي لكه: د بدن غړي او حواس.

د نورو سره د خير په كارونو كې مرسته كول د الله تعالى شكر دى او مسلمان ته يې اجر وركول كيږي.

د شخړه كوونكو او مخالفو وروڼو او ملګرو ترمنځ پخلاينه واجب ده.

هغه څه چې يو مسلمان ته پرې اجر وركول كيږي او خلک يې خوښوي دا دي چې په ښو او نيكو الفاظو ورسره خبرې وشي.

هر قدم چې يو مسلمان يې د جومات لور ته اخلي په نيكيو كې يې زياتوالى راولي او ګناهونه يې ښي.

له سرک، ښوونځي او داسې نورو ځايونو څخه د ضرري شي لرې كول د نيكيو د زياتوالي لامل ګرځي.



# د بحث پوښتني:

س۱ : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ( كُلُّ سُلامَی مِن النّاسِ .......... ). حدیث له یادو بشپړ کړه؟

.......................................................................................................................................

س۲ رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو عملونه یادونه وکړه چې انسان ته پرې اجر ورکول کیږي، درې عملونه یې وښیه.؟

.......................................................................................................................................

س۳ حدیث پردې دلیل دی چې د الله تعالی فضل لوی دی، تشریح یې کړه.
د دوه شخړه کوونکو ملګرو ترمنځ د سولې کولو حکم څه دی؟

.......................................................................................................................................





# د کورني دندي اړوند پوښتني:

س١ د حديث دوه ګټې بيان کړه ؟

.......................................................................................................................................

س٢ احمد ځان او نورو ته خبر خوښوي، کله به چې له خوبه راپاڅېده نو مسنون اذکار به يې ويل، بيا د سهار لمانځه ادا کولو لپاره جومات ته ولاړ، بيا د سهار اذکار وايي، ورپسې د مور او پلار سره خداى په اماني کوي او ښوونځي ته د تللو لپاره چمتووالى نيسي، دى ورته دعا کوي او د خدمت لپاره ترې مننه کوي، ښوونځي ته وختي حاضرېږي او له فعاليت ډکه ورځ تيروي، د ښوونکو احترام کوي، که چيرته له خپلو ملګرو څخه داسې کومه کړنه وګوري چې ازاروي يې، په ښوله ارامۍ سره يې اصلاح کوي، همداسې ښوله ورځ تيروي، خپلې کورنۍ دندې ليکي، د کورنۍ اړتياوې پوره کوي او د خپلو کمزورو ګاونډيانو سره مرسته او همکاري کوي، د لارې له سر څخه زيانمن شيان لرې کوي، تر دې چې شپه شي، نو د لمانځه او وترو له کولو وروسته اذکار وايي او ويده کيږي.

خو ملګرى يې صالح داسې نه دى، ناوخته پاڅيږي، ناوخته ښوونځي ته ځي، مور او پلار غصه کوي، په مور او پلار چغې وهي، او مسنونه اذکار او نفلونه نه کوي.

د احمد د طريقې او د صالح د طريقې ترمنځ پنځه توپيرونه وښيه.

د هريوه د عمل پايله په دنيا او آخرت کې بيان کړه (        ).

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

**دیارلسم حدیث:**

# له اور سره د لاس وهنې خطر

**له ابو موسى الأشعري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې:**

(( احتَرَقَ بيت على أهلِهِ بِالمدِينَة مِن اللَّيلِ، فلَمّا حُدِّثَ رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم بِشَأنِهِم قال:» إنَّ هذِه النّارَ إنَّما هي عَدُوٌّ لَكُم، فإذا نِمْتُم فَأطْفِئوها عَنْكُم ))

په مدينه كې يو كور په اوسيدونكو وسوځيد، كله يې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په اړه وويل شو، هغه وفرمايل: « إنَّ هذِه النّارَ إنَّما هي عَدُوٌّ لَكُم، فإذا نِمْتُم فَأطْفِئوها عَنْكُم ». «يقينا دغه اور مو دښمن دی، نو كله چې ويده كيدئ، اور مړ كړئ».

(دا حديث) بخاري او مسلم روايت كړی دی .

**د راوي پيژندل:** هغه جليل القدر صحابي عبد الله بن قيس الأشعري - رضي الله عنه - دی، په مكه كې يې اسلام راوړی او حبشې ته يې هجرت كړی، د عمر او عثمان رضي الله عنهما په خلافتونو كې د كوفې والي پاتې شوی، هلته يې خلكو ته قرآن كريم او فقه ورزده كړل، د ډير ښكلي غږ درلودونكی و، او د نبوي هجرت په دوه څلويښتم كال وفات شوی دی؛ رضي الله عنه

## ښوونكي ته:

په كورونو، كوڅو او نورو ځايونو كې د اور سره د لوبې كولو خطر.

بخاري په كتاب أحاديث الأنبياء كې په (٣٤٨٢) شميره روايت كړی او مسلم په خپل صحيح كې (١٧٦٠/٤) په كتاب السَّلام، باب: تحريم قتل الهِرَّة كې په (١٥١) شميره روايت كړی او الفاظ د همده دي

ښوونكي ته: * مؤمن پرځان او نورو آن حيواناتو هم مهربان وي چې دا كارلويه معنا لري، او د دي مهربانی ښكارندويي كوي

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| فَلَمّا حُدِّثَ رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم | يعني: په هغه څه خبر شو چې دوی ته ورپېښ شوي و. |

## د حديث لارښوونې:

اسلام د خلکو د ځانونو او کورونو په خونديتوب داسې ټينګار کوي لکه څنګه يې چې د دوی د عقايدو او اعمالو پر خونديتوب کوي.

انسان بايد له هر هغه څه ځخه ځان وساتي چې په خپله د ده او يا د نورو لپاره زيانمن وي.

مسلمان بايد له ويده کيدو مخکې خپل کور وځاري او د ګاز اور، بخارۍ او داسې نور بند کړي.

مسلمان بايد د هغه څه په وړاندې چمتووالی ولري چې د اور لګېدنې لامل ګرځي لکه: په کور او موټر کې اور وژونکي توکي ځای پر ځای کول.

په حديث کې د اور پر وړاندې د بې پروايۍ يا له اور سره د لوبې کولو پر وړاندې خبرداری ورکړل شوی، برابره خبره ده که په کور کې وي يا بهر او داسې نور، او په دې کې هغه اورې لوبې هم شاملې دي چې له امله يې لوی زيانونه رامنځه ته کېږي.



# د بحث پوښتني:

س۱ اور ولې زموږ دښمن دی؟

...........................................................................................................

س۲ حديث له اور سره د (بې ځايه) لاس وهنه منع کړې. ځينې هغه کارونه وښيئ چې د اور سره پکې لوبې کيږي؟

...........................................................................................................

س۳ په حديث کې د اور له شر څخه د خونديتوب لپاره کومه طريقه ذکر شوې ده؟

...........................................................................................................

س۴ لاندې هغه جملې سمې کړئ چې سمون ته اړتيا لري:

د ماشومانو په مخ کې د ليټر (اورلګيت) سره لوبې کول ښه کار دی. ........................................

په کور کې اور وژونکي توکي ساتل اړين نه دي. ..............................................................

# د کورني دندي اړوند پوښتني:

**س۱** له ویده کیدو وړاندي ولې اور وژنو؟

..............................................................................................................................

**س۲** لاندي عبارت تشریح کړئ: له اور کاروني وروسته اور لګیدلی پرېښودل وکړو او کورنیو ته خطر پېښوي؟

..............................................................................................................................

**س۳** لاندي خالي ځایونه له هغه څه سره ډک کړئ چي تاسو ته سم ښکاري:

له برق سره لوبې کول ...................... رامنځ ته کوي، نو باید

....................................................... څخه ډډه وکړو .

ښوونکي ته: * مؤمن پر ځان او نورو آن حیواناتو هم مهربان وي چي دا کارلویه معنا لري، او د دې مهربانی ښکارندویي کوي.

# پر حيواناتو مهرباني

**له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:**

(( عُذِّبَت امرأَةٌ في هِرَّة، سَجَنَتْها حتَّى ماتَت، فَدَخَلَت فيها النّار، لا هِيَ أَطْعَمَتْها وسَقَتْها إذ حَبَسَتْها، ولا هِي تَرَكَتْها تَأْكُل مِن خَشاشِ الأَرْضِ ))

ژباړه: «يوې مېرمنې ته د يوې پيشو له امله عذاب ورکړل شو؛ چې بنده کړې يې وه، تر دې چې مړه شوه، نو له امله يې دوزخ ته لاړه، ځکه هغې پيشو بنده کړې وه، نه يې خوراک ورکاوه او نه څښاک او نه يې پرېښودله چې د ځمکې له ځڼنده و څخه خوري».

(دا حديث بخاري او مسلم روايت کړی دی .

**د راوي پېژندل:** هغه جليل القدر صحابي عبد الله بن عمر بن الخطاب بن نفيل العدوي رضي الله عنهما دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثت څخه وروسته زيږيدلی، په ډيرى غزاګانو کې يې ګډون کړی او يو له هغو کسانو څخه دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه يې ډيرى حديثونه روايت کړي دي او په خپلو ټولو چارو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر پيروی زيات حرصناک و، نوموړی د نبوي هجرت په درې اوياىم کال په طايف کې وفات شوی دی، رضي الله عنه.

---

بخاري په: کتاب الأطعمة، باب: التَّسمِيَة على الطَّعام والأكلِ بِاليَمِين کې په (٥٣٧٦) شميره روايت کړی، او الفاظ د همده دي. او مُسلِم په خپل صحيح کې په (١٥٩٩/٣)، کتاب الأشرِبة، باب: آداب الطَّعام والشَّراب وأحكامها کې په (١٠٨) شميره روايت کړی.

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| فَدَخَلَت فيها النّار | له امله يې اور (دوزخ) ته لاړه. |
| خَشاش الأَرْضِ | د ځمكې ځځنده. |

## د حديث لارښوونې:

ژوي او الوتونكي (مرغان او حيوانات) د خداى تعالى مخلوق دي او پر خلكو حق لري.

د ژوو او الوتونكو له حقونو څخه:

له خوراک او څښاک څخه په بندولو يې له ازارولو او يا يې په بچيو له لوبو كولو بايد ډډه وشي.

پر هغوى زړه سوى، خوراک او څښاک وركول.

د حيواناتو حقونو ته پاملرنه جنت ته د اخليدو لامل دى.

حيوان ازارول، له هغه څخه خوراک او څښاک منع كول دوزخ ته د تللو لامل دى.

# د بحث پوښتنې:

س۱ په حديث کې ياده مېرمن ولې دوزخ ته لاړه؟

...............................................................................................................

س۲ د حيوان پروړاندې تاته څه کول په کار دي؟

...............................................................................................................

س۳ - د حيوان ازارولو ځينې ډولونه وښيئ.؟

...............................................................................................................

س۴ پر حيواناتو د ترحم ځينې ډولونه وښيه؟

...............................................................................................................



# د کورني دندې اړوند پوښتنې:

س۱ لاندې کلمې په مناسبو خالي ځایونو کې وکاروئ:

کانې - حیوان - تږی - اور - وږی

کله چې یو............ سپی وګورم نو اوبه ورکوم.

د ...................... ازارول .............................. ته د داخلیدو لامل ګرځي

س۲ یو پلار خپل زوی ته مرغۍ واخیستې، په پنجره کې یې بندې کړې چې زوی یې ورته ګوري، او پرې غلی وي او د الله تعالی په مخلوقاتو کې فکروکړي، او زوی یې ژمنه وکړه چې په خوراک او څښاک ورکولو به یې ښه ساتنه کوي، او همداسې و، تر دې چې یو وخت ټولې کورنۍ سفروکړ، کوچني مرغۍ پرېښودې، کله چې دوی له سفر څخه راوګرځیدل، ګوري چې مرغۍ ټولې مړې شوې دي؟

هلک کوم غلط کارونه وکړل؟

هلک ته د سفرکولو پرمهال څه کول په کارو؟ .



پخوا الأحساء او خواوشا سیمو ته ویل کېده.

**پنځلسم حديث**

# د خوراک له ادابو څخه

**له عمربن ابی سلمة - رضي الله عنهما - څخه روايت دی وايي:**

(( كُنْتُ غُلاماً في حِجْرِ رَسولِ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم، وكانت يَدِي تَطِيشُ في الصَّحْفَةِ، فقال لي رسولُ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم:( يا غُلام، سَمِ اللهَ، وكُلْ بِيَمِينِك، وكُلّ ممّا يَلِيك ))

زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په سرپرستۍ کې کوچنی ماشوم وم چې (د ډوډۍ خوړلو پر مهال به مې) لاس په کاسه کې آخوا او ديخوا کيده، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل: (يَا غُلَامُ، سَمِّ اللهَ، وَكُلْ بِيَمِينِكَ، وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ) ( اې هلکه، بسم الله ووايه، په ښي لاس خوراک کوه او له خپلې مخې څخه خوراک کوه)

. مسلم روايت کړی

**د راوي پېژندل:** هغه جليل القدر صحابي عمربن سلمة بن عبد الأسد المخزومي - رضي الله عنه - دی چې د هجرت په دويم کال زيږيدلی او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په کور کې روزل شوی دی، مور يې ام سلمة د رسول الله صلى الله عليه وسلم مېرمن وه، علي بن ابی طالب رضي الله عنه د بحرين امير ټاکلی و ، نوموړی په مدينه منوره کې د نبوي هجرت په درې اتيايم کال وفات شوی. رضي الله عنه

---

بخاري په: كتاب الأطعمة، باب: التَّسمِيَة على الطَّعام والأكلِ بِاليَمِين کې په (٥٣٧٦) شميره روايت کړی، او الفاظ د همده دي. او مُسلِم په خپل صحيح کې په (١٥٩٩/٣)، كتاب الأشرِبة، باب: آداب الطَّعام والشَّراب وأحكامها کې په (١٠٨) شميره روايت کړی.

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| يا غُلام | غلام: وړوکی هلک |
| في حِجْرِ رَسولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰه عليه وسلَّم | يعني: د رسول الله صلى الله عليه وسلم په کور کې روزل شوی. |
| تَطِيش | په هر ځای کې لاس وهل او په خپله مخه بسنه نه کول. |
| الصَّحْفَة | يو لوښی چې خواړه پکې ايښودل کيږي، د قاب په څير. |

## ښوونکي ته:

* ښوونکی بايد د خوراک او څښاک آداب په لنډه توګه بيان کړي، زده کوونکو ته يې وړاندې کړي، همدارنګه د نعمتونو قدر او احترام، ځکه دا د نعمتونو د پاتې کيدو او شکر ويستلو لامل دي.

بخاري په: کتاب الأدب باب: إذا عَطس كيف يُشَمَّت کې په:(٦٢٢٤) شميره، او أبو داود په: السُّنَن کې په باب: ما جاء في تَشْمِيت العاطِس، کې په (٥٠٣٣) شميره روايت کړی دی.

## د حديث لارښووني:

خوراک او څښاک د الله جل جلاله له لوري پر بنده ګانو ستر نعمت دی چې بايد د الله تعالی شکر پرې ادا کړي.
مسلمان بايد له خوراک پيل کولو مخکې: (بسم الله) ووايي.
پر مسلمان واجب دي چې په ښي لاس خوراک وکړي، او د څښاک پر مهال لوښی په ښي لاس ونيسي.
کله چې مسلمان وغواړي خوراک او څښاک وکړي، نو له خپلې نږدې مخې دې خوراک وکړي.
په خوراک لوېي کول پر نعمت د شکر ويستلو مخالفت عمل دی.
مسلمان بايد نورو ته هم د خوراک او څښاک آداب وښيي.

# د بحث پوښتنې:

س۱ رسول الله صلی الله علیه وسلم څه شي ته د عمر بن ابی سلمه رضي الله عنه لارښوونه وکړه؟

............................................................................................................................................

س۲ په (✓) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطی اصلاح کړئ

په کثافاتو کې خواړه غورځول د الله تعالی پر نعمت شکر ویستل دي (   )

فقیرانو او مسکینانو ته پاتي شوي خواړه ورکول د الله تعالی شکر ادا کول دي (   )

په چپ لاس خوراک کول روا دي (   )

س۳ - مسلمان به د خوراک پیلولو پر مهال څه وايي؟

............................................................................................................................................



## د کورني دندې اړوند پوښتنې:

محمد خپل پلار ته وویل: موږ نن ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو حدیث ولوست چې د خوراک ځینې آداب پکې دي.

موږ ترې زیاته ګټه واخېسته. او پلاره زه ډېر لیواله یم چې ستا څخه د خوراک پرمهال نور آداب هم واورم.

پلاروویل: زویه الله تعالی دې برکتي کړه، زه به درته ځینې آداب ووایم لکه: پدې اقرار وکړې چې دا د الله تعالی له لورې یو نعمت دی، هغه رزق ورکوونکی او عزتمند ذات دی او باید بسم الله ووایې، او د اړتیا په اندازه خوراک وکړې، کله دې چې ډوډی وخوړه د الله تعالی ستاینه وکړه او شکرېې ادا کړه او داسې ووایه چې: الحمدُ لله الذي أَطْعَمَنا وكَسانا ورَزَقَنا مِن غَيْرِ حَوْلٍ منّا ولا قُوَّة. (هغه الله لره ستاینه ده چې موږ ته یې خوراک او پوښاک راکړل او موږ ته یې رزق راکړ پرته له دې چې کوم حرکت وکړو او یا ځواک ولرو). محمد وویل: پلاره که چېرته مې د خوراک په پیل کې (بسم الله) هېره شوه بیا څه وکړم؟ پلارېې وویل: بیا ووایه: (باسمِ اللهَ أولَّه وآخِرَه) یعنې پېل او پای د الله په نوم.

س۱ هغه آداب په ګوته کړه چې مسلمان یې باید د خوراک او څښاک پرمهال مراعت کړي؟

..........................................................................................

س۲ درې غلطیانې وښیه چې ځینې خلک یې د خوراک او څښاک پرمهال کوي؟

..........................................................................................

**شپاړسم حدیث**

# د پرنجي له ادابو څخه

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

(( إذا عَطَسَ أَحَدُكُم فَلْيَقُل: الحمْدُ لله، ولَيْقُل له أَخوهُ أو صاحِبُه: يَرْحَمُكَ اللهُ. فإذا قال له: يَرْحَمُكَ اللهُ، فَلْيَقُل: يَهْدِيكُم اللهُ ويُصْلِحُ بالَكُم ))

کله چې په تاسو کې څوک پرنجی وکړي نو: (الحمد لله) يعني : الله لره ستاينه ده. دي ووايي، ورور او يا ملګری دې ورته: (يرحمک الله) يعني : الله دې پر تا رحم وکړي. ووايي. کله چې ورته هغه (يرحمک الله) وويل: نو دا دې ورته ووايي: (يهديکم الله و يصلح بالکم) يعني: الله دې تاته هدايت وکړي او ستا حال دې ښه کړي.

بخاري روايت کړی .

**د راوي پېژندل:**

دی جليل القدر صحابي عبد الرحمن بن صخر الدوسي رضي الله عنه دی، د هجرت په اووم کال؛ د خيبر د فتحې په کال کې مسلمان شوی، د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې سخته ملګرتيا کړې ده، نوموړی هغه صحابي دی چې تر ټولو زيات حديثونه يې روايت کړي دي، د نبوي هجرت په اوه پنځوسم کال کې وفات شوی دی. رضي الله عنه

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| بالَكُم | حال ستاسو |

## د حديث لارښووني:

زموږ د حنيف دين يوه ځانګړنه دا ده چې د الله تعالی ذکر ته يې له ټولو حالاتو سره تړاو ورکړی دی لکه: پرنجی.
د پرنجي کوونکي لپاره سنت طريقه دا ده چې له پرنجي وروسته: (الحمد لله) ووايي.
کله چې چا پرنجی واوريد او هغه شخص الحمد لله وويل نو د رحمت دعا دې ورته وغواړي او ودې وايي: (يرحمک الله) يعنې الله دې پر تا رحم وکړي.
سنت طريقه دا ده چې کله پرنجی کوونکي له يو چا څخه واوريدل چې ورته وايي (يرحمک الله) نو ورته ووايي: (يهديکم الله ويصلح بالکم).
دا دعاګانې د مسلمانانو ترمنځ مينه او يووالی رامنځته کوي.

## ښوونکي ته:

* د ښوونکي لپاره ښه ده چې په بېلا بېلو وختونو، حالاتو او ځايونو کې د اذکارو ويلو له لارې د شاګردانو په ذهنونو کې د الله تعالی سره اړيکه پياوړي کړي، او د دې اذکارو ګټې او له پرنجي کولو وروسته په الحمد لله کې شرعي حکمت ورته بيان کړي.
د معلوماتو لپاره دابن القيم الجوزي رحمه الله کتاب: الوابل الصيب ته مراجعه وکړئ.
بخاري په: کتاب الأدب، باب: قَوْلِ اللهِ تعالی: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ) وما يُنْهی عن الكَذِب، کې په: (٦٠٩٤) شميره روايت کړی دی
او مسلم په خپل صحيح کې (٢٠١٣/٤) په: کتاب البِرّوالصِلَة والآداب، باب: قُبْح الكَذِب وحُسْن الصِدْق کې په (١٠٥) شميره روايت کړی، او الفاظ د همده دي.

# د بحث پوښتني:

س١ کله چې څوک پرنجې وکړي څه به وايي؟

...........................................................................................................

س٢ له پرنجي وروسته ولې (الحمد لله ) ويل کيږي؟

...........................................................................................................

س٣ د حديث دوه ګټې بيان کړه.؟

...........................................................................................................



# د کورني دندې اړوند پوښتنې:

س۱ که څوک د چا پرنجي واوري نو څه به وايي؟

...........................................................................................................................................

س۲ (بالکم) څه معنا؟

...........................................................................................................................................

س۳ د دې حديث يوه ګټه دا ده چې په پرنجي کوونکي ته دعا کول د مسلمانانو ترمنځ د محبت لامل ګرځي، پدې څنګه پوه شوې؟

...........................................................................................................................................

اوولسم حديث:

# رښتيا ويلو ته هڅول او له درواغ ويلو ويرول

له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

((عَلَيكُم بِالصِّدْقِ، فإنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إلى البِرّ، وإنَّ البِرَّ يَهْدِي إلى الجنَّةِ، وما يَزالُ الرَّجُلُ يَصْدُق ويَتَحَرَّى الصِّدْقَ حتى يُكْتَبَ عند اللهِ صِدِّيقاً، وإيّاكُم والكَذِب، فإنَّ الكَذِبَ يَهْدِي إلى الفُجورِ، وإنَّ الفُجورَ يَهْدِي إلى النّارِ، وما يَزالُ الرَّجُلُ يَكْذِب ويَتَحَرَّى الكَذِبَ حتى يُكْتَبَ عندَ اللهِ كذّاباً ))

«رښتيا وايئ؛ ځکه رښتيا ويل نيکيو ته لارښوونه کوي او يقينا چې نيکي جنت ته لارښوونه کوي، او يو سړی تر هغه پورې رښتيا وايي او د رښتياوو پسې ګرځي چې د الله پروړاندې ريښتينی وليکل شي. او له دروغو ځان وساتئ، ځکه چې دروغ مو بې لاريتوب ته بولي، او بې لاريتوب دوزخ ته بلنه ورکوي او يو انسان تر هغه پورې دروغ وايي او د دروغو پسې ګرځي چې د الله تعالی پروړاندې دروغجن وليکل شي».

بُخارِي او مُسْلِم روايت کړی دی .

د راوي پېژندل: په يوولسم حديث کې يې پېژندنه تېره شوه.

## ښوونکي ته:

* ريښتيا ويل په هرحالت کې وي: د الله تعالی سره په عبادت کې، د مور او پلار سره په سلوک کې، په عمومي توګه له خلکو سره، او په وينا او عمل کې، همدا رنګه به په دروغو کې هم وي (يعنې ځان به ترې ژغوري) نو ښوونکي ته په کار دي چې دا لوی معناګانې زده کوونکو ته تشريح کړي.

مسلم په خپل صحيح کې (٢٠٠١/٤) په: کتاب البِرّوالصِّلَّة والآداب، باب: تحرِيم الغيبة کې روايت کړی، د حديث شميره: (٧٠).

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| هْدِي | لارښوونه کوي او وصلوي. |
| البِرّ | د هرې ښېګڼې او نیکۍ لپاره یو جامع اسم دی. |
| يَتَحَرَّى | لټوي |
| الفُجُور | له حق او نېغې لارې څخه کږېدل. |

## د حدیث لارښوونې:

ریښتیا ویل یو له هغو لاملونو څخه دی چې انسان ښېګڼې او فضیلت ته رسوي، او درواغ یو له هغو لاملونو څخه دی چې انسان بدۍ او سپکوالي ته رسوي.

په وینا کې ریښتینولي مسلمان الله تعالی او خلکو ته ګرانوي، او ریښتینولي یې جنت ته رسوي.

څوک چې په وینا او کړنو کې دروغجن وي د الله تعالی او د انسانانو بدي شي او دا عمل یې دوزخ ته رسوي.

رښتیا یې خاوند په دنیا او اخرت کې ژغوري، او درواغ یې خاوند په دنیاو او اخرت کې هلاکت ته ورغورځوي.

مسلمان باید په ویناوو او کړنو کې ریښتینی اوسي تر دې چې ریښتیا ویل یې خوی وګرځي.

مسلمان باید په وینا او کړنو کې له درواغو ځان وساتي تر څو یې دروغ خوی ونه ګرځوي.

# د بحث پوښتنې:

س۱ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (( علیکم بالصدق...)) حدیث له یادو پوره کړه.؟

.................................................................................................................................................

س۲ په (✓) او (×) علامو سره ځواب ورکړئ او غلطۍ اصلاح کړئ.

رېښتيا ويل په دينا او اخرت کې د خلاصون لارده ( ).

درواغ ويل درته هغه مهال روا دي چې موخه دې د خلکو خندول وي ( ).

پر ملګرو دروغ ويل باک نه لري ( ).

په وينا او کړنو کې رېښتيا ويل الله ته خوښ عمل دی ( ).



# د کورني دندي اړوند پوښتني:

س۱

رسول الله صلی الله علیه وسلم د تبوک غزا لپاره صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د چمتووالي خبرورکړ، خو یو شمیر خلک د بېلابېلو عذرونو له امله پاتې شول، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرام یې راوګرځېدل، نو هغه پاتې خلک د عذرکولو لپاره راغلل، خو ډیرو یې له ځانه داسي عذرونه وویل چې رښتیا نه وو ترڅو یې رسول الله صلی الله علیه وسلم معذور وګڼي، په دوی کې دري تنه داسي راغلل چې ریښتیا یې وویل او اقراریې وکړچې کوم عذرنه لري، نو الله تعالی دا آیت نازل کړ: (۱) [التَّوبَة: ۱۱۸].

الله تعالی هغه دري کسانو ته په څه نجات ورکړچې جنګ ته له تللو پاتې شوي وو؟

د تبوک له جګړې څخه د ځینو پاتې شوو کسانو د عذرونو لامل څه و؟

س۲

خالي ځایونه په لاندي مناسبو کلمو ډک کړئ:

الله - ګران - حیوانات - ریښتیا - خلک - بد - اور.

کله چې ښوونکی له زده کوونکي پوښتنه وکړي نو باید ............ ځواب ورکړي.

په وینا کې ریښتینی خلکو ته ............ وي.

دروا غ ویل حتی پر.............. روا ندي.

یو مسلمان باید په صادقانه توګه له .............. او.......... سره چلند وکړي.

ه- دروا غ ویل یو............ صفت دی

# د غيبت حراموالی

له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

(( أَتَدْرونَ ما الغِيبَة ؟). قالوا: اللهُ ورَسولُه أَعْلَم. قال:( ذِكْرُكَ أخاكَ بما يَكْرَه ). قيل: أَفَرَأَيْتَ إن كان في أَخِي ما أَقول ؟ قال:( إن كانَ فيهِ ما تَقول فَقَد اغْتَبْتَه، وإن لم يَكُن فيه فَقَدْ بَهَتَّه))

ژباړه: ( آيا پوهیږئ چې غيبت څه دی؟) هغوی وویل: الله او رسول يې ښه پوهيږي. هغه وفرمایل: (مسلمان) ورور دې په هغه څه سره يادول چې هغه يې بد ګڼي). وویل شو: خبر راکړه که چیرته زما په ورور کې هغه څه وي چې زه يې وايم؟ هغه وفرمايل: ( که چیرته هغه څه پکې وي چې ته يې وايې نو غيبت دې يې وکړ، او که پکې نه وي نو تور دې پرې پورې کړ).

مُسلِم روايت کړی دی .

**د راوي پېژندل:** په دولسم حديث کې يې پېژندنه شوې ده

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
| --- | --- |
| فَرأَیْتِ | خبر راکړه. |
| بهَتَّه | په هغه څه سره دې یاد کړې چې په هغه کې نه وي |

## د حدیث لارښوونې:

د مسلمانانو عزت ته درناوی ساتل واجب دي.

مسلمان باید د نورو له عیب ویلو څخه ځان وساتي، که څه هم په هغوی کې وي.

د غیبت او تور پورې کولو حرمت.

غیبت او تهمت د خلکو ترمنځ د کینې، دښمنۍ او کرکې لامل ګرځي.

مسلمان باید خلکو ته هغه څه ووایي چې دی یې د ځان لپاره خوښوي چې خلک یې پرې یاد کړي.

# د بحث پوښتني:

س۱ رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (( أَتَدْرونَ ما الغِيبَة ... )) حديث له يادو بشپړ کړه؟

....................................................................................................

س۲ ولې پر مسلمان واجب دي چې د نورو له عيب ويلو ډډه وکړي؟

....................................................................................................

س۳ حديث پردې دليل دى چې د مسلمانانو د عزتونو احترام واجب دى. پدې څنګه پوه شوې؟

....................................................................................................

س۴ (كه چيرته په يو چا کې عيب وي نو ويل يې روا دى) دا عبارت صحيح کړه؟

....................................................................................................



# د کورني دندې اړوند پوښتنې:

س۱ غیبت کول څه حکم لري؟

.............................................................................................................................................

س۲ دا قول تشریح کړه :( وإن لم یَکُن فیه فَقَد بهَتَّه ) ؟

.............................................................................................................................................

س۳ لاندې عبارتونه ستاسو په اند په مناسبو کلمو سره بشپړ کړئ.

غیبت کول یو ................ صفت دی چې دده کول ترې واجب دي.

پر خلکو دروغ ویل له ........................... اخلاقو څخه دي.

یو څوک دې ولیده چې د یو چا غیبت کوي نو پر تا لازم دي چې ................... .



نولسم حديث

# د سلام فضيلت او په خپرولو يې امر

له عبد الله بن عمرو بن العاص - رضي الله عنهما - څخه روايت دی چې يو سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل:

((أيّ الإسلامِ خَيْر؟ قال:( تُطْعِم الطَّعامَ، وتَقْرَأُ السَّلامَ على مَن عَرَفْتَ ومَن لم تَعْرِف ))

کوم اسلام غوره دی؟ هغه وفرمايل: ( تُطْعِم الطَّعامَ، وتَقْرَأُ السَّلامَ على مَن عَرَفْتَ ومَن لم تَعْرِف ).

«دا چې چاته خوراک ورکړې او په اشنا او نا اشنا سلام واچوې»

(دا حديث) بخاري او مسلم روايت کړی دی .

**د راوي پېژندل:** هغه جليل القدر صحابي عبد الله بن عمرو بن العاص بن وائل السهمي القرشي -رضي الله عنهما- دی، له خپل پلار عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه يې مخکې اسلام راوړی او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې په ډيرى غزاګانو کې ګډون کړی دی، ډيرى حديثونه يې روايت کړي، نوموړی د نبوي هجرت په پنځه شپېتم کال کې وفات شوی دی.رضي الله عنه.

## ښوونکي ته:

*د سلام د ګټو بيانول، او دا چې د مينې او محبت د زياتېدو او د کينې د له منځه تللو لامل ګرځي. *د خوراک ورکولو بيلګې چې په رښتيا يې کول شونی کاردی.

بخاري په خپل صحيح کې (٣/٦٦) په: كتاب الحرث والمزارعَة، باب: فَضْل الزَّرع والغرس إذا أكل منه کې په (٢٣٢٠) شميره روايت کړی. او مسلم په خپل صحيح کې (٣/١١٨٩)، كتاب المساقاة، باب: فَضْل الغَرْس والزَّرع کې په (١٢) شميره روايت کړی.

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
| --- | --- |
| أيّ الإسلامِ خَيْر | د اسلام کوم خويونه غوره دي. |
| تَقْرَأُ السَّلامَ | په هغه څه سره دي ياد کړې چې په هغه کې نه وي |

## د حديث لارښووني:

د هغه څه په اړه د صحابه کرامو رضي الله عنهم د سوال کولو تينګار چې الله تعالی ته يې نږدې کوي.

پر فقيرانو او مسکينانو صدقه کول او هغوی ته خوراک ورکول له غوره عملونو څخه دي؛ ځکه پدې کې په ښېګڼې کولو او د خلکو اړتياوو پوره کولو کې همکاري ده. او ځکه چې دا د مسلمانانو تر منځه محبت پيدا کوي.

په کار ده چې څوک په مجلس، کور، ټولګي، کوڅه او داسې نورو ځايونو کې له چا سره مخ شي نو د : السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته په ويلو سره دې پرې سلام واچوي.

د : « السَّلام عليکم ورحمَة اللهِ وبَرکاتُه » ويل بشپړ سلام دی، او که يوازې يې: السَّلام عليکم وويل بسنه ورته کوي.

سلام په دنيا او جنت کې د مسلمانانو ښه راغلاست دی، نو په بل څه سره يې بدلول روا نه دي.

مسلمان ته په کار دي چې اشنا او نا اشنا ته سلام واچوي.

سلام د خلکو تر منځ مينه، ورورولي او محبت زيږوي او له زړونو څخه يې کرکه او کينه لرې کوي.

# د بحث پوښتني:

س۱ حديث په دي دلالت کوي چي صحابه کرام د نيکيو کارونو ته ليواله وو. دا تشريح کړه؟

..........................................................................................

س۲ د سلام لپاره بشپړ الفاظ کوم دي؟

..........................................................................................

س۳ يو ملګري ته دي زنګ وواهه، نو لومړی ورته څه وايي؟

..........................................................................................

س۴ آيا بسنه کوي چي ښوونکي ته دي سهارمهال د السلام عليکم پرځای سهارمو په خيروواي؟ او ولي؟

..........................................................................................

# د کورني دندې اړوند پوښتنې:

س۱ په جنت کې د مسلمانانو سلام څه دی؟

..............................................................................................................................................

س۲ ولې خواره ورکول د اسلام له غوره اعمالو څخه دي؟

..............................................................................................................................................

س۳ په حدیث کې هغه کړنې په ګوته کړه چې د مسلمانانو ترمنځه مینه پیدا کوي.؟

..............................................................................................................................................

س۴ د سلام ګټې وښیه؟

..............................................................................................................................................

شلم لوست:

# د کښت او کرنې فضیلت

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

( ما مِن مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْساً، أو يَزْرَعُ زَرْعاً، فَيَأْكُل منه طَيْرٌ أو إِنْسانٌ أو بَهِيمَةٌ إلّا كان له بِهِ صَدَقَةٌ ).

ژباړه: «هیڅ مسلمان یوه ونه نه کینوي او یا کښت نه کړي، چې له هغه څخه مرغۍ، انسان یا حیوان خوراک وکړي، مګر دا چې د هغه لپاره به صدقه وي»

(دا حدیث) بخاري او مسلم روایت کړی دی .

د راوي پېژندل: هغه جلیل القدر صحابي أنس بن مالک الأنصاري - رضي الله عنه - دی، مور یې ام سُلیم په لس کلنی کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راووست او ورته یې وویل:

ای د الله رسوله دا انس هلک به ستا خدمت کوي، نو قبول یې کړ او دعا یې ورته وکړه.

( اللّهُمَّ أكْثِرْ مالَهُ وولَدَه وأَدْخِلْه الجنَّة ).

ژباړه: «ای الله مال او اولاد یې زیات کړه او جنت ته یې داخل کړه».

د راوي پېژندل: ډېرى حدیثونه یې روایت کړي او هغه وروستی صحابي دی چې په بصره کې وفات شوی دی، نوموړی د نبوي هجرت په درې نویم کال وفات شوی دی، رَضِيَ اللّٰهُ عنه وأرضاه.

## د لغتونو معنا:

| لغت | معنا |
|---|---|
| بَهِيمَة | څاروی |
| صَدَقَة | اجر او ثواب |

## د حديث لارښوونې:

اسلام د ونو او خرماوو په کينولو ټينګار کوي؛ ځکه چې په ونو کې ميوې، ښکلا او سيوري دي.
په کښت کې ځکه اجر دی چې انسانان، حيوانات او مرغان ترې ګټه اخلي.
مسلمان ته په کار دي چې له ونو څخه ساتنه وکړي تر دې چې ګټه ترې واخيستل شي.
د يو مسلمان لپاره د داسې ونې پرې کول چې خلکو او څارويو ته ګټه رسوي، بې ځايه کار دی.
مسلمان بايد د هرهغه عمل د ترسره کولو کوښښ وکړي چې د ثواب لامل کرځي او له هرهغه عمل څخه ځان وساتي چې له امله يې ګناهکاريږي

## ښوونکي ته:

*اسلام يو بشپړ دين دی، هرهغه څه ته پاملرنه کوي چې ژوند ته وده ورکوي، دا يوه لويه معنا ده او په کارده چې د ځوانانو په روان کې ځای ورکړل شي*
په کارده زده کوونکي پردې پوه شي چې حيوانات هم لکه د انسانانو په څېر حقونه لري.

# د بحث پوښتنې:

س۱ له «البهيمة» څخه مراد څه شی دی؟

....................................................................................................................................................

س۲ په (✓) او (×) علاموسره ځواب ورکړئ او غلطی اصلاح کړئ:

دا ښه ده چې په خپلوکورونوکې ونې وکرو ( ).

د مسلمان لپاره دا ښه کاردی چې هغه ونه پرې کړي چې خلک يې سیوري ته کيني ( ).

د ونوکېنول د ملتونوپرپرمختګ ښکارندوی کوي ( ).

س۳ - کله چې یو څوک وکوري ونه پرې کوي نو تاته څه کول په کاردي؟

....................................................................................................................................................

# فهرست

پنځمه سویه ........ ٥
لومړی لوست ........ ٧
دویم لوست ........ ١٠
دریم لوست ........ ١٢
څلورم لوست ........ ١٥
پنځم لوست ........ ١٧
شپږم لوست ........ ٢٠
اووم لوست ........ ٢٢
اتم لوست ........ ٢٥
نهم لوست ........ ٢٨
لسم لوست ........ ٣٢
یوولسم لوست ........ ٣٥
دولسم لوست ........ ٣٧
دیارلسم لوست ........ ٤١
څوارلسم لوست ........ ٤٤

| | |
|---|---|
| پنځلسم لوست | ٤٧ |
| شپاړسم لوست | ٥١ |
| اوولسم لوست | ٥٤ |
| اتلسم لوست | ٥٨ |
| نولسم لوست | ٦٠ |
| شلم لوست | ٦٣ |
| یوویشتم لوست | ٦٦ |
| دوه ویشتم لوست | ٦٩ |
| درویشتم لوست | ٧٢ |
| لومړی لوست | ٧٦ |
| دویم لوست | ٧٨ |
| دریم لوست | ٨٢ |
| څلورم لوست | ٨٧ |
| پنځم لوست | ٩٠ |
| شپږم لوست | ٩٦ |
| اووم لوست | ٩٩ |
| اتم لوست | ١٠١ |
| نهم لوست | ١٠٤ |

لســـم لوست ........ ١٠٨
یوولسم لوست ........ ١١١
دولسم لوست ........ ١١٥
دیارلسم لوست ........ ١١٧
څوارلسم لوست ........ ١١٩
پنځلسم لوست ........ ١٢٣
شپاړسم لوست ........ ١٢٨
لومړی حدیث ........ ١٣٤
دویــم حدیث ........ ١٣٨
دریــم حدیث ........ ١٤٢
څلورم حدیث ........ ١٤٦
پنځــم حدیث ........ ١٥٠
شپــږم حدیث ........ ١٥٤
اووم حدیــث ........ ١٥٨
اتـــم حدیث ........ ١٦٢
نهـــم حدیث ........ ١٦٦
لســـم حدیث ........ ١٧٠
یوولسم حدیث ........ ١٧٣

دولسم حدیث ........................................................................................................ ۱۷۷
دیارلسم حدیث ........................................................................................................ ۱۸۱
خوارلسم حدیث ........................................................................................................ ۱۸۵
پنځلسم حدیث ........................................................................................................ ۱۸۹
شپاړسم حدیث ........................................................................................................ ۱۹۳
اوولسم حدیث ........................................................................................................ ۱۹۷
اتلسم حدیــث ........................................................................................................ ۲۰۱
نولسم حدیث ........................................................................................................ ۲۰۵
شلـــم حدیث ........................................................................................................ ۲۰۹

